
نجم القرآن
د قرآن کریم اسانه ترجمه او تفسیر
ډاکټر محمد عثمان نظامی
سپاره نمبر 7

# بسم الله الرحمن الرحیم

وَإِذَا سَمِعُواْ مَآ أُنزِلَ إِلَى ٱلرَّسُولِ تَرَىٰٓ أَعۡيُنَهُمۡ تَفِيضُ مِنَ ٱلدَّمۡعِ مِمَّا عَرَفُواْ
مِنَ ٱلۡحَقِّۖ يَقُولُونَ رَبَّنَآ ءَامَنَّا فَٱكۡتُبۡنَا مَعَ ٱلشَّٰهِدِينَ ٨٣ وَمَا لَنَا لَا نُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ
وَمَا جَآءَنَا مِنَ ٱلۡحَقِّ وَنَطۡمَعُ أَن يُدۡخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلصَّٰلِحِينَ ٨٤
فَأَثَٰبَهُمُ ٱللَّهُ بِمَا قَالُواْ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ
ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٨٥

په مخکې ۸۲ آیات کې ذکر شو چې په انسانانو کې د دوستۍ او ایمان راوړلو په اعتبار سره مسلمانانو ته هغه خلک نږدې دي چې ځانونو ته نصارَیٰ یا کریسشن وايي،ځکه چې په دوی کې ځینې علما او عابدان دي.اوس د دوی د ایمان راوړلو حال بیانوي.

وَإِذَا او کله چې سَمِعُواْ دوی(یعنې د نصاراوو علما او زاهدان) واوري مَآ هغه(قرآن) أُنزِلَ چې نازل شوئ دی إِلَى ٱلرَّسُولِ پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) ته(یعنې کله چې دوی قرآنکریم اورې تَرَىٰٓ ته به ګورې أَعۡيُنَهُمۡ (چې) د دوی د سترګو تَفِيضُ بهیږی مِنَ ٱلدَّمۡعِ اوښکې مِمَّا په سبب عَرَفُواْ د پیژندلو مِنَ ٱلۡحَقِّۖ د حق (یعنې د حقیقت د پیژندلو په سبب یې د سترګو څخه اوښکې بهیږي) يَقُولُونَ (کله چې حق ورته معلوم شي نو) وايي رَبَّنَآ اي زمونږ ربه ءَامَنَّا مونږ ایمان راوړئ دی فَٱكۡتُبۡنَا نو ولیکه مونږ مَعَ ٱلشَّٰهِدِينَ د ګواهي کوونکو سره (یعنې د حق د پیژندلو سره سمدستي په داسې حال کې چې د سترګو څخه یې اوښکې بهیږي،دا کلیمه وايي

چې«اشهد ان لا اله الله و اشهد ان محمدً عبده ورسوله»او په اسلام
مشرف کيږي)۸۳

کله چې دوی ايمان راوړي،کافران ورته وايي چې تاسو ولې د پلار او
نيکونو دين پريږدئ او اسلام قبلوئ؟نو دوی وايي چې:مونږ ته د قرآن په
اوريدلو سره حقيقت معلوم شو،نور نو مونږ هيڅ عذر نلرو چې په الله
تعالی،نبي عليه السلام او قرآنکريم باندې ايمان را نوړو،او مونږ خو د الله
تعالی څخه جنت ته تلل غواړو،حال دا چې جنت ته د تللو لار خو صرف
د اسلم لار ده.

وَمَا لَنَا (او وايي) چې مونږ څه عذر لرو(يعني هيڅ عذر نلرو) لَا
نُؤْمِنُ چې ايمان به نه راوړو بِٱللَّهِ په الله تعالی باندې وَمَا او هغه
څه جَآءَنَا چې راغلي دي مونږ ته مِنَ ٱلْحَقِّ د حق څخه وَنَطْمَعُ
او مونږ طمع لرو أَن چې يُدْخِلَنَا داخل کړی مونږ رَبُّنَا رب
زمونږ مَعَ ٱلْقَوْمِ ٱلصَّـٰلِحِينَ د نيکانو خلکو سره(جنت ته) ۸۴

فَأَثَـٰبَهُمُ نو بدل به ورکړي دوی ته ٱللَّهُ الله تعالی بِمَا په سبب د
هغه څه قَالُوا۟ چې دوی وايي(چې مونږ په الله تعالی،نبي عليه السلام
او قرآن باندې ايمان راوړئ دی، جَنَّـٰتٍ جنت(يعنی د ايمان راوړلو
په بدل کې به الله تعالی جنت ورکړي) تَجْرِى چې بهيږي به مِن
تَحْتِهَا لاندې د هغه(جنت) ٱلْأَنْهَـٰرُ ويالې(د اوبو،شدو،شاتو او شرابو)
خَـٰلِدِينَ فِيهَا ۚ هميشه به وي په هغه(جنت)کې وَذَٰلِكَ او دا جَزَآءُ
بدل دی ٱلْمُحْسِنِينَ د نيکانو ۸۵

يعني د دې ايمان راوړلو په بدل کې به الله تعالی د هميشه دپاره داسې
جنت ورکړي چې د هغې لاندې به د اوبو،شاتو،شرابو او شدو ويالې
بهيږي،او هميشه ژوند او ځواني به وي)

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَـٰتِنَآ أُوْلَـٰٓئِكَ أَصْحَـٰبُ ٱلْجَحِيمِ ٨٦

وَٱلَّذِينَ او هغه (خلکو) كَفَرُواْ چې انکار يې وکړو وَكَذَّبُواْ او
دروغ يې ويلي دي بِـَٔايَـٰتِنَآ زمونږ په آياتونو باندې أُوْلَـٰٓئِكَ
دغه(خلک) أَصْحَـٰبُ ٱلْجَحِيمِ جهنميان دي. ٨٦

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُحَرِّمُواْ طَيِّبَـٰتِ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوٓاْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا
يُحِبُّ ٱلْمُعْتَدِينَ ٨٧

یو وخت ځينو صحابه کرامو مشوره وکړه چې:نکاح به نه کوو،غوښه او غوړي به نه خورو،ځانونه به خصيان کړو،په دنيا کې به زهد او عبادت کوو او د آخرت سره به مينه کوو،د هغې پورې چې مرګ راشي او آخرت مو ښه شي.نو دا آيت نازل شو.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ اى مؤمنانو لَا تُحَرِّمُواْ مه حراموئ(په ځان)
طَيِّبَـٰتِ پاک(شيان) مَآ هغه چې أَحَلَّ حلال کړي دي ٱللَّهُ الله
تعالى لَكُمْ تاسو ته وَلَا تَعْتَدُوٓاْ ۚ او تيرئ مه کوئ(د حدودو نه) إِنَّ
ٱللَّهَ بيشکه الله تعالى لَا يُحِبُّ نه خوښوي ٱلْمُعْتَدِينَ تيري کوونکې.
٨٧

وَكُلُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ حَلَـٰلًا طَيِّبًا ۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِىٓ أَنتُم بِهِۦ مُؤْمِنُونَ ٨٨

وَكُلُواْ او خورئ مِمَّا د هغو(شيانو نه) رَزَقَكُمُ چې درکړي دي
تاسو ته ٱللَّهُ الله تعالى حَلَـٰلًا حلال طَيِّبًا ۚ (او) پاک وَٱتَّقُواْ او
وويريږئ ٱللَّهَ د الله تعالى نه ٱلَّذِىٓ هغه(ذات) أَنتُم چې تاسو
بِهِۦ په هغه باندې مُؤْمِنُونَ ايمان راوړئ دى. ٨٨

لَا يُؤَاخِذُكُمُ ٱللَّهُ بِٱللَّغْوِ فِىٓ أَيْمَـٰنِكُمْ وَلَـٰكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا عَقَّدتُّمُ ٱلْأَيْمَـٰنَ ۖ
فَكَفَّـٰرَتُهُۥٓ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَـٰكِينَ مِنْ أَوْسَطِ مَا تُطْعِمُونَ أَهْلِيكُمْ أَوْ كِسْوَتُهُمْ أَوْ

تَحۡرِيرُ رَقَبَةٖۖ فَمَن لَّمۡ يَجِدۡ فَصِيَامُ ثَلَٰثَةِ أَيَّامٖۚ ذَٰلِكَ كَفَّٰرَةُ أَيۡمَٰنِكُمۡ إِذَا حَلَفۡتُمۡۚ وَٱحۡفَظُوٓاْ أَيۡمَٰنَكُمۡۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ٨٩)

لَا يُؤَاخِذُكُمُ ٱللَّهُ الله تعالی تاسو نه نیسي بِٱللَّغۡوِ فِيٓ أَيۡمَٰنِكُمۡ ستاسو په غیرې ارادي قسمونو سره(یعني داسې قسمونه چې د سړي نیت او اراده د قسم خوړلو نه وي خو عادتاً یې د تکیه کلام په شکل د خولې څخه وځې لکه په خبرو کې د سړي د خولې نه وځې چې:والله که ډوډۍ وخورم،والله که بازار ته لاړ شم،والله که سبق ووایم،نو د داسې عادتي قسمونو په ماتولو الله بنده نه نیسي،یعني د قسم په ماتولو باندې په سړي کفاره نشته دی) وَلَٰكِن يُؤَاخِذُكُم لیکن الله تعالی نیسي تاسو بِمَا په هغو قسمونو باندې عَقَّدتُّمُ ٱلۡأَيۡمَٰنَۖ چې تاسو د زړه نه په ارادې ډول خوړلې وي(نو که څوک داسې قسم چې دزړه نه یې د پوهې سره په ارادې ډول کړې وي،او مات یې کړي) فَكَفَّٰرَتُهُۥٓ نو د هغه کفاره به ورکوي(یعني د قسم د ماتولو کفاره به ورکوي،کفاره یې په دې ډول ده چې:) إِطۡعَامُ عَشَرَةِ مَسَٰكِينَ خوراک ورکول دي لس مسکینانو ته مِنۡ أَوۡسَطِ مَا تُطۡعِمُونَ أَهۡلِيكُمۡ د هغه متوسط خوراک نه چې تاسو یې په خپلو اولادونو خورئ(یعني نه ډېر زیات قیمتي خوراک او نه دومره خراب چې تاسو یې پخپله هم نه خورئ،بلکې کوم درمیانه خوراک چې تاسو یې په خپلو اولادونو خورئ)

أَوۡ كِسۡوَتُهُمۡ یا دوی ته (یعني لس مسکینانو ته) لباس ورکول دي أَوۡ تَحۡرِيرُ رَقَبَةٖۖ یا د یو غلام یا وینځې ازادول دي فَمَن لَّمۡ يَجِدۡ او څوک چې طاقت نلري(چې یا لس مسکینانو ته خوراک ورکړي،یا ورته لباس یا جامې ورکړي،یا غلام ازاد کړي) فَصِيَامُ ثَلَٰثَةِ أَيَّامٖۚ نو درې ورځې روژې نیول دي(یعني که یو شي ته ئې هم وسه نه کیږي نو درې روژې

دي ونيسي) ذَٰلِكَ كَفَّـٰرَةُ أَيْمَـٰنِكُمْ إِذَا حَلَفْتُمْ ۚ دا ستاسو د قسمونو دپاره کفاره ده کله چې تاسو قسم وخورئ (او بيا يې ماتوئ) وَٱحْفَظُوٓا۟ أَيْمَـٰنَكُمْ ۚ او د خپلو قسمونو حفاظت کوئ(يعني کله چې په کومه معامله کې قسم وخورئ نو هغه پوره کوئ،او که د کوم سبب په اساس د قسم د ماتولو ضرورت شي نو د ماتولو کفاره يې ورکوئ) كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمْ ءَايَـٰتِهِۦ همدارنګه الله تعالی تاسو ته خپل احکام بيانوي لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ د دې دپاره چې تاسو شکر وکړئ. ۸۹

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِنَّمَا ٱلْخَمْرُ وَٱلْمَيْسِرُ وَٱلْأَنصَابُ وَٱلْأَزْلَـٰمُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ ٱلشَّيْطَـٰنِ فَٱجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ٩٠

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ اې مؤمنانو إِنَّمَا ٱلْخَمْرُ بېشکه شراب(يعني شراب څکل) وَٱلْمَيْسِرُ او جواري(يعني جواري کول) وَٱلْأَنصَابُ او بتان(يعني د بتانو عبادت کول) وَٱلْأَزْلَـٰمُ او غشي(يعني د فال په غشو قسمت معلومول) رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ ٱلشَّيْطَـٰنِ د شيطاني عمل څخه ناپاک کارونه دي فَٱجْتَنِبُوهُ نو ځانونه ورڅخه وساتئ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ د دې دپاره چې کامياب شئ. ۹۰

إِنَّمَا يُرِيدُ ٱلشَّيْطَـٰنُ أَن يُوقِعَ بَيْنَكُمُ ٱلْعَدَٰوَةَ وَٱلْبَغْضَآءَ فِى ٱلْخَمْرِ وَٱلْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ وَعَنِ ٱلصَّلَوٰةِ ۖ فَهَلْ أَنتُم مُّنتَهُونَ ٩١

إِنَّمَا يُرِيدُ ٱلشَّيْطَـٰنُ بېشکه چې شيطان غواړي أَن يُوقِعَ بَيْنَكُمُ ٱلْعَدَٰوَةَ وَٱلْبَغْضَآءَ چې ستاسو په منځ کې دښمني او کينه واچوي فِى ٱلْخَمْرِ وَٱلْمَيْسِرِ د شرابو د څکلو او د جوارۍ په کولو سره وَيَصُدَّكُمْ عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ وَعَنِ ٱلصَّلَوٰةِ ۖ او د الله تعالی د ذکر او لمانځه څخه مو منع کړي(يعني شيطان د شرابو د څکلو او د جوارۍ د کولو پواسطه ستاسو په منځ دښمني او کينه پيدا کوي او بل مو د الله تعالی د ذکر او لمونځ څخه

منع کوي) فَهَلْ أَنتُم مُّنتَهُونَ نو آیا تاسو (د شرابو او جوارۍ
څخه)منع کیدونکي یئ؟ (یعني د شرابو او جوارۍ د دومره ضرر او
نقصان سره-سره اوس هم د شرابو او جوارۍ څخه منع کیږئ او که نه؟او
که د بل حکم انتظار کوئ؟نو عمر رضی الله عنه او نورو صحابه کرامو
وویل چې:اي الله مونږ منع شو.) ۹۱

وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَٱحْذَرُواْۚ فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّمَا عَلَىٰ
رَسُولِنَا ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ ۹۲

وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ او دالله تعالی اطاعت کوئ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ او د
پیغمبر«صلی الله علیه وسلم» اطاعت کوئ وَٱحْذَرُواْۚ او(د الله او د
رسول د نافرمانۍ څخه) ځانونه ساتئ فَإِن تَوَلَّيْتُمْ او که چیرته تاسو
وګرځئ(یعني د الله او د رسول نافرماني وکړئ) فَٱعْلَمُوٓاْ نو پوه شئ
أَنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ بېشکه چې زمونږ په پیغمبر«صلی الله
علیه دسلم» باندې(انسانانو ته صرف زمونو د پیغام) ښکاره رسول
دي(یعني د پیغمبر مسؤلیت خلکو ته د الله تعالی پیغام رسول دي نور که د
الله تعالی پیغام مني او که نه،ایمان راوړي او که نه،او د الله تعالی د
احکامو نافرماني ،نو نوره معامله د الله تعالی او بنده تر منځ ده) ۹۲

لَيْسَ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوٓاْ إِذَا مَا ٱتَّقَواْ
وَّءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ثُمَّ ٱتَّقَواْ وَّءَامَنُواْ ثُمَّ ٱتَّقَواْ وَّأَحْسَنُواْۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ
ٱلْمُحْسِنِينَ ۹۳

کله چې جوارې او شراب په قطعي ډول حرام شو نو د ځینو مسلمانانو
سره تشویش پیدا شو چې: مونږ چې د دې حکم د راتلو څخه مخکې

شراب څکلي دي او د جوارۍ مال مو خوړلئ دی هغه به څنګه کيږي او خصوصاً هغه صحابه کرام رضی الله عنهم چې د شرابو او جوارۍ د حُرمت د حکم د نازليدلو نه مخکې وفات يا شهيدان شوي دي،د هغو سره به څه معامله کيږي،نو دا آيت نازل شو!

لَيْسَ عَلَى ٱلَّذِينَ نشته په هغو خلکو باندې ءَامَنُواْ چې ايمان يې راوړئ دی وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ او نيک اعمال يې کړي دي جُنَاحٌ هيڅ ګناه(يعني هغه خلک چې د شرابو او جوارۍ د حراموالي د حکم څخه يې مخکې ايمان راوړئ دی او نيک عملونه يې کړي دي،په دوی باندې هيڅ ګناه نشته) فِيمَا په هغې(شرابو او د جوارۍ په مال)کې طَعِمُوٓاْ چې دوی خوړلې او څکلي دي(يعني کومو مسلمانانو چې د شرابو او جوارۍ د حراموالي د حکم څخه مخکې شراب او د جوارۍ مال خوړلئ دی ،ګنهګار نه دی) إِذَا مَا ٱتَّقَواْ (خو په دې شرط چې د دې حکم نه وروسته) د شرابو او جوارۍ څخه ځانونه وساتي وَّءَامَنُواْ او په ايمان کلک ولاړ وي وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ او نيک عملونه کوي ثُمَّ ٱتَّقَواْ بيا (که وروسته هم د هرشي څخه د منع کيدو حکم ورته راځي) ځانونه ورڅخه ساتي وَّءَامَنُواْ او(د الله تعالی حکم) مني(يعني د الله په حکم ايمان لري) ثُمَّ ٱتَّقَواْ بيا(د دې نه وروسته د شبهاتو نه هم)ځانونه ساتي وَّأَحْسَنُواْۗ او (د خلکو سره) احسان (او نيکې) کوي وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ او الله تعالی نيکې کوونکي خوښوي. ٩٣

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَيَبْلُوَنَّكُمُ ٱللَّهُ بِشَيْءٍ مِّنَ ٱلصَّيْدِ تَنَالُهُۥٓ أَيْدِيكُمْ وَرِمَاحُكُمْ لِيَعْلَمَ ٱللَّهُ مَن يَخَافُهُۥ بِٱلْغَيْبِۚ فَمَنِ ٱعْتَدَىٰ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَلَهُۥ عَذَابٌ أَلِيمٌ ٩٤

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ای مؤمنانو لَيَبْلُوَنَّكُمُ ٱللَّهُ خامخا الله تعالی تاسو امتحانوي بِشَيْءٍ مِّنَ ٱلصَّيْدِ په څه شي د ښکار باندې تَنَالُهُۥٓ چې

رسیږي به هغې(ښکار ته) أَيْدِيكُمْ لاسونه ستاسو وَرِمَاحُكُمْ او نیزې ستاسو(یعنی الله تعالی تاسو په داسې ښکار سره امتحانوي چې تاسو یې په لاسونو هم رانیولای شئ لکه بچي او په نیزو یې هم ویشتلای شئ لکه وسی‌او هوسی ) لِيَعْلَمَ ٱللَّهُ دا د دې دپاره چې الله تعالی ښکاره کړي مَن يَخَافُهُۥ بِٱلْغَيْبِ ۚ هغه څوک چې دالله تعالی څخه غایبانه ویریږي(یعنی الله تعالی یې لیدلای نه دی خو د هغه جل جلاله د ویرې غلط کار نه کوي او حکم یې مني) فَمَنِ خو که څوک ٱعْتَدَىٰ تیرئ وکړي بَعْدَ ذَٰلِكَ وروسته د دې څخه(یعنې د دې حکم نه وروسته) فَلَهُۥ نو هغه ته عَذَابٌ أَلِيمٌ دردناک عذاب دی. ٩٤

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَقْتُلُوا۟ ٱلصَّيْدَ وَأَنتُمْ حُرُمٌ ۚ وَمَن قَتَلَهُۥ مِنكُم مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآءٌ مِّثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ ٱلنَّعَمِ يَحْكُمُ بِهِۦ ذَوَا عَدْلٍ مِّنكُمْ هَدْيًۢا بَـٰلِغَ ٱلْكَعْبَةِ أَوْ كَفَّـٰرَةٌ طَعَامُ مَسَـٰكِينَ أَوْ عَدْلُ ذَٰلِكَ صِيَامًا لِّيَذُوقَ وَبَالَ أَمْرِهِۦ ۗ عَفَا ٱللَّهُ عَمَّا سَلَفَ ۚ وَمَنْ عَادَ فَيَنتَقِمُ ٱللَّهُ مِنْهُ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ ذُو ٱنتِقَامٍ ٩٥

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ای هغو خلکو چې ایمان یې راوړئ دی(یعني ای مؤمنانو) لَا تَقْتُلُوا۟ مه وژنئ ٱلصَّيْدَ ښکار وَأَنتُمْ حُرُمٌ ۚ په داسې حال کې چې تاسو په احرام کې یئ(یعني د احرام په حال کې ښکار مه وژنئ) وَمَن او چا چې قَتَلَهُۥ ووژلو هغه(یعني ښکار) مِنكُم ستاسو څخه مُّتَعَمِّدًا قصداً(یعني که ستاسو د جملې څخه د احرام په حالت کې چا قصداً ښکار ووژلو) فَجَزَآءٌ نو بدل یې مِّثْلُ په شان مَا د هغه حیوان دی قَتَلَ چې هغه(یعني ښکاري) قتل کړئ دی(یعني هغه حیوان چې د احرام په حال کې چا وژلئ دی) مِنَ ٱلنَّعَمِ د(نورو) څارویوو نه(یعني د وژل شوي ښکاري حیوان په بدل کې به د نورو څارویوو څخه چې ارزښت او قیمت یې د وژل شوی ښکاري حیوان سره

برابر وي،په حرم کې قرباني کيږي او غوښې به يې مسکينان خوري)
يَحۡكُمُ حکم به کوي بِهِۦ په دې باندې ذَوَا عَدۡلٖ دوه انصاف والا
کسان مِّنكُمۡ د ستاسو ځينې(يعنې دافيصله چې د وژل شوي حيوان
سره کوم څاروی په ارزښت او قيمت کې برابر دی،نو دا فيصله به دوه
تجربه کار او انصاف والا کسان کوي،ځکه چې هغوی ته هر څه معلوم
وي مثلاً د شترمرغ برابر اوښ دي،او د ځنګلي غوا برابره کورنۍ غوا
ده او د هوسۍ برابره چيلۍ ده) هَدۡيَۢا بَٰلِغَ ٱلۡكَعۡبَةِ دا قرباني به کعبې ته
رسول کيږي أَوۡ يا (د ده په غاړه) كَفَّٰرَةٞ کفاره ده طَعَامُ مَسَٰكِينَ
(چې) مسکينانو ته خوراک ورکول دي أَوۡ يا عَدۡلُ ذَٰلِكَ د دې
برابر صِيَامٗا روژې نيول دي(دا فيصله به هم دوه باتجربه،باانصافه
او عادل کسان کوي چې د کوم ښکارې حيوان د وژلو په بدل کې څومره
مسکينانو ته خوراک ورکړي او يا څومره روژې ونيسي) لِّيَذُوقَ د
دې دپاره چې دوی وڅکي وَبَالَ سزا أَمۡرِهِۦۗ د کار خپل(يعنې دا
قرباني،مسکينانو ته خوراک ورکول يا روژې نيول د دې دپاره دي چې
دوی د خپل عمل سزا وګوري) عَفَا عفوه کړي ده ٱللَّهُ الله تعالی
عَمَّا د هغه څه نه سَلَفَۚ چې مخکې شوي دي(يعنې د دې حکم نه
مخکې چې چا د احرام په حال کې ښکارې حيوانات وژلي دي هغوی ته
الله تعالی بخښنه کړې ده) وَمَنۡ عَادَ او څوک چې بيا راوګرځي(يعنې
که څوک وروسته د دې حکم څخه هم د احرام په حال کې د ښکارې
حيوان وژل حلال وګڼي) فَيَنتَقِمُ ٱللَّهُ مِنۡهُۚ نو الله تعالی به د هغه نه انتقام
واخلي وَٱللَّهُ عَزِيزٞ او الله تعالی ډېر زورور ذُو ٱنتِقَامٍ انتقام والا دی
٩٥

أُحِلَّ لَكُمۡ صَيۡدُ ٱلۡبَحۡرِ وَطَعَامُهُۥ مَتَٰعٗا لَّكُمۡ وَلِلسَّيَّارَةِۖ وَحُرِّمَ عَلَيۡكُمۡ صَيۡدُ ٱلۡبَرِّ مَا
دُمۡتُمۡ حُرُمٗاۗ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِيٓ إِلَيۡهِ تُحۡشَرُونَ ٩٦ ۝

أُحِلَّ حلال شوي دي لَكُمْ تاسو ته صَيْدُ ښکار ٱلْبَحْرِ د بحر وَطَعَامُهُۥ او خواړه د هغه(یعني او خواړه د بحر حلال شوي دي ) مَتَٰعًا لَّكُمْ ستاسو د فایدي دپاره وَلِلسَّيَّارَةِ ۖ او د قافلې د خلکو(د فایدې دپاره،یعني د احرام په حال کې تاسو ته بحرې ښکار او هغه بحرې شیان چې مړه شوي وي او بحر یې د چپو پواسطه غاړې ته راوباسي،خوراک یې تاسو ته حلال دی ) وَحُرِّمَ او حرام شوي دي عَلَيْكُمْ په تاسو باندې صَيْدُ ښکار ٱلْبَرِّ د وچې مَا دُمْتُمْ د هغې پورې چې یئ تاسو حُرُمًا ۗ په احرام کې یئ(یعني د هغې پورې چې په احرام کې یاستئ د وچې ښکار کول درباندې حرام دي) وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ او د الله تعالی څخه وویریږئ ٱلَّذِىٓ هغه ذات إِلَيْهِ چې هغه جل جلاله ته تُحْشَرُونَ تاسو ورټولیږئ. ٩٦ ۞

جَعَلَ ٱللَّهُ ٱلْكَعْبَةَ ٱلْبَيْتَ ٱلْحَرَامَ قِيَٰمًا لِّلنَّاسِ وَٱلشَّهْرَ ٱلْحَرَامَ وَٱلْهَدْىَ وَٱلْقَلَٰٓئِدَ ۚ ذَٰلِكَ لِتَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ وَأَنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ٩٧

جَعَلَ ګرځولې ده ٱللَّهُ الله تعالی ٱلْكَعْبَةَ کعبه ٱلْبَيْتَ ٱلْحَرَامَ چې د عزت کور دی قِيَٰمًا سبب د قیام لِّلنَّاسِ د انسانانو دپاره(یعني کعبه چې د عزت کور دی الله تعالی د انسانانو دپاره د قیام سبب ګرځولې ده،یعني د ژوند او دین نظام یې په دې ولاړ دی،په دې ځای کې یوه ډېره مهمه اشاره دې خبرې ته ده چې: ترڅو پورې چې کعبه د ځمکې په مخ وي نو دنیا به نه فناه کیږي) وَٱلشَّهْرَ ٱلْحَرَامَ او دعزت میاشت وَٱلْهَدْىَ او د حرم قرباني وَٱلْقَلَٰٓئِدَ ۚ او امیل والا څاروي(یعني د عزت میاشت،د حرم قرباني او هغه څاروي چې امیلونه ورته غاړو کې اچول شوي او حرم ته د قربانۍ دپاره روان وي، دا هم د

انسانانو دپاره د قیام سبب دی) ذَٰلِكَ لِتَعْلَمُوٓاْ دا د دې دپاره چې تاسو پوه شئ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ چې بېشکه الله تعالی پوهیږي مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ په هغه څه چې په آسمانونو کې دي وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ او په هغه څه چې په ځمکه کې دي وَأَنَّ ٱللَّهَ او بېشکه چې الله تعالی بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ په هر شي باندې ښه پوه دی. ۹۷

ٱعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ وَأَنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ۹۸

ٱعْلَمُوٓاْ او پوه شئ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ چې بېشکه الله تعالی ډېر سخت عذاب والا دی وَأَنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ او بېشکه چې الله تعالی ډېر بخښونکئ (او)بې حده مهربان دی. ۹۸

مَّا عَلَى ٱلرَّسُولِ إِلَّا ٱلْبَلَٰغُ ۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا تَكْتُمُونَ ۹۹

مَّا عَلَى ٱلرَّسُولِ په پیغمبر«صلی الله علیه وسلم» باندې نشته إِلَّا ٱلْبَلَٰغُ ۗ مګر رسول(د حق)دي وَٱللَّهُ يَعْلَمُ او الله تعالی پوهیږي مَا تُبْدُونَ په هغه څه چې تاسو يې ښکاره کوئ وَمَا تَكْتُمُونَ او په هغه څه چې تاسو يې پټوئ. ۹۹

قُل لَّا يَسْتَوِى ٱلْخَبِيثُ وَٱلطَّيِّبُ وَلَوْ أَعْجَبَكَ كَثْرَةُ ٱلْخَبِيثِ ۚ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ يَٰٓأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ۱۰۰

قُل ته ووايه لَّا يَسْتَوِى نه دي برابر ٱلْخَبِيثُ وَٱلطَّيِّبُ ناپاک او پاک وَلَوْ أَعْجَبَكَ كَثْرَةُ ٱلْخَبِيثِ ۚ اګر که تا د ناپاکو ډېروالی په تعجب کې واچوي فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ يَٰٓأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ نو ای د خالص عقل خاوندانو!د الله تعالی نه ووېرېږئ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ د دې دپاره چې کامیاب شئ ۱۰۰

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَسْـَٔلُوا۟ عَنْ أَشْيَآءَ إِن تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ وَإِن تَسْـَٔلُوا۟ عَنْهَا حِينَ يُنَزَّلُ ٱلْقُرْءَانُ تُبْدَ لَكُمْ عَفَا ٱللَّهُ عَنْهَا ۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ ۱۰۱

اوس د بي ځایه او بي فایدې پوښتنو څخه منعه شوي ده،لکه چې یوه ورځ
د نبي علیه السلام څخه ځینې صحابه کرامو رضی الله عنهم کړي وي
،عبدالله بن حذیفه رضی الله عنه پوښتنه وکړه چې یا رسول الله زما پلار
څوک دی؟نو ورته ئې وفرمایل: چې حذافه،بیا بل تن پاڅیدو چې زما پلار
څوک دی؟ورته ئې وفرمایل: چې فلانی،بل وویل چې زما پلار چرته
دی؟نبی علیه السلام ورته وفرمایل:چې په اور کې دی،بل وویل چې زه به
چرته ځم؟ورته ئې وفرمایل:الی النار یعني اور ته به ځې........

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ای هغو خلکو چې ایمان یې راوړئ دی(یعني ای
مؤمنانو) لَا تَسْـَٔلُواْ عَنْ أَشْيَآءَ د داسې شیانو په باره کې پوښتنې مه
کوئ إِن تُبْدَ لَكُمْ که چیرته تاسو ته ښکاره شي(جواب دهغو) تَسُؤْكُمْ
خفه به کړي تاسو(هغه جوابونه) وَإِن تَسْـَٔلُواْ او که پوښتنه وکړئ
عَنْهَا د هغې(شیانو) په باره کې حِينَ يُنَزَّلُ ٱلْقُرْءَانُ د قرآن د نازلیدلو
په وخت کې(یعني چې وحې راځې نو) تُبْدَ لَكُمْ ښکاره به شي تاسو ته
عَفَا ٱللَّهُ عَنْهَا ۗ الله تعالی( تاسو ته د تیرو سوالونو)عفوه کړي ده وَٱللَّهُ
غَفُورٌ حَلِيمٌ او الله تعالی ډیر بخښونکئ.تحمل والا دی ۱۰۱

قَدْ سَأَلَهَا قَوْمٌ مِّن قَبْلِكُمْ ثُمَّ أَصْبَحُواْ بِهَا كَـٰفِرِينَ ۱۰۲

قَدْ یقیناً سَأَلَهَا دغه ډول پوښتنې کړي وي قَوْمٌ یو قوم مِّن
قَبْلِكُمْ مخکې د ستاسو څخه(یعني ستاسو څخه مخکې یو قوم همدا ډول
پوښتنې کړي وي) ثُمَّ بیا أَصْبَحُواْ شو هغوی بِهَا په سبب د دې
(پوښتنو) كَـٰفِرِينَ کافران(یعني بیا هغه خلک د همدې پوښتنو له امله په
کفر کې اخته شول) ۱۰۲

مَا جَعَلَ ٱللَّهُ مِنۢ بَحِيرَةٍ وَلَا سَآئِبَةٍ وَلَا وَصِيلَةٍ وَلَا حَامٍ ۙ وَلَـٰكِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ
يَفْتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ ۖ وَأَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ۱۰۳

په آیت دپوهیدو دپاره یو څه معلومات ته توجه وکړئ.

د جاهلیت په زمانه کې عربو په ځانونو باندې ځینې ښاروي حرام کړي و،یعنې نه به یې د هغوی غوښې خوړلې،نه به وربانديې سوریدل نه به یې د هغوی شیده خوړل او نه به یې بله کومه استفاده ورڅخه کوله،بلکې د بتانو په نامه به یې نذر کول او د هغوی په نوم به یې ازاد پریښودل،هر چیرته به یې چې خوښه وه هلته به ګرځیدل،هر چیرته به یې خوراک او اوبه څښلې او چا به هیڅ ورته نه ویلې.چې د څلور قسمونو نومونه په دې مبارک آیت کې ذکر شوي دي.په دې باره کې ډېر اقوال دي خو مونږ دلته د جلیل القدر تابعي حضرت سعید بن مسیّب رحمةالله علیه هغه الفاظ چې په صحیح بخاري(کتاب تفسیر القرآن) کې دي،ذکر کوو.اول-بحیرا-هغه ښاروي چې د هغه شیده د بتانو په نوم نذر شوي او هیڅوک ورڅخه استفاده نه کوي.دوهم-سائبه -هغه ښاروي چې د بتانو په نوم به ازاد پریښودل کیدل.دریم-وصیله-هغې ښځې اوښې ته ویل کیدله چې په دوامدار ډول به یې ښځې بچې زیږول او نر به پکې نه و نو دا به هم د بتانو په نوم ازاده پریښودل کیدله.څلورم-حام-دا به یې هغه اوښ ته ویلې چې په یو خاص تعداد ښځو اوښانو به ورڅخه بچې راوړې و،نو دا اوښ به هم د بتانو په نوم پریښودل کیدلو،لکه چې مخکې ذکر شو،نوموړې حیوانات به د بتانو په نوم پریښودل کیدل،نه به یې چا شیدې او غوښې خوړلې او نه به یې نوره ګټه ورڅخه اخستله،هر چیرته به ګرځیدل،هر ځای به یې خوراک کولو او چا به هیڅ ورته نه ویل. نو الله تعالی فرمایي!

مَا جَعَلَ ٱللَّهُ نه ده ټاکلې الله تعالی مِنۢ بَحِيرَةٍ کومه بحیره وَلَا سَآئِبَةٍ او نه سائبه وَلَا وَصِيلَةٍ او نه وسیله وَلَا حَامٍ ۙ او نه

حام(يعنې دا د الله تعالی د طرف څخه نه دي بلکې دا شريعت دوی په خپله جوړ کړی دی او حلال شيان يې په ځان حرام کړي دي) وَلَـٰكِنَّ ليکن ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ هغه خلک چې کافران دي يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَۖ هغوی په الله تعالی باندې دروغ جوړوي(يعنې دوی دروغ وايې چې د دې مشرکانه اعمالو پواسطه مونږ الله تعالی ته نزدې کيږو بلکې په دې اعمالو به يې الله تعالی رانيسې او جزا به ورکوي،لکه اوس هم ځينې خلک د زيارتونو ،پيرانو او بتانو په نوم حيوانات نذر کوي،د پيرانو دربارونو ته يې وروړي ، او فکر کوي چې پير يا بت به مې الله ته نزدې کړي،خو داسې نه ده د همدې نذرونو په سبب به يې الله تعالی راونيسې او جزا به ورکړي،او نه به يې بيا پير او نه بت د الله تعالی د عذاب څخه خلاص کړي) وَأَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ او اکثره د دوی بې عقله دي. ١٠٣

وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَإِلَى ٱلرَّسُولِ قَالُواْ حَسۡبُنَا مَا وَجَدۡنَا عَلَيۡهِ ءَابَآءَنَآۚ أَوَلَوۡ كَانَ ءَابَآؤُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ شَيۡـًٔا وَلَا يَهۡتَدُونَ ١٠٤

وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ او کله چې دوی ته وويل شي تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ چې راشئ هغه(کتاب)ته چې الله تعالی نازل کړئ دی وَإِلَى ٱلرَّسُولِ او پيغمبر«صلی الله عليه وسلم) ته(يعنې کله چې دوی ته وويل شي چې راشئ د الله تعالی کتاب او سنت ومنئ ځکه چې د غيرالله په نوم نذرونه د قرآن او سنتو خلاف او حرام دي) قَالُواْ (نو)دوی وايې حَسۡبُنَا مونږ ته کافي(او بس)دي مَا هغه څه وَجَدۡنَا چې مونږ ليدلي دي عَلَيۡهِ په هغې باندې ءَابَآءَنَآۚ پلرونه خپل(يعنې زمونږ دپاره زمونږ د پلرونو لار بس ده،ځکه چې د نذرونو په سبب به پيران او بابا ګان خوشاله شي نو الله ته به زمونږ سفارش وکړي او جنت ته به لاړ شو، الله تعالی فرمايې) أَوَلَوۡ او آيا که چيرته كَانَ ءَابَآؤُهُمۡ د دوی پلرونه(داسې)وو

لَا يَعۡلَمُونَ شَيۡٔٗا چي په هيڅ شي نه پوهيدل وَلَا يَهۡتَدُونَ او نه په سمه لار وو؟(يعني آيا که چيرته د دوی پلورونه د قرآن او سنتو څخه خبر نه و، د سمې لارې نه گمراه و ،او د گمراهۍ په سبب يې دغيرالله نذرونه منل،نو ايا دوی بيا هم د هغوی پيروي کوي؟) ١٠٤

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ عَلَيۡكُمۡ أَنفُسَكُمۡۖ لَا يَضُرُّكُم مَّن ضَلَّ إِذَا ٱهۡتَدَيۡتُمۡۚ إِلَى ٱللَّهِ مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيعٗا فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ١٠٥

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ای هغو خلکو چي ايمان يې راوړی دی(يعني ای مؤمنانو) عَلَيۡكُمۡ أَنفُسَكُمۡۖ د خپلو ځانونو حفاظت کوئ(يعنې په خپلو منځونو کې امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوئ،د پلرونو اونيکونو غلطه او ړنده پيروي مه کوئ،د غيرالله په نوم نذرونه مه ورکوئ،د قرآن او سنتو خلاف د گمراه پيرانو،ملايانو او منجاروانو دربارونو ته څاروي او نور نذرونه مه وروړئ،ځکه چې) لَا يَضُرُّكُم ضرر نه شي رسولای تاسو ته مَّن ضَلَّ هغه څوک چې گمراه شوي دي(د قرآن او سنتو د سمې لارې نه) إِذَا (خو په دې شرط) کله چې ٱهۡتَدَيۡتُمۡۚ تاسو په سمه لار يئ(يعنې نه به مو دا گمراهان پيران او منجاوران دوکه کړي،او نه به مو د پلار او نيکه غلطې طريقې د سمې لارې څخه بې لارې کړي، خو په دې شرط که چيرته تاسو په قرآن او سنتو منگولې ولگوئ،د قرآن حقه لاره ونيسئ او امربالمعروف او نهي عن المنکر کوئ) إِلَى ٱللَّهِ الله تعالی ته مَرۡجِعُكُمۡ ورگرځېدل دي(ورتلل دي) ستاسو جَمِيعٗا ټولو فَيُنَبِّئُكُم نو بيا به هغه«جل جلاله) خبر کړي تاسو بِمَا په هغو(اعمالو)باندې كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ چې تاسو (په دنيا کې)کول.(يعني ستاسو ټولو ورتگ د الله تعالی حضور ته دی،الله تعالی به ستاسو ټول اعمال ستاسو مخې ته حاضرکړي،تاسو به وگورئ چې په دنيا کې تاسو د

الله تعالی نه پرته د بل چا په نوم نذرونه منلې او ورکړې مو و،او تاسو عقیده لرله چې ګڼې دا ګمراه پیران به مونږ الله ته نزدې کړي او جنت ته به مو بوځي،بلکې وبه ګورئ چې معامله ستاسو د طمعې سرچپه ده،د الله د رحمت څخه به نور هم لرې شوي یاست،اعمال به مو د مشرکانو کړي وي،او د ګمراهانو پیرانو او منجاورانو سره به یو ځای دوزخ ته روان یاستئ،او دا ګمراهان مشران به نه ځانونه خلاصولای شي او نه تاسو.)

١٠٥

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ شَهَـٰدَةُ بَيْنِكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ ٱلْمَوْتُ حِينَ ٱلْوَصِيَّةِ ٱثْنَانِ ذَوَا عَدْلٍ مِّنكُمْ أَوْ ءَاخَرَانِ مِنْ غَيْرِكُمْ إِنْ أَنتُمْ ضَرَبْتُمْ فِى ٱلْأَرْضِ فَأَصَـٰبَتْكُم مُّصِيبَةُ ٱلْمَوْتِ ۚ تَحْبِسُونَهُمَا مِنۢ بَعْدِ ٱلصَّلَوٰةِ فَيُقْسِمَانِ بِٱللَّهِ إِنِ ٱرْتَبْتُمْ لَا نَشْتَرِى بِهِۦ ثَمَنًا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَىٰ ۙ وَلَا نَكْتُمُ شَهَـٰدَةَ ٱللَّهِ إِنَّآ إِذًا لَّمِنَ ٱلْـَٔاثِمِينَ

١٠٦

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَءَامَنُوا۟ ای هغو خلکو چې ایمان یې راوړئ دی(ای مؤمنانو) شَهَـٰدَةُ بَيْنِكُمْ ستاسو په منځ کې د شاهدی(نصاب) إِذَا حَضَرَ کله چې راشي أَحَدَكُمُ ستاسو یو(کس ته) ٱلْمَوْتُ مرګ (او وصیت کوي،نو نصاب د شاهدانو) حِينَ ٱلْوَصِيَّةِ د وصیت په وخت کې ٱثْنَانِ دوه نارینه ذَوَا عَدْلٍ انصاف والا دي مِّنكُمْ د ستاسو نه(یعنی که ستاسو نه کوم یو کس مړ کیږي او وصیت کوي نو د وصیت په وخت کې دې وربانديې ستاسو څخه دوه باانصافه کسان شاهدان ونیول شي) أَوْ یا ءَاخَرَانِ دوه نور کسان مِنْ غَيْرِكُمْ غیر د ستاسو څخه إِنْ أَنتُمْ ضَرَبْتُمْ که په سفر کې یئ فِى ٱلْأَرْضِ په ځمکه کې فَأَصَـٰبَتْكُم او راشي تاسو ته مُّصِيبَةُ مصیبت ٱلْمَوْتِ ۚ د مرګ(یعني که د خپل کلي او کور څخه لرې د سفر په حال کې درته مرګ راشي،او هلته

ستاسو خپل خلک نه وي نو د نورو خلکو څخه دوه کسان د وصیت کولو په وخت کې شاهدان ونیسئ،خو که د شاهدۍ ویلو په وخت کې مو په شاهدانو شک راشي چې حقیقت پټوي،نو) تَحْبِسُونَهُمَا دواړه(په مسجد کې) ایسار کړئ مِنۢ بَعْدِ ٱلصَّلَوٰةِ وروسته د لمانځه نه فَيُقْسِمَانِ نو دواړه (شاهدان) به قسم خوري بِٱللَّهِ په الله تعالی باندې إِنِ ٱرْتَبْتُمْ که چیرته تاسو شک وکړئ(یعني د شک په صورت کې به دواړه شاهدان ایسار کړئ او د لمانځه څخه به وروسته دواړه په الله تعالی باندې قسم وخوري او وبه وایي چې) لَا نَشْتَرِى مونږ نه اخلو بِهِۦ په دې باندې ثَمَنًا پیسې(یعني مونږ دا قسم د دنیا د اخستلو دپاره نه کوو) وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَىٰ اګر که وي دا(د چا دپاره چې قسم خوړل کیږي)خپلوان( یعني مونږ د خپلوۍ دپاره قسم نه خورو ) وَلَا نَكْتُمُ او مونږ نه پټوو شَهَـٰدَةَ ٱللَّهِ شاهدې د الله تعالی(یعنې هغه شاهدې چې الله تعالی ئې مونږ ته علم راکړئ دی،او که مونږ داسې وکړو چې یا پیسې واخلو او یا د خپلوۍ مراعات او لحاظ وکړو په شاهدۍ ویلو کې) إِنَّآ بیشکه مونږ به إِذًا په دغه وخت کې لَّمِنَ ٱلْـَٔاثِمِينَ خامخا د ګنهګارانو څخه یو(یعنی که په شاهدۍ ویلو کې مونږ خیانت وکړو یا پیسې واخلو او یا د خپلوۍ مراعات وکړو نو مونږ به خامخا ګنهګار یو،او الله تعالی ته به جواب ورکوو) ۱۰۶

فَإِنْ عُثِرَ عَلَىٰٓ أَنَّهُمَا ٱسْتَحَقَّآ إِثْمًا فَـَٔاخَرَانِ يَقُومَانِ مَقَامَهُمَا مِنَ ٱلَّذِينَ ٱسْتَحَقَّ عَلَيْهِمُ ٱلْأَوْلَيَـٰنِ فَيُقْسِمَانِ بِٱللَّهِ لَشَهَـٰدَتُنَآ أَحَقُّ مِن شَهَـٰدَتِهِمَا وَمَا ٱعْتَدَيْنَآ إِنَّآ إِذًا لَّمِنَ ٱلظَّـٰلِمِينَ ۱۰۷

فَإِنْ عُثِرَ عَلَىٰٓ أَنَّهُمَا ٱسْتَحَقَّآ إِثْمًا خو که معلومه شي چې دواړه(شاهدان) د ګناه مرتکب شوي دي(یعني دواړو حق وصیت پټ کړئ دی او د

دروغو په قسم خوړلو یې ځانونه ګناهګار کړي دي) فَـَٔاخَرَانِ يَقُومَانِ
مَقَامَهُمَا مِنَ ٱلَّذِينَ ٱسْتَحَقَّ عَلَيْهِمُ ٱلْأَوْلَيَـٰنِ نو دوه نور کسان دې د دوی په
ځای د هغو خلکو نه راپاځیږي ( چې د اولنیو شاهدانو د خوا نه یې) حق
خوړل شوئ دی، د مړي د اقرباوو څخه فَيُقْسِمَانِ بِٱللَّهِ نو دواړه به په
الله تعالی باندې قسم وکړي(او وبه وایې چې:) لَشَهَـٰدَتُنَآ أَحَقُّ مِن
شَهَـٰدَتِهِمَا بیشکه زمونږ شهادت ډیر صحیح دی د هغوی(یعنی اولنیو دوه
شاهدانو)څخه وَمَا ٱعْتَدَيْنَآ إِنَّآ إِذًا لَّمِنَ ٱلظَّـٰلِمِينَ او مونږ په خپله شاهدی
کې څه زیاتئ نه دی کړئ(او که مو کړئ وي نو)بیشکه چې مونږ به د
ظالمانو څخه یو. ١٠٧

ذَٰلِكَ أَدْنَىٰٓ دا طریقه ډیره نزدې ده دې ته أَن يَأْتُوا۟ بِٱلشَّهَـٰدَةِ عَلَىٰ وَجْهِهَآ
چې دا خلک صحیح صحیح شاهدې ورکړي(د الله تعالی د ویرې نه) أَوْ
يَخَافُوٓا۟ یا به د دې خبرې نه وویریږي أَن تُرَدَّ أَيْمَـٰنٌۢ چې
(زمونږ)قسمونه به رد شي بَعْدَ أَيْمَـٰنِهِمْ ۗ وروسته د هغوی د قسمونو
څخه (یعنې شاهدان خو به اول د الله تعالی د ویرې دروغ ونه وایې او په
دروغو به قسم ونه خورې،او که فرضاً دې ګناه ته هم زړه ښه کړي،بیا
هم کیدای شي چې د دې ویرې غلطه شاهدې ونه وایې،او د دروغو قسم
ونه خورې چې: که چیرته د مړي وارثان هم قسم وخورې نو بیا به
زمونږ قسمونه رد شي او په خلکو کې به وشرمیږو)

وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ او د الله تعالی څخه وویریږئ وَٱسْمَعُوا۟ ۗ او (د الله تعالی
حکمونه په غور سره) واورئ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى او الله تعالی هدایت نه
کوي ٱلْقَوْمَ ٱلْفَـٰسِقِينَ نافرمانه خلکو ته. ١٠٨

۞ يَوْمَ هغه ورځ يَجْمَعُ چې راجمع کړي ٱللَّهُ الله تعالی ٱلرُّسُلَ
پیغمبران فَيَقُولُ نو(ورته)به وفرمایې مَاذَآ أُجِبْتُمْ ۖ تاسو ته څه

جواب درکول شو(یعني تاسو چې په دنیا کې اسلام ته دعوت ورکړو،دنیا
د هغې څه جواب درکړو) قَالُواْ دوی به ووایي لَا عِلْمَ لَنَآ مونږ
ته علم نشته(یعني زمونږ خو محدود علم دی،صرف هغه څه راته معلوم
دي چې مونږ په خپل ژوند کې لیدلي او محسوس کړي مودي خو حقیقي
علم چې زمونږ د دعوت عکس العمل څنګه او څومره و نو دا علم یوازې
الله تعالی ته دی) إِنَّكَ بیشکه ته أَنتَ همدا ته عَلَّٰمُ ٱلْغُيُوبِ په پټو
حقیقتونو باندې پوهیږې. ۱۰۹

إِذْ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ ٱذْكُرْ نِعْمَتِى عَلَيْكَ وَعَلَىٰ وَٰلِدَتِكَ إِذْ أَيَّدتُّكَ بِرُوحِ
ٱلْقُدُسِ تُكَلِّمُ ٱلنَّاسَ فِى ٱلْمَهْدِ وَكَهْلًاۖ وَإِذْ عَلَّمْتُكَ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَٱلتَّوْرَىٰةَ
وَٱلْإِنجِيلَۖ وَإِذْ تَخْلُقُ مِنَ ٱلطِّينِ كَهَيْـَٔةِ ٱلطَّيْرِ بِإِذْنِى فَتَنفُخُ فِيهَا فَتَكُونُ طَيْرًۢا
بِإِذْنِىۖ وَتُبْرِئُ ٱلْأَكْمَهَ وَٱلْأَبْرَصَ بِإِذْنِىۖ وَإِذْ تُخْرِجُ ٱلْمَوْتَىٰ بِإِذْنِىۖ وَإِذْ كَفَفْتُ
بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ عَنكَ إِذْ جِئْتَهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنْهُمْ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ
مُّبِينٌ ۱۱۰

إِذْ کله چې(د محشر په میدان کې) قَالَ ٱللَّهُ الله تعالی وفرمایي(عیسی
علیه السلام ته) يَٰعِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ ای عیسی د مریم ځویه ٱذْكُرْ یاد
کړه نِعْمَتِى احسان زما عَلَيْكَ په تا باندې وَعَلَىٰ وَٰلِدَتِكَ او ستا
په مور باندې(چې په دنیا کې مې د خپلې زمانې په ټولو ښځو کې غوره
کړې وه) إِذْ (یاد کړه هغه وخت) کله چې أَيَّدتُّكَ ما مدد وکړو ستا
بِرُوحِ ٱلْقُدُسِ په روح القدس(یعني جبرائیل علیه السلام )باندې تُكَلِّمُ
خبرې دې کولې ٱلنَّاسَ د خلکو سره فِى ٱلْمَهْدِ د مور په غیږ کې
(ویلې به دې چې زه د الله تعالی بنده یم) وَكَهْلًاۖ او په پوخ عمر کې
وَإِذْ او (یاد کړه هغه وخت)کله چې: عَلَّمْتُكَ ما علم درکړو تا ته
ٱلْكِتَٰبَ د کتاب وَٱلْحِكْمَةَ او د حکمت وَٱلتَّوْرَىٰةَ او د تورات

وَٱلۡإِنجِيلَۖ او د انجیل وَإِذۡ او(یاد کړه هغه وخت) کله چې تَخۡلُقُ
تا به جوړولو مِنَ ٱلطِّينِ د خټې نه كَهَيۡـَٔةِ ٱلطَّيۡرِ د مرغه په شان
شکل بِإِذۡنِي زما په حکم باندې فَتَنفُخُ بیا به دې پوکئ کولو فِيهَا
په هغه کې فَتَكُونُ نو شو به هغه (د خټو شکل) طَيۡرَۢا (ژوندی)
مرغه بِإِذۡنِيۖ زما په حکم باندې وَتُبۡرِئُ او روغولو به دې
ٱلۡأَكۡمَهَ موروزادي ړوند وَٱلۡأَبۡرَصَ او برګي مرض والا بِإِذۡنِيۖ
زما په حکم باندې وَإِذۡ او(یاد کړه هغه وخت) کله چې تُخۡرِجُ تا
(د قبر نه ژوندې) رایستل ٱلۡمَوۡتَىٰ مړي(یعنې مړي دې ژوندي کول)
بِإِذۡنِيۖ زما په حکم باندې وَإِذۡ او(یاد کړه هغه وخت) کله چې:
كَفَفۡتُ ما بند کړل بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ بني اسرآئیل(یعنې یهودیان) عَنكَ
ستا (د وژلو) نه إِذۡ او(یاد کړه هغه وخت) کله چې: جِئۡتَهُم ته
راغلې هغوی ته(یعنې کله چې ته یهودیانو ته راغلې) بِٱلۡبَيِّنَٰتِ د
روښانه دلایلو سره فَقَالَ نو وویلې ٱلَّذِينَ هغو خلکو كَفَرُواْ
چې کافران و مِنۡهُمۡ د هغوی نه(یعنې په یهودیانو کې هغه خلک چې
کافران و،هغوی وویلې) إِنۡ هَٰذَآ چې نه دې دا (معجزې) إِلَّا مګر
سِحۡرٞ مُّبِينٞ ښکاره سحر دی. (کله چې الله تعالی عیسی علیه السلام
مخاطب کړې او خبرې شروع کړې،ټول انسانان به د الله تعالی مخې ته
ولاړ وي او سرونه به يې ښکته نیولي وي،په یهودیانو به لړزه
ولړیږي،پوه به شي چې دا خو مونږ یادوې.)١١٠

وَإِذۡ أَوۡحَيۡتُ إِلَى ٱلۡحَوَارِيِّـۧنَ أَنۡ ءَامِنُواْ بِي وَبِرَسُولِي قَالُوٓاْ ءَامَنَّا وَٱشۡهَدۡ بِأَنَّنَا
مُسۡلِمُونَ ١١١

وَإِذۡ او(یاد کړه هغه وخت) کله چې أَوۡحَيۡتُ ما الهام وکړو(یعنې کله
چې ما واچوله په زړونو کې) إِلَى ٱلۡحَوَارِيِّـۧنَ حواریونو ته أَنۡ

ءَامِنُواْ چې ایمان راوړئ بِی په ما باندې وَبِرَسُولِی او زما په پیغمبر باندې قَالُوٓاْ دوی وویل (تا ته) ءَامَنَّا مونږ ایمان راوړئ دی وَٱشْهَدْ او ته شاهد شه بِأَنَّنَا چې بیشکه مونږ مُسْلِمُونَ مسلمانان یو(یعنې حواریون چې د عیسی علیه السلام مخلص ملګري و،د دوی اصلي دین اسلام و) ١١١

إِذْ او(یاد کړه هغه وخت) کله چې قَالَ وویلې ٱلْحَوَارِيُّونَ حواریونو يَٰعِيسَى ای عیسی ٱبْنَ مَرْيَمَ د مریم ځویه(حواریونو د دې دپاره عیسی علیه السلام ته په نوم اواز وکړو او د هغه نسبت ئې د مور طرف ته وکړو چې دوی هغه علیه السلام صرف د الله تعالی بنده او پیغمبر منلو،او خدای او د خدای ځوی یې ورته نه ویلې،نو عیسی علیه السلام ته یې وویلې) هَلْ آیا يَسْتَطِيعُ رَبُّكَ ستا رب کولای شي أَن يُنَزِّلَ چې نازل کړي عَلَيْنَا په مونږ باندې مَآئِدَةً یو دسترخوان(د قسم-قسم خوراکونو) مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ۖ د آسمان نه؟(یعنې چې الله تعالی د آسمان نه خوراک راولیږي،مونږ یې وخورو او ایمان او یقین مو زیات شي) قَالَ (عیسی علیه السلام ورته) وویلې ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ د الله تعالی نه وویریږئ إِن كُنتُم که چیرته یئ تاسو مُّؤْمِنِينَ مؤمنان.(یعنې داسې بې ځایه سوالونه مه کوئ) ١١٢ قَالُواْ نُرِيدُ أَن نَّأْكُلَ مِنْهَا وَتَطْمَئِنَّ قُلُوبُنَا وَنَعْلَمَ أَن قَدْ صَدَقْتَنَا وَنَكُونَ عَلَيْهَا مِنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ١١٣

قَالُواْ حواریونو وویلې(عیسی علیه السلام ته) نُرِيدُ مونږ غواړو أَن نَّأْكُلَ چې خوراک وکړو مِنْهَا د هغه (دسترخوان نه چې الله تعالی یې راولیږي،ځکه چې وږي یو او خوراک ته محتاج یو) وَتَطْمَئِنَّ او(بل دا چې) مطمئن شي قُلُوبُنَا زړونه زمونږ وَنَعْلَمَ او(بل دا چې) پوه شو مونږ أَن چې قَدْ یقیناً صَدَقْتَنَا تا رښتیا ویلي دي مونږ ته(یعنې

یو خو به په خپله ماړه شو بل به مو زړونه مطمئین شي،او ایمان به مو
قوی شي،او بل به راته معلومه شي چې ته د نبوت او په دې دعوه کې
رشتینئ یې چه الله تعالی به مونږ ته د جنت نعمتونه راکړي) وَنَكُونَ
او(بله دا چې) مونږ به شو عَلَيْهَا په هغه(دسترخوان) باندي مِنَ
ٱلشَّـٰهِدِينَ د شاهدانو نه(یعني چې مونږ په خپلو سترګو دسترخوان
وګورو او خوراک تري وکړو نو مونږ به عیني شاهدان شو، نو هغه بني
اسرآئیل چې ایمان یې نه دی راوړئ،نو مونږ به هغوی ته هم د دې
خبرې شاهدي ورکړو او هغوی به هم ایمان راوړي) ١١٣

قَالَ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ ٱللَّهُمَّ رَبَّنَآ أَنزِلْ عَلَيْنَا مَآئِدَةً مِّنَ ٱلسَّمَآءِ تَكُونُ لَنَا عِيدًا
لِّأَوَّلِنَا وَءَاخِرِنَا وَءَايَةً مِّنكَ ۖ وَٱرْزُقْنَا وَأَنتَ خَيْرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ١١٤

قَالَ وویلي عِيسَى عیسی علیه السلام ٱبْنُ مَرْيَمَ ځوی د مریم
علیهاالسلام ٱللَّهُمَّ ای الله رَبَّنَآ زمونږ ربه أَنزِلْ نازل کړه
عَلَيْنَا په مونږ باندې مَآئِدَةً یو دسترخوان مِّنَ ٱلسَّمَآءِ د آسمان نه
تَكُونُ لَنَا چې شي مونږ ته عِيدًا اختر لِّأَوَّلِنَا زمونږ د ړومبنو
دپاره وَءَاخِرِنَا او زمونږ د وروستنو دپاره وَءَايَةً او نښه مِّنكَ ۖ
د ستا وَٱرْزُقْنَا او مونږ ته رزق راکړه وَأَنتَ او ته خَيْرُ ډېر ښه
ٱلرَّٰزِقِينَ رزق ورکوونکئ یې. ١١٤

قَالَ ٱللَّهُ إِنِّى مُنَزِّلُهَا عَلَيْكُمْ ۖ فَمَن يَكْفُرْ بَعْدُ مِنكُمْ فَإِنِّىٓ أُعَذِّبُهُۥ عَذَابًا لَّآ أُعَذِّبُهُۥٓ
أَحَدًا مِّنَ ٱلْعَـٰلَمِينَ ١١٥

قَالَ ٱللَّهُ الله تعالی وفرمایل إِنِّى بیشکه زه مُنَزِّلُهَا نازلوونکئ یم د
هغه(یعني د دسترخوان) عَلَيْكُمْ ۖ په تاسو باندي فَمَن خو څوک چې
يَكْفُرْ کفر وکړي بَعْدُ وروسته مِنكُمْ د ستاسو نه(یعني که د
دسترخوان د نازلیدلو څخه وروسته هم ستاسو نه څوک کافر شو) فَإِنِّىٓ

نو بېشکه زه به أُعَذِّبُهُۥ عذاب ورکړم هغه ته عَذَابًا داسې عذاب لَّآ
أُعَذِّبُهُۥٓ چې وربه نکړم هغسې عذاب أَحَدًا هیڅچا ته مِّنَ ٱلْعَـٰلَمِينَ
د مخلوقاتو څخه(یعنې داسې عذاب به ورکړم چې په مخلوقاتو کې مې بل
هیڅ چاته نه وي ورکړئ) ١١٥

وَإِذْ قَالَ ٱللَّهُ يَـٰعِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ ءَأَنتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ ٱتَّخِذُونِى وَأُمِّىَ إِلَـٰهَيْنِ مِن
دُونِ ٱللَّهِ ۖ قَالَ سُبْحَـٰنَكَ مَا يَكُونُ لِىٓ أَنْ أَقُولَ مَا لَيْسَ لِى بِحَقٍّ ۚ إِن كُنتُ قُلْتُهُۥ
فَقَدْ عَلِمْتَهُۥ ۚ تَعْلَمُ مَا فِى نَفْسِى وَلَآ أَعْلَمُ مَا فِى نَفْسِكَ ۚ إِنَّكَ أَنتَ عَلَّـٰمُ ٱلْغُيُوبِ
١١٦

و او (د دې احسانونو په یادولو د قیامت په ورځ د محشر په میدان کې
چې ټول انسانان به ولاړ وي: ) إِذْ کله چې: قَالَ ٱللَّهُ الله تعالی
وفرمايي! يَـٰعِيسَى ای عیسی ٱبْنَ مَرْيَمَ د مریم ځویه ءَأَنتَ آیا تا
قُلْتَ لِلنَّاسِ خلکو ته ویلي و ٱتَّخِذُونِى چې ونیسئ ما وَأُمِّىَ او زما
مور إِلَـٰهَيْنِ خدایان مِن دُونِ پرته د ٱللَّهِ ۖ الله تعالی نه قَالَ
وبه وایي(عیسی علیه السلام) سُبْحَـٰنَكَ سبحان الله پاکې ده تا ته مَا
يَكُونُ لِىٓ زما دا کار نه و أَنْ أَقُولَ مَا چې هغه څه مې ویلي وای
لَيْسَ لِى بِحَقٍّ ۚ چې زما حق نه و إِن که چیرته كُنتُ قُلْتُهُۥ ما داسې
خبره کړي وي(چې ما او زما مور په خدایۍ ونیسئ) فَقَدْ نو (ای زما
ربه) بېشکه عَلِمْتَهُۥ ۚ ته به پرې عالم یې. تَعْلَمُ ته پوهیږې مَا څه
چې فِى نَفْسِى زما په زړه کې دي وَلَآ أَعْلَمُ او زه نه پوهیږم مَا
څه چې فِى نَفْسِكَ ۚ ستا په نفس کې دي. إِنَّكَ بېشکه ته أَنتَ همدا
ته عَلَّـٰمُ عالم یې ٱلْغُيُوبِ په پټو حقایقو. ١١٦

مَا قُلْتُ لَهُمْ إِلَّا مَآ أَمَرْتَنِى بِهِۦٓ أَنِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ رَبِّى وَرَبَّكُمْ ۚ وَكُنتُ عَلَيْهِمْ
شَهِيدًا مَّا دُمْتُ فِيهِمْ ۖ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِى كُنتَ أَنتَ ٱلرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ ۚ وَأَنتَ عَلَىٰ كُلِّ
شَىْءٍ شَهِيدٌ ١١٧

مَا قُلْتُ (عیسی علیه السلام به وایي) ما نه دي ویلي لَهُمْ دوی ته إِلَّا مَآ مګر هغه(څه مې ورته ویلي دي) أَمَرْتَنِى چې تا ما ته حکم کړئ و بِهِۦٓ د هغې (په ویلو)باندې(چې ورته ووایه) أَنِ چې ٱعْبُدُوا۟ عبادت وکړئ ٱللَّهَ د الله تعالی رَبِّى چې رب زما دی وَرَبَّكُمْ ۚ او رب د ستاسو دی وَ او(نور به وایي چې ای الله) كُنتُ زه وم عَلَيْهِمْ په دوی باندې شَهِيدًا شاهد مَّا دُمْتُ د هغې پورې چې زه وم فِيهِمْ ۖ په دوی کې(یعنې د هغې پورې چې زه په دنیا کې د دوی په منځ کې وم د دوی د عقایدو او اعمالو نه خبر وم) فَلَمَّا خو کله چې تَوَفَّيْتَنِى تا زه پورته کړم(د دوی نه نو:) كُنتَ أَنتَ هم ته وې ٱلرَّقِيبَ نګران عَلَيْهِمْ ۚ په دوی باندې(یعنې کله دې چې زه د دوی د منځ نه پورته کړم نور زه ترې خبر نه یم،صرف یوازې هم ته د دوی د ټولو اعمالو نه خبر یې او هرڅه همدا تا ته معلوم دي) وَأَنتَ او ته عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ په هر شي باندې شَهِيدٌ خبر یې. ١١٧

إِن تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ ۖ وَإِن تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ١١٨

او عیسی علیه السلام به نور الله تعالی ته وایي!

إِن که چیرته تُعَذِّبْهُمْ ته دوی ته عذاب ورکوې فَإِنَّهُمْ نو بېشکه دوی عِبَادُكَ ۖ ستا بندګان دي(د عذاب مستحق دي، نه ستا د عذاب نه ځان خلاصولای شي او نه درنه تښتېدلای شي) وَإِن او که چیرته تَغْفِرْ بخښنه کوې لَهُمْ دوی ته فَإِنَّكَ نو بېشکه ته أَنتَ همدا ته

ٱلْعَزِيزُ زورور ٱلْحَكِيمُ (او) حكيم يې(يعنې كه بخښنه ورته كوې نو بېشكه ته په دې قادر يې) ١١٨

قَالَ ٱللَّهُ هَـٰذَا يَوْمُ يَنفَعُ ٱلصَّـٰدِقِينَ صِدْقُهُمْ ۚ لَهُمْ جَنَّـٰتٌ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَـٰرُ خَـٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ۚ رَّضِىَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا۟ عَنْهُ ۚ ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ١١٩

قَالَ ٱللَّهُ الله تعالى به وفرمايي هَـٰذَا يَوْمُ دا هغه ورځ ده يَنفَعُ چې ګټه كوي ٱلصَّـٰدِقِينَ رېښتينو ته صِدْقُهُمْ ۚ رښتيا ويل د هغوى لَهُمْ دوى دپاره(يعنې صدقينو پاره، داسې) جَنَّـٰتٌ جنتونه دي تَجْرِى چې بهيږي به مِن تَحْتِهَا د هغوى لاندې ٱلْأَنْهَـٰرُ نهرونه خَـٰلِدِينَ اوسيږي به(دوى) فِيهَآ په هغې(جنتونو)كې أَبَدًا ۚ هميشه رَّضِىَ راضي به وي ٱللَّهُ الله تعالى عَنْهُمْ د دوى نه(يعنې د جنتيانو نه) وَرَضُوا۟ او دوى(يعنې جنتيان)به راضي وي عَنْهُ ۚ د هغه«جل جلاله) نه ذَٰلِكَ دا(جنت ته داخليدل او د الله تعالى رضا) ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ډېره لويه كاميابي ده. ١١٩

لِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا فِيهِنَّ ۚ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌۢ ١٢٠

لِلَّهِ خاص د الله تعالى دپاره ده مُلْكُ بادشاهي ٱلسَّمَـٰوَٰتِ د آسمانونو وَٱلْأَرْضِ او د ځمكې وَمَا او هغه څه فِيهِنَّ ۚ چې په هغوى(يعنې ځمكه او آسمانونو) كې دي وَهُوَ او هغه«جل جلاله» عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ په هر شي باندې قَدِيرٌۢ قادر دى. ١٢٠

# بسم الله الحمن الرحيم

# سورة الانعام

د«الانعام»سورت مكي دی پرته د نهه آيتونو څخه چې د ځينو علماؤ په نزد مدني دي،او هغه-20-23-91-93-114-141-151-152-او 153 دي،او «165»آياتونه او «20»ركوع لري،د «الحجر» د سورت څخه وروسته نازل شوئ دی،په نزول كې «55» او په تلاوت كې «6» سورت دی.

ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَجَعَلَ ٱلظُّلُمَٰتِ وَٱلنُّورَ ۖ ثُمَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُونَ ١

ٱلْحَمْدُ ټول صفتونه (د كمال) لِلَّهِ خاص د الله تعالی دپاره دي ٱلَّذِى هغه(الله) خَلَقَ چې هغه«جل جلاله» پيدا كړي دي ٱلسَّمَٰوَٰتِ آسمانونه وَٱلْأَرْضَ او ځمكه وَجَعَلَ او پيدا كړي ئې دي ٱلظُّلُمَٰتِ تياري وَٱلنُّورَ ۖ او رنا ثُمَّ بيا(هم) ٱلَّذِينَ هغه(خلک) كَفَرُوا۟ چې كافران دي بِرَبِّهِمْ په خپل رب باندې يَعْدِلُونَ برابروي(په محبت او عزت كې،يعني د الله تعالی نه پرته د نورو شيانو سره محبت كوي، عزت يې كوي،او د چاپلوسی دپاره ورته سرونه ټيټوي،د دي دپاره چې د خير او شر عقيده وربانديې لري،نه خو د مكې مشركانو عقيده لرله چې لات،منات او عزا كائنات پيداكړي دي،او نه

هندوان دا عقيده لرې چې بتانو آسمانونه او ځمکه پيدا کړي دي،بلکې ټول په خپلو غلطو معبودانو دا عقيده لرې،چې دوی مونږ ته خير او شر رارسولای شي،نو هر څوک چې پرته د الله تعالی نه د هر شي نه د خير او شر طمعه لرې،هغه که بت وي،که انسان وي که زيارت وي او که قبر،خو چې دا عقيده وربانديې لرې چې: دا قبر يا بت ما ته خير او شر رارسولئ شي،او په همدې عقيده او طمعه ورسره محبت کوي، عزت او چاپلوسې ئې کوي،نو دا کس په شرک کې اخته او مشرک دی.) ١

هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن طِينٍۢ ثُمَّ قَضَىٰٓ أَجَلًۭا ۖ وَأَجَلٌۭ مُّسَمًّى عِندَهُۥ ۖ ثُمَّ أَنتُمْ تَمْتَرُونَ
٢

هُوَ هغه«جل جلاله» ٱلَّذِى هغه«ذات دی» خَلَقَكُم چې تاسو ئې پيدا کړي يئ مِّن طِينٍۢ د ختې نه (يعني هغه مړه اتومونه چې په ختې يا خاوره او اوبو کې موجود و،د خوراکې موادو په شکل يې ستاسو د مور او پلار وجود ته داخل کړل،او د هغوی په بدن کې ئې ترې ژوندی نارينه او ښځينه نطفې جوړې کړي،او د نارينه او ښځينه نطفو د يوځای کيدلو نه يې ستاسو د مور ګانو په رحمونو کې تاسو جوړکړئ) ثُمَّ قَضَىٰٓ أَجَلًۭا ۖ بيا ئې ستاسو دپاره (د مرګ) يوه نيټه وټاکله وَأَجَلٌۭ مُّسَمًّى او يوه بله معلومه نيټه(د قيامت) عِندَهُۥ ۖ د هغه«جل جلاله)سره موجود ده(يعني د قيامت د قائميدلو علم يوازې د الله تعالی سره دی، بل چا ته ئې نه دی ورکړئ) ثُمَّ أَنتُمْ بيا (هم) تاسو تَمْتَرُونَ شک کوئ. ٢

وَهُوَ ٱللَّهُ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَفِى ٱلْأَرْضِ ۖ يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ وَيَعْلَمُ مَا تَكْسِبُونَ
٣

وَهُوَ او هغه«جل جلاله) ٱللَّهُ معبود دی فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ په آسمانونو کې وَفِى ٱلْأَرْضِ ۖ او په ځمکه کې يَعْلَمُ پوهيږي

سِرَّكُمۡ ستاسو په پټو(حالاتو) وَجَهۡرَكُمۡ او ستاسو په ښكاره(حالاتو) وَيَعۡلَمُ او پوهيږي مَا په هغو(عملونو) تَكۡسِبُونَ چې تاسو يې كوئ. ٣

وَمَا تَأۡتِيهِم مِّنۡ ءَايَةٖ مِّنۡ ءَايَٰتِ رَبِّهِمۡ إِلَّا كَانُواْ عَنۡهَا مُعۡرِضِينَ ٤

وَ او (د كافرانو حال دا دى چې) مَا تَأۡتِيهِم نه ده راغلي هغوى ته مِّنۡ ءَايَةٖ (هيڅ داسې)يوه نښنه د مِّنۡ ءَايَٰتِ نښنو د رَبِّهِمۡ رب د هغوى نه (چې دوى قبوله كړي وي) إِلَّا مګر(هره نښنه چې ورته راغلي ده نو) كَانُواْ عَنۡهَا دوى د هغې نه مُعۡرِضِينَ مخ اړولئ دى(يعنې د دوى د رب د نښانو نه هيڅ يوه نښانه داسې نشته چې دوى ته راغلي وي او دوى ورڅخه مخ نه وي اړولاى) ٤

فَقَدۡ كَذَّبُواْ بِٱلۡحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمۡۖ فَسَوۡفَ يَأۡتِيهِمۡ أَنۢبَٰٓؤُاْ مَا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ٥

فَقَدۡ نو بېشكه كَذَّبُواْ دوى دروغ وويلي بِٱلۡحَقِّ په حق باندې لَمَّا كله چې جَآءَهُمۡۖ راغئ دوى ته(حق يعنې قرآن) فَسَوۡفَ نو ژر به يَأۡتِيهِمۡ راشي دوى ته أَنۢبَٰٓؤُاْ خبرونه مَا د هغه څه كَانُواْ بِهِۦ چې دوى په هغې باندې يَسۡتَهۡزِءُونَ مسخرې كوي(يعنې د كوم عذاب پورې چې دوى ټوقې كې كوي ډېر زر به ترې خبر شي او د سر په سترګو به يې وګوري) ٥

أَلَمۡ يَرَوۡاْ آيا خبر نه دي دوى(بلكې خبر دي) كَمۡ چې څومره أَهۡلَكۡنَا هلاک كړي دي مونږ مِن قَبۡلِهِم مخكې د دوى څخه مِّن قَرۡنٖ د امتونو مَّكَّنَّٰهُمۡ چې مونږ قوت وركړئ و هغوى ته فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمكه كې مَا داسې(قوت) لَمۡ نُمَكِّن چې مونږ نه دى دركړئ لَّكُمۡ تاسو ته(يعنې ستاسو نه په طاقت كې ډېر زيات و) وَأَرۡسَلۡنَا او ورولې

و مونږ ٱلسَّمَآءَ د آسمان نه عَلَيْهِم په هغوی باندې مِّدْرَارًا
پریمانه بارانونه وَجَعَلْنَا او جوړ کړي و مونږ ٱلْأَنْهَـٰرَ نهرونه
تَجْرِى چې بهیدل به مِن تَحْتِهِمْ د هغوی(د باغونو او ونو) لاندې(خو
کله چې نافرمانه شو) فَأَهْلَكْنَـٰهُم نو مونږ هلاک کړل هغوی بِذُنُوبِهِمْ
په سبب د ګناهونو د هغوی وَأَنشَأْنَا او پیدا کړل مونږ مِنۢ بَعْدِهِمْ
وروسته(د هلاکت) د هغوی څخه قَرْنًا ءَاخَرِينَ نور خلک.(یعنې کوم
خلک چې کافر دي او په قرآنکریم او نبي علیه السلام باندې ایمان نه
راوړي،نو د دوی څخه ډېر قوي خلک لکه عادیان او ثمودیان چې کله
نافرمانه شو نو الله تعالی هلاک کړل،نو که دوی هم ایمان رانه وړي،نو
الله تعالی ته دوی ته جزا ورکول او د دوی هلاکول کوم سخت کار نه
دی) ٦

وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتَـٰبًا فِى قِرْطَاسٍ فَلَمَسُوهُ بِأَيْدِيهِمْ لَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِنْ هَـٰذَآ
إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ٧

<u>کافرانو به ویلي چې:نبي علیه السلام چې لږ-لږ قرآن په یادو لولې کیدای
شي چې یا ئې د ځان څخه جوړوي او یائې کوم پیری ورته ښایي.</u>

وَلَوْ او که چیرته نَزَّلْنَا نازل کړئ و مونږ عَلَيْكَ په تا باندې كِتَـٰبًا
(قرآنکریم) لیکل شوئ فِى قِرْطَاسٍ په قاغذ کې فَلَمَسُوهُ او دوی
لمس کړئ و هغه بِأَيْدِيهِمْ په خپلو لاسونو باندې لَقَالَ خامخا به
ویلي و ٱلَّذِينَ هغو خلکو كَفَرُوٓا۟ چې کاران دي إِنْ هَـٰذَآ چې نه
دی دا(قرآن) إِلَّا مګر سِحْرٌ مُّبِينٌ ښکاره جادو دی. ٧

وَقَالُوا۟ لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْهِ مَلَكٌ ۖ وَلَوْ أَنزَلْنَا مَلَكًا لَّقُضِىَ ٱلْأَمْرُ ثُمَّ لَا يُنظَرُونَ ٨

وَقَالُواْ او کافران وايې(که دا عليه السلام په رښتيا د الله تعالی رسول يې
نو) لَوۡلَآ أُنزِلَ ولې نه ده نازل شوې عَلَيۡهِ په ده باندې مَلَكٌ ۖ يوه
فرشته(چې د ده عليه السلام حفاظت يې کولو،او د فرشتې په ليدلو به يې
هر چا د پيغمبرۍ تصديق کولو او ايمان به يې ورباندې راوړلو.د دوی د
دې اعتراض په باره کې الله تعالی فرمايې!) وَلَوۡ او که چيرته أَنزَلۡنَا
نازل کړې وه مونږ مَلَكٗا کومه فرشته(په هغه عليه السلام باندې نو)
لَّقُضِيَ خامخا به فيصله شوې وه ٱلۡأَمۡرُ خبره(يعنې معامله به ختمه
شوې وه،او) ثُمَّ لَا يُنظَرُونَ بيا به دوی ته مهلت نه و ورکول
شوئ(يعنې په دنيا کې ټول امتحان د غيبو د پردې په سبب اخستل
کيږي،که د غيبو پرده د منځ نه لرې شي،نو بيا خو امتحان ختم شو،او
صرف د امتحان د نتيجې اعلانيدل پاتې کيږي.) ٨

وَلَوۡ جَعَلۡنَٰهُ مَلَكٗا لَّجَعَلۡنَٰهُ رَجُلٗا وَلَلَبَسۡنَا عَلَيۡهِم مَّا يَلۡبِسُونَ ٩

وَلَوۡ او که چيرته جَعَلۡنَٰهُ گرځولئ و مونږ هغه(يعنې پيغمبر د دوی
دپاره) مَلَكٗا کومه فرشته(يعنې که چيرته مونږ دوی ته فرشته هم د
پيغمبر په حيث ليږلې وه، نو) لَّجَعَلۡنَٰهُ خامخا به مونږ گرځولې وه
هغه فرشته) رَجُلٗا سړی(يعنې خامخا به مونږ هغه فرشته هم د انسان
په شکل دوی ته د پيغمبر په حيث ليږلې وه) وَلَلَبَسۡنَا عَلَيۡهِم او خامخا به
مونږ دوی(داسې) په شک کې اچولې و مَّا يَلۡبِسُونَ لکه څنګه چې
اوس دوی په شک کې دي(يعنې دا خو امتحان دی،دا د الله تعالی د
امتحان د اخستلو اصول دي،او دا د الله تعالی د امتحان سوالونه دي،په
امتحان کې د کاميابيدلو او سوالونو د حلولو
دپاره،معلمان،کتابونه،عقل،استعداد،حافظه،د ارادې ازادې او نور ټول

ضروري وسایل یې ورکړي دي،مګر د غیبو پرده نه لرې کوې،ځکه که
د غیبو پرده ئې لرې کړه بیا خو امتحان ختم شو) ۹

وَلَقَدِ ٱسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّن قَبْلِكَ فَحَاقَ بِٱلَّذِينَ سَخِرُواْ مِنْهُم مَّا كَانُواْ بِهِۦ
يَسْتَهْزِءُونَ ۱۰

وَلَقَدِ او بېشکه ٱسْتُهْزِئَ مسخرې شوي دي بِرُسُلٍ په پیغمبرانو
باندې مِّن قَبْلِكَ مخکې د ستا څخه فَحَاقَ نو نازل شو بِٱلَّذِينَ په
هغو خلکو باندې سَخِرُواْ چې مسخرې یې کړي وي مِنْهُم د هغوی
څخه مَّا هغه(عذاب) كَانُواْ بِهِۦ چې دوی به په هغې(عذاب)باندې
يَسْتَهْزِءُونَ مسخرې کولې(یعني پیغمبرانو به د عذاب نه ویرول خو دوی
به ورپورې مسخرې کولې چې راولہ عذاب،نو هماغه عذاب پرې نازل
شو چې دوی توقې ګڼلو) ۱۰

قُلْ سِيرُواْ فِى ٱلْأَرْضِ ثُمَّ ٱنظُرُواْ كَيْفَ كَانَ عَـٰقِبَةُ ٱلْمُكَذِّبِينَ ۱۱

قُلْ (ای محمد «صلی الله علیه وسلم» ورته) ووایه سِيرُواْ وګرځئ
فِى ٱلْأَرْضِ په ځمکه کې ثُمَّ بیا ٱنظُرُواْ وګورئ كَيْفَ كَانَ چې
څنګه شو عَـٰقِبَةُ انجام ٱلْمُكَذِّبِينَ د دروغ ګڼونکو ۱۱

قُل لِّمَن مَّا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ قُل لِّلَّهِ ۚ كَتَبَ عَلَىٰ نَفْسِهِ ٱلرَّحْمَةَ ۚ
لَيَجْمَعَنَّكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ ۚ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ
۱۲ ۞

قُل ووایه لِّمَن چا ته مَّا د هغه څه(اختیار دی) فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ
چې په آسمانونو کې دي وَٱلْأَرْضِ ۖ او په ځمکه کې دي قُل
(ورته) واویه لِّلَّهِ ۚ چې(د ټولو اختیار خاص) الله تعالی ته دی كَتَبَ
هغه«جل جلاله» لازم کړې دی عَلَىٰ نَفْسِهِ په خپل نفس باندې

ٱلرَّحۡمَةَۚ رحم کول لَيَجۡمَعَنَّكُمۡ هغه«جل جلاله»به خامخا راجمع کړي
تاسو إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ د قیامت ورځې ته لَا رَيۡبَ فِيهِۚ چې په هغې کې
هیڅ شک نشته(یعنې د قیامت په ورځ او په هغې ورځ ستاسو په راټولولو
کې هیڅ شک نشته) ٱلَّذِينَ هغه خلک خَسِرُوٓاْ چې دوی په تاوان
کې اچولي دي أَنفُسَهُمۡ خپل ځانونه فَهُمۡ نو دوی لَا يُؤۡمِنُونَ
ایمان نه راوړي. ۱۲ ۞

۞ وَلَهُۥ مَا سَكَنَ فِي ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ۱۳ قُلۡ

وَلَهُۥ او الله تعالی لره دي مَا هغه څه سَكَنَ چې ارام کوي فِي
ٱلَّيۡلِ په شپه کې وَ او(حرکت کوي) ٱلنَّهَارِۚ په ورځ کې وَهُوَ
او هغه جل جلاله ٱلسَّمِيعُ ښه اوریدونکئ ٱلۡعَلِيمُ ښه عالم دی ۱۳

قُلۡ أَغَيۡرَ ٱللَّهِ أَتَّخِذُ وَلِيّٗا فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَهُوَ يُطۡعِمُ وَلَا يُطۡعَمُۗ قُلۡ
إِنِّيٓ أُمِرۡتُ أَنۡ أَكُونَ أَوَّلَ مَنۡ أَسۡلَمَۖ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ۱٤

نبي علیه السلام ته د مشرکانو د پشنهادونو څخه یو دا هم و چې ته یو څه
وخت زمونږ د خدایان عبادت کوه،مونږ به یو څه وخت ستا د خدای
عبادت کوو،بس خبره به جوړه شي.

قُلۡ (ورته) ووایه أَغَيۡرَ ٱللَّهِ آیا پرته د الله تعالی نه أَتَّخِذُ وَلِيّٗا
زه(بل)دوست ونیسم؟(یعنې آیا زه پرته د الله تعالی نه بل څوک معبود
ونیسم او د بل چا عبادت وکړم،آیا هغه خالق پریږدم چې:) فَاطِرِ پیدا
کوونکئ ٱلسَّمَٰوَٰتِ د آسمانونو وَٱلۡأَرۡضِ او د ځمکې دی وَهُوَ
او هغه جل جلاله يُطۡعِمُ روزي ورکوي وَلَا يُطۡعَمُ او روزي نه
اخلي(یعنې مشرکانو چې د الله تعالی نه پرته کوم معبودان نیولي دي،نو دا
غلط معبودان خپلو بندګانو ته د رزق ورکولو په ځای برعکس د هغوی

يعنې د بندګانو نه د رزق اخستلو محتاج دي) قُلْ ورته ووايه إِنِّىَ
بېشکه زه أُمِرْتُ حکم شوئ دی ماته(د دې) أَنْ أَكُونَ چې شمه زه
أَوَّلَ اول مَنْ أَسْلَمَ د هغه چا نه چې(الله تعالی ته) تابع دی وَ او
(حکم شوئ دی ماته) لَا تَكُونَنَّ چې مه کيږه مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ د
مشرکانو نه. ١٤

قُلْ إِنِّىَ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّى عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ١٥

قُلْ (ورته) ووايه إِنِّىَ أَخَافُ بېشکه زه ويريږم إِنْ عَصَيْتُ که زه
نافرماني وکړم رَبِّى زما د رب(نو ويريږم) عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ د يوې
لويې ورځې د عذاب نه(يعنې ورته ووايه! که زه نافرماني وکړم نو زه د
يوې لويې هيبتناکي ورځې د عذا نه ويريږم) ١٥

مَّن يُصْرَفْ عَنْهُ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمَهُۥ ۚ وَذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْمُبِينُ ١٦

مَّن څوک چې يُصْرَفْ وژغورل شو(بچ شو) عَنْهُ د
هغه(عذاب)نه يَوْمَئِذٍ په دغه ورځ(د قيامت) فَقَدْ نو بېشکه
رَحِمَهُۥ ۚ الله تعالی رحم وکړو په هغه وَذَٰلِكَ او دا(د عذاب نه بچ کيدل
او د الله تعالی رحم) ٱلْفَوْزُ ٱلْمُبِينُ ښکاره کامیابي ده. ١٦

وَإِن يَمْسَسْكَ ٱللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَ ۖ وَإِن يَمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلَىٰ
كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ١٧

وَإِن يَمْسَسْكَ ٱللَّهُ بِضُرٍّ او که الله تعالی تا ته کوم تکليف ورسوي فَلَا
كَاشِفَ لَهُۥٓ نو نشته هيڅ څوک لرې کوونکئ د هغې(تکليف ستا نه) إِلَّا
هُوَ ۖ پرته د هغه «جل جلاله» نه وَإِن يَمْسَسْكَ بِخَيْرٍ او که هغه
«جل جلاله» ورسوي تا ته څه خير فَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ نو هغه
جل جلاله په هر شي باندې قادر دی. ١٧

وَهُوَ ٱلْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِۦ ۚ وَهُوَ ٱلْحَكِيمُ ٱلْخَبِيرُ ١٨

وَهُوَ او هغه «جل جلاله» ٱلْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِۦ ۚ پوره زورور دی په خپلو بنګانو باندې وَهُوَ او هغه«جل جلاله» ٱلْحَكِيمُ د حکمت خاوند دی ٱلْخَبِيرُ (او) باخبره دی ١٨

قُلْ أَىُّ شَىْءٍ أَكْبَرُ شَهَٰدَةً ۖ قُلِ ٱللَّهُ ۖ شَهِيدٌۢ بَيْنِى وَبَيْنَكُمْ ۚ وَأُوحِىَ إِلَىَّ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانُ لِأُنذِرَكُم بِهِۦ وَمَنۢ بَلَغَ ۚ أَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُونَ أَنَّ مَعَ ٱللَّهِ ءَالِهَةً أُخْرَىٰ ۚ قُل لَّآ أَشْهَدُ ۚ قُلْ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ وَإِنَّنِى بَرِىٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ ١٩

مشرکانو نبي علیه السلام ته ویلي چې ته مونږ ته شاهد وښایه چې ستا په نبوت شاهدي ووایې چې ته د الله تعالی پیغمبر یې،ځکه چې کتابیانو خو په ځای د دې چې شاهدي ووایي سرچپه خبرې یې کولي خلکو ته به یې ویلي چې دا خو هغه نه دی د کوم نبي چې په تورات او انجیل کې مونږ ته خبر راکول شوئ دی.

قُلْ (ای محمد «صلی الله علیه وسلم» ورته) ووایه أَىُّ کوم شَىْءٍ یو شی أَكْبَرُ ډېر لوی دی شَهَٰدَةً ۖ په شاهدی کې(یعني څوک ډېر غټ شاهد دی،چې د هغه شاهدي ډېره قوي او د منلو وړ ده) قُلِ ٱللَّهُ ۖ ( بیا ورته)ووایه چې الله تعالی شَهِيدٌۢ شاهد دی بَيْنِى په منځ زما وَبَيْنَكُمْ ۚ او په منځ د ستاسو کې(یعني زما او ستاسو په منځ کې الله تعالی شاهد دی په دې خبره چې:زه د هغه«جل جلاله» پیغمبر یم،او تاسو ته هره خبره د هغه«جل جلاله» په حکم کوم) وَأُوحِىَ او د وحې واسطه رالیږل شوئ دی إِلَىَّ ما ته هَٰذَا دا ٱلْقُرْءَانُ قرآنکریم (یعني دا د بنده کلام نه دی بلکې الله تعالی د وحې پواسطه په ما نازل کړئ دی) لِأُنذِرَكُم د دې لپاره چې زه وویروم تاسو بِهِۦ په دې(قرآن)باندې (د الله تعالی د عذاب څخه) وَمَنۢ او(وویروم هغه څوک) بَلَغَ ۚ چاته چې

رسيږي(دا قرآن د قيامت پورې) أَئِنَّكُمْ آيا واقعاً تاسو لَتَشْهَدُونَ
شاهدي وايئ؟(يعني آيا تاسو ته دا علم شته؟) أَنَّ چې بېشکه مَعَ ٱللَّهِ د
الله تعالى سره ءَالِهَةً أُخْرَىٰ ۚ بل معبود هم شته دی؟(يعني تاسو پرته د
علم څخه د دروغو د الله تعالى سره نور معبودان شريکوئ) قُل
(ورته)ووايه لَّآ أَشْهَدُ ۚ زه (هيڅکله) داسې شاهدي نه وايم(چې
نعوذبالله د الله تعالى سره بل معبود هم شته) قُلْ (ورته)ووايه إِنَّمَا
بېشکه خبره دا ده چې: هُوَ هغه جل جلاله إِلَـٰهٌ وَٰحِدٌ (يوازې) يو
معبود دی(يعني په کائناتو کې يوازې يو الله تعالى لايق د بندګۍ دی، بل
معبود نشته دی) وَإِنَّنِى او بېشکه زه بَرِىٓءٌ بيزاره يم مِّمَّا د هغه
څه نه تُشْرِكُونَ چې تاسو شريکان جوړوئ(د الله تعالى سره) ١٩

ٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَـٰهُمُ ٱلْكِتَـٰبَ يَعْرِفُونَهُۥ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَآءَهُمُ ۘ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ
فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ٢٠

ٱلَّذِينَ هغه خلک ءَاتَيْنَـٰهُمُ چې مونږ هغوی ته ورکړې دی ٱلْكِتَـٰبَ
کتاب يَعْرِفُونَهُۥ هغوی (داسې محمد«صلى الله عليه وسلم) پيژني كَمَا
لکه څنګه چې يَعْرِفُونَ پيژني هغوی أَبْنَآءَهُمُ ۘ ځامن خپل(نو ډېرو
يهوديانو ايمان راوړو،مګر) ٱلَّذِينَ هغو خلکو(د کتابيانو څخه چې د
عناد او ضد په سبب يې ايمان رانوړو،سره د دې چې نبي عليه السلام يې
ښه پيژندلو،نو) خَسِرُوٓا۟ دوی په تاوان کې واچول أَنفُسَهُمْ ځانونه
خپل فَهُمْ نو دوی لَا يُؤْمِنُونَ ايمان نه راوړي(د ضد او عناد په سبب)
٢٠

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِـَٔايَـٰتِهِۦٓ ۗ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلظَّـٰلِمُونَ
٢١

وَمَنْ او څوک أَظْلَمُ ډېر ظالم دی مِمَّنِ د هغه چا نه ٱفْتَرَىٰ چې
جوړوي عَلَى ٱللَّهِ په الله تعالی باندې كَذِبًا دروغ أَوْ يا كَذَّبَ
دروغ ګڼي بِـَٔايَٰتِهِۦٓ آیاتونه د هغه«جل جلاله» إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ
بېشکه ظالمان نه کامیابیږي ٢١

وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشْرَكُوٓاْ أَيْنَ شُرَكَآؤُكُمُ ٱلَّذِينَ كُنتُمْ
تَزْعُمُونَ ٢٢

وَيَوْمَ او په هغه ورځ نَحْشُرُهُمْ چې مونږ به راجمع کړو هغوی
جَمِيعًا ټول ثُمَّ نَقُولُ بیا به مونږ وایو لِلَّذِينَ هغو خلکو ته أَشْرَكُوٓاْ
چې شرک یې کړئ دی أَيْنَ چې چیرته دي شُرَكَآؤُكُمُ شریکان
ستاسو ٱلَّذِينَ هغه(شریکان) كُنتُمْ تَزْعُمُونَ چې تاسو به(د الله تعالی
سره شریک) ګڼل ٢٢

ثُمَّ لَمْ تَكُن فِتْنَتُهُمْ إِلَّآ أَن قَالُواْ وَٱللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ ٢٣

ثُمَّ بیا لَمْ تَكُن به نه وي فِتْنَتُهُمْ د دوی(بله) بهانه إِلَّآ پرته د دې نه
أَن چې قَالُواْ وایې به دوی وَٱللَّهِ په الله قسم رَبِّنَا چې زمونږ رب
دی مَا كُنَّا چې مونږ نه و مُشْرِكِينَ مشرکان ٢٣

ٱنظُرْ كَيْفَ كَذَبُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْۚ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُواْ يَفْتَرُونَ ٢٤

ٱنظُرْ وګوره كَيْفَ څنګه كَذَبُواْ دروغ وایې دوی عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْۚ په
خپلو ځانونو باندې(د قیامت په ورځ) وَضَلَّ او ورک به شي عَنْهُم د
دوی نه مَّا هغه(معبودان) كَانُواْ يَفْتَرُونَ چې دوی به جوړول(په دنیا
کې، چې ګڼي دوی به زمونږ سفارش وکړي او د الله تعالی د عذاب نه به
مو خلاص کړي او د دوی په سفارش به جنت لاړ شو) ٢٤

وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ ۖ وَجَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ وَفِىٓ ءَاذَانِهِمْ
وَقْرًا ۚ وَإِن يَرَوْا۟ كُلَّ ءَايَةٍ لَّا يُؤْمِنُوا۟ بِهَا ۚ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوكَ يُجَٰدِلُونَكَ يَقُولُ
ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِنْ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ٢٥

کله به چې نبي علیه السلام د تهجد لمونځ کولو نو ځینې مشرکانو به ورته په دې غرض غوږ نیولو چې دا څه وایې او یا یې نعوذبالله کومه غلطي پداکړي،لیکن په دې غرض یې ورته غوږ نه نیولو چې ایمان راوړي،

وَمِنْهُم او ځینې د دوی نه مَّن هغه څوک دي يَسْتَمِعُ چې غوږ نیسې إِلَيْكَ ۖ تا ته(په تا باندې د اعتراض پیدا کولو دپاره) وَجَعَلْنَا حال دا چې ګرځولي دي مونږ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ د دوی په زړونو باندې أَكِنَّةً پردې أَن يَفْقَهُوهُ د پوهې د قرآن نه وَفِىٓ ءَاذَانِهِمْ او په غوږونو د دوی کې وَقْرًا ۚ بوج(یعنې که دوی قرآن د ایمان راوړلو او پوهیدلو دپاره نه اوري نو الله تعالی هم د دوی ایمان راوړلو ته څه ضرورت نلري.) وَإِن يَرَوْا۟ او که دوی وګورې كُلَّ ءَايَةٍ هره نښه لَّا يُؤْمِنُوا۟ ایمان نه راوړي دوی بِهَا ۚ په هغې باندې حَتَّىٰٓ د دې پورې إِذَا جَآءُوكَ کله چې تا ته راشي يُجَٰدِلُونَكَ جګړه درسره کوي يَقُولُ وایې ٱلَّذِينَ هغه خلک كَفَرُوٓا۟ چې کافران دي إِنْ هَٰذَآ نه دی دا (قرآن) إِلَّآ مګر أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ زړې قصې دي ٢٥

وَهُمْ يَنْهَوْنَ عَنْهُ وَيَنْـَٔوْنَ عَنْهُ ۖ وَإِن يُهْلِكُونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ٢٦

وَهُمْ يَنْهَوْنَ او دوی خلک منع کوي عَنْهُ د دغه(قرآن د منلو نه په دې چې خلکو ته وایې چې دا د الله تعالی کتاب نه دی،هسې پخوانۍ قصې دي) وَيَنْـَٔوْنَ او دوی (پخپله هم)لرې تښتي عَنْهُ ۖ د دغه(قرآن)څخه وَإِن يُهْلِكُونَ (او دوی فکر کوي چې په دې به دوی تا ته ضرر رسولای شي)

حال دا چې دوی نه هلاکوي إِلَّآ مګر أَنفُسَهُمْ خپل ځانونه(هلاکوي)
وَمَا يَشْعُرُونَ او دوی نه پوهیږي. ٢٦

وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذْ وُقِفُواْ عَلَى ٱلنَّارِ فَقَالُواْ يَٰلَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّنَا وَنَكُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ٢٧

وَلَوْ تَرَىٰٓ او که چیرته وګورې ته(دوی) إِذْ وُقِفُواْ هغه وخت کله چې ودرول شي دوی عَلَى ٱلنَّارِ په اور باندې فَقَالُواْ نو وایې به يَٰلَيْتَنَا کاشکې چې مونږ نُرَدُّ واپس(دنیا ته لاړ) شو(نو تصدیق به وکړو د نبي علیه السلام ) وَلَا نُكَذِّبَ او دروغ به نه ګڼو مونږ بِـَٔايَٰتِ رَبِّنَا د خپل رب آیاتونه وَنَكُونَ او شو به مونږ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ د مؤمنانو څخه.
٢٧

بَلْ بَدَا لَهُم مَّا كَانُواْ يُخْفُونَ مِن قَبْلُ ۖ وَلَوْ رُدُّواْ لَعَادُواْ لِمَا نُهُواْ عَنْهُ وَإِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ ٢٨

بَلْ بلکې(دا خو) بَدَا ظاهر شو لَهُم دوی ته مَّا هغه(حقیقت) كَانُواْ يُخْفُونَ چې دوی پټولو مِن قَبْلُ ۖ د دې نه مخکې(په زړونو کې،داسې نه ده چې دوی مخکې د حقیقت نه خبر نه و،حق د مخکې څخه دوی ته پوره واضح و،لیکن په دوی باندې د حسد،بغض او تکبر پردې پرتې وې.) وَ لَوْ او که(بالفرض) رُدُّواْ دوی دنیا ته واپس هم ولیږل شي لَعَادُواْ لِمَا (نو بیا به هم) خامخا دوی هماغه څه کوي نُهُواْ عَنْهُ چې د هغې څخه منع شوي دي وَإِنَّهُمْ او بیشکه لَكَٰذِبُونَ دوی دروغجن دي ٢٨

وَقَالُوٓاْ إِنْ هِىَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ ٢٩

وَقَالُوٓاْ او دوی وايي إِنۡ هِيَ نه دی دا(ژوند) إِلَّا مګر حَيَاتُنَا ٱلدُّنۡيَا
همدا دنيايي ژوند دی وَمَا نَحۡنُ بِمَبۡعُوثِينَ او(د مرګ نه وروسته به
دوباره)مونږ. هيڅکله بيا راژوندي نه شو ٢٩

وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذۡ وُقِفُواْ عَلَىٰ رَبِّهِمۡۚ قَالَ أَلَيۡسَ هَٰذَا بِٱلۡحَقِّۚ قَالُواْ بَلَىٰ وَرَبِّنَاۚ قَالَ
فَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَ بِمَا كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ ٣٠

وَلَوۡ تَرَىٰٓ او كه ته ووينې إِذۡ وُقِفُواْ هغه وخت كله چې دوی ودرول شي
عَلَىٰ رَبِّهِمۡۚ رب خپل ته قَالَ (الله تعالی به ورته)وفرمايي أَلَيۡسَ آيا
نه دی هَٰذَا دا ژوند بِٱلۡحَقِّۚ رښتيا؟(آيا دا ژوند رښتيا نه دی؟ قَالُواْ
دوی به ووايي بَلَىٰ ولي نه،رښتيا دی وَرَبِّنَاۚ قسم په رب زمونږ.(يعن
زمونږ دې په خپل رب قسم وي چې د آخرت ژوند رښتيا دی) قَالَ
(الله تعالی به ورته)وفرمايي فَذُوقُواْ نو اوسکئ ٱلۡعَذَابَ عذاب بِمَا
په سبب دهغه(کفر) كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ چې تاسو کولو(په دنيا کې) ٣٠

قَدۡ خَسِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِلِقَآءِ ٱللَّهِۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَتۡهُمُ ٱلسَّاعَةُ بَغۡتَةٗ قَالُواْ يَٰحَسۡرَتَنَا
عَلَىٰ مَا فَرَّطۡنَا فِيهَا وَهُمۡ يَحۡمِلُونَ أَوۡزَارَهُمۡ عَلَىٰ ظُهُورِهِمۡۚ أَلَا سَآءَ مَا
يَزِرُونَ ٣١

قَدۡ بيشکه خَسِرَ تاوانيان شو ٱلَّذِينَ هغه خلک كَذَّبُواْ چې دروغ يې
وګڼلو بِلِقَآءِ ٱللَّهِۖ ملاقات د الله تعالی سره(يعني چې دا دروغ ګڼي چې
پس د مرګ نه به ژوندی شم او د حشر په ميدان کې به الله تعالی راسره
حساب کوي) حَتَّىٰٓ إِذَا حتی چې کله جَآءَتۡهُمُ راشي په دوی ٱلسَّاعَةُ
قيامت بَغۡتَةٗ ناڅاپه(يعني چې په سترګو قيامت وګورې نو) قَالُواْ وايي
به يَٰحَسۡرَتَنَا افسوس دی زمونږ عَلَىٰ مَا په هغې فَرَّطۡنَا کوتاهی
باندې چې کړې ده مونږ فِيهَا په باره د(قيامت)کې وَهُمۡ يَحۡمِلُونَ او دوی
به وړي أَوۡزَارَهُمۡ پيټې (د ګناهونو) خپل عَلَىٰ ظُهُورِهِمۡۚ په خپلو

شاګانو باندې(یعنې د خپلو ګناهونو پیټی به د هر چا په شا وي او د حشر
میدان ته به روان وي) أَلَا خبردار سَآءَ ډېر بد دي مَا هغه پیټي
یَزِرُونَ چې دوی یې په شا ګرځوي(یعنې ګناهونو ته به جسمونه ورکول
شي او هر چا به خپل ګناهونه په شا کړي وي،خلک به یې ګورې، او د
حشر په میدان کې به ګرځې،او د حساب انتظار به کوي) ٣١

وَمَا ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَآ إِلَّا لَعِبٌ وَلَهْوٌ ۖ وَلَلدَّارُ ٱلْـَٔاخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَ ۗ أَفَلَا
تَعْقِلُونَ ٣٢

وَمَا ٱلْحَيَوٰةُ او نه دی ژوند ٱلدُّنْيَآ د دنیا إِلَّا مګر لَعِبٌ یوه لوبه
وَلَهْوٌ ۖ او تماشا ده(د آخرت د ژوند په مقابل کې) وَلَلدَّارُ او یقیناً کور
ٱلْـَٔاخِرَةُ د آخرت خَيْرٌ ډېر بهتر دی لِّلَّذِينَ هغه خلکو ته يَتَّقُونَ ۗ
چې پرهیزګاره دي(یعنې د پرهیزګارانو کور به جنت وي او د نافرمانو
کور به دوزخ وي) أَفَلَا تَعْقِلُونَ نو آیا تاسو عقل نه استعمالوئ ٣٢

قَدْ نَعْلَمُ إِنَّهُۥ لَيَحْزُنُكَ ٱلَّذِى يَقُولُونَ ۖ فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَـٰكِنَّ ٱلظَّـٰلِمِينَ بِـَٔايَـٰتِ
ٱللَّهِ يَجْحَدُونَ ٣٣

قَدْ یقیناً نَعْلَمُ مونږ پوهیږو إِنَّهُۥ چې هغه(څه) لَيَحْزُنُكَ خامخا
ځوروي تا ٱلَّذِى کوم چې يَقُولُونَ ۖ هغوی وایي(یعنې کافران چې ستا
په باره کې کومې خبرې کوي او تا ځوروي ستا رب پرې خبر دی)
فَإِنَّهُمْ خو بېشکه هغوی لَا يُكَذِّبُونَكَ ستا تکذیب نه کوي وَلَـٰكِنَّ لیکن
ٱلظَّـٰلِمِينَ دا ظالمان بِـَٔايَـٰتِ ٱللَّهِ د الله تعالی د آیاتونو نه يَجْحَدُونَ انکار
کوي. ٣٣

وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّن قَبْلِكَ فَصَبَرُوا۟ عَلَىٰ مَا كُذِّبُوا۟ وَأُوذُوا۟ حَتَّىٰٓ أَتَىٰهُمْ
نَصْرُنَا ۚ وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَـٰتِ ٱللَّهِ ۚ وَلَقَدْ جَآءَكَ مِن نَّبَإِى۟ ٱلْمُرْسَلِينَ ٣٤

وَلَقَدْ او بېشكه كُذِّبَتْ دروغجن ګڼل شوي دي رُسُلٌ ( نور) پيغمبران مِّن قَبْلِكَ مخكې د ستا څخه فَصَبَرُواْ خو هغوی صبر وکړو عَلَىٰ مَا په هغې كُذِّبُواْ دروغجن ګڼلو باندې وَأُوذُواْ (او صبر يې وکړو په هغو)تکليفونو باندې چې ورسول شوي و حَتَّىٰٓ د هغې پورې چې أَتَىٰهُمْ راغئ هغوی ته نَصْرُنَا ۚ کومک زمونږ. وَلَا او نشته (هيڅوک) مُبَدِّلَ بدلونکئ لِكَلِمَٰتِ ٱللَّهِ ۚ د الله تعالی د خبرو(يعني هيڅوک د الله تعالی د نصرت او کومک وعده نشي بدلولای) وَلَقَد او يقيناً جَآءَكَ راغلي دي تاته مِن نَّبَإِىْ خبرونه د ٱلْمُرْسَلِينَ د پيغمبرانو(په قرآنکريم کې چې د هغوی سره څنګه کومک وشو) ٣٤

وَإِن كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ إِعْرَاضُهُمْ فَإِنِ ٱسْتَطَعْتَ أَن تَبْتَغِىَ نَفَقًا فِى ٱلْأَرْضِ أَوْ سُلَّمًا فِى ٱلسَّمَآءِ فَتَأْتِيَهُم بِـَٔايَةٍ ۚ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَمَعَهُمْ عَلَى ٱلْهُدَىٰ ۚ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْجَٰهِلِينَ ٣٥

د کافرانو غوښتنه وه که نبي عليه السلام د الله تعالی رسول يې،نو د هغه سره بايد هر وخت داسې معجزه وي چې خوک يې ګورې نو سمدستي به په ايمان راوړلو مجبوريږي،او ايمان به راوړي.چون نبي عليه السلام د خلکو په ايمان راوړلو باندې ډېر حريص و،کيدای شي چې په زړه کې تير شوي وي چې که داسې يوه نښه يا معجزه وي چې د هغې په ليدلو خلک ايمان راوړي نو ښه به وي،نو دا آيات نازل شو،يعني الله تعالی داسې نه کوي ،چې خلک مجبور کړي او په زوره پرې ايمان راوړي،ځکه چې الله تعالی خو د انسانانو څخه امتحان اخلي،نو که مجبور يې کړي او په زوره پرې ايمان راوړي نو بيا خو امتحان ختم شو،فرمايي!

وَإِن او كه چيرته كَانَ وي كَبُرَ گرانه عَلَيْكَ په تا باندې
إِعْرَاضُهُمْ مخ اړول د هغوی(يعني كه د كافرانو ايمان نه راوړل تا ډېر
خفه كوي،او ته غواړي چې بايد حتماً ايمان راوړي،او د هغوی د غوښتنې
سره سم چې څه قسم معجزې او نښې غواړي ،بايد وروښودل شي،خو الله
تعالی داسې نه كوي) فَإِنِ او كه ته ٱسْتَطَعْتَ كولای شې أَن تَبْتَغِيَ
چې ولټوې نَفَقًا يو سورنګ فِي ٱلْأَرْضِ په ځمكه كې أَوْ يا سُلَّمًا
يوه زينه(اندرپايه) فِي ٱلسَّمَآءِ په آسمان كې فَتَأْتِيَهُم نو راوړه هغوی
ته بِـَٔايَةٍ يوه معجزه(يعني داسې معجزه يا نښه ورته راوړه چې په ليدلو
يې هغوی مجبور شي او ايمان راوړي،مګر ته داسې نه شې كولای، ستا
په ذمه يوازې د الله تعالی پيغام رسول دي،او هدايت وركول د الله تعالی
كار دی) وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ او كه الله تعالی غوښتلي و لَجَمَعَهُمْ خامخا به يې
راټول كړي و هغوی عَلَى ٱلْهُدَىٰ په هدايت باندې(يعني كه الله تعالی
وغواړي،په يوه لحظه كې به ټولو انسانانو ته هدايت وكړي او ټول به
ايماندار او فرمانبردار شي،ليكن الله تعالی انسان دنيا ته د امتحان دپاره د
اختيار،عقل او علم سره راليږلئ دی،چې په خپله خوښه يا د جنت لار او
يا د دوزخ لار انتخاب كړي) فَلَا تَكُونَنَّ نو مه كيږه ته مِنَ ٱلْجَٰهِلِينَ د
ناپوهانو نه. ٣٥

۞ إِنَّمَا يَسْتَجِيبُ ٱلَّذِينَ يَسْمَعُونَ ۘ وَٱلْمَوْتَىٰ يَبْعَثُهُمُ ٱللَّهُ ثُمَّ إِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ٣٦

۞ إِنَّمَا بېشكه يَسْتَجِيبُ قبلوي(دعوت د حق) ٱلَّذِينَ هغه خلک
يَسْمَعُونَ ۘ چې هغوی اوري(نصيحت خو هغه څوک يعني كافران چې
نصيحت نه اوري او د قرآن دعوت نه قبلوي،ستا خبرو ته كه غوږ ږدي
هغه هم د اعتراض كولو دپاره، نه د ايمان راوړلو دپاره،نو دا خلک د
مړو په شان دي) وَٱلْمَوْتَىٰ او مړي يَبْعَثُهُمُ ٱللَّهُ به الله تعالی راژوندي

کړي ثُمَّ إِلَيْهِ بيا به د هغه جل جلاله(محکمې ته د وړاندې کيدلو دپاره)
يُرْجَعُونَ بيرته وروستل کيږي. ٣٦

وَقَالُواْ لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ ءَايَةٌ مِّن رَّبِّهِۦۚ قُلْ إِنَّ ٱللَّهَ قَادِرٌ عَلَىٰٓ أَن يُنَزِّلَ ءَايَةً وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ٣٧

وَقَالُواْ او کافران وايي لَوْلَا نُزِّلَ چې ولې نه نازليږي عَلَيْهِ په نبي عليه السلام باندې ءَايَةٌ (داسې) يوه معجزه مِّن رَّبِّهِۦ د هغه د رب د طرف نه(کومه چې مونږ غواړو) ۚ قُلْ (ورته)ووايه إِنَّ ٱللَّهَ بېشکه الله تعالى قَادِرٌ قادر دى عَلَىٰٓ په دې باندې أَن چې يُنَزِّلَ نازل کړي ءَايَةً (داسې) يوه معجزه(چې دوى يې غواړئ،يعنې الله تعالى د دوى د فرمايشي معجزو د ښودلو څخه عاجز نه دى،مګر دا د الله تعالى د حکمت تقاضاء ده،چې فرمايشي معجزې ورته ونه ښودل شي ) وَلَٰكِنَّ ليکن أَكْثَرَهُمْ اکثره د دوى لَا يَعْلَمُونَ نه پوهيږي. ٣٧

وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا طَٰٓئِرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلَّآ أُمَمٌ أَمْثَالُكُمۚ مَّا فَرَّطْنَا فِى ٱلْكِتَٰبِ مِن شَىْءٍۚ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِمْ يُحْشَرُونَ ٣٨

وَمَا او نشته مِن دَآبَّةٍ د يو خوځيدونکي نه فِى ٱلْأَرْضِ په ځمکه کې وَلَا او نه طَٰٓئِرٍ يو مرغه يَطِيرُ چې هغه الوزي بِجَنَاحَيْهِ په خپلو وزرونو باندې(يعنې نه په ځمکه کې يو خوځيدونکئ او نه يو الوتونکئ داسې شته چې پخپل سر په غيرې منظم ډول بې مقصده پيدا کيږي او فناه کيږي) إِلَّآ مګر(دا مختلف ژوندي موجودات چې تاسو ګورئ،دا ټول) أُمَمٌ امتونه دي أَمْثَالُكُمۚ ستاسو په شان(يعنې هر يو د يو امت يا جماعت يا يوې ټولنې يا يوې نوعې يو فرد دى، لکه څنګه چې تاسو د انساني

نوعې يا ټولنې يا امت افراد ياستئ،دې ته يې مه ګورئ چې غټ دي که واړه،بلکې هر يو د يو منظم نظام لاندې د يو خاص مقصد دپاره کار کوي د ستاسو په شان،مثلاً د شاتو مچې د يو شاهي نظام د اصولو په اساس کار کوي،يعنې ملکه،فوج،محافظين،کارګر او نور، ټول لکه د انسانانو په شان منظم کار کوي، ميږيان د يو منظم نظام د اصولو په اساس کار کوي مثلاً ملکه،فوج،مارکيټ،کاريګر و غيره لري،همدارنګه ډېر زيات مثالونه نور هم شته چې ساينسدانانو کشف کړي دي.مطلب دا چې ټول ژوندي خوځيدونکې موجودات الله تعالى د مختلفو امتونو او انواعو په قسم په ډېر دقيق حساب او اندازو سره پيدا کوي دا په دې معنى چې :هر ميږى،هره مچۍ،هره بکټريا اور نور ټول د يو دقيق حساب د مخې د يو مقصد دپاره پيدا کيږي ،او هر امت يا نوع لکه د انسانانو په شان په ميلياردونو او ترليونو افراد يا غړي لري،او ټول افراد يا غړي د يو منظم نظام لاندې د يو خاص مقصد دپاره کار کوي،او په لوح محفوظ کې د ليکل شوي تقدير مطابق په معلوم وخت او ځاى کې فناه کيږي.) مَّا فَرَّطۡنَا (او)مونږ نه دي پريښې فِي ٱلۡكِتَٰبِ په کتاب کې(يعنې په لوح محفوظ کې ليکل) مِن شَيۡءٖۚ د هيڅ يو شي(يعنې حتې د يوې زرې يا اتوم جوړيدل،او د زرو څخه د ماليکول او اجسامو جوړيدل،او په هغې کې بيا ژوند اچول،بيا مختلف ژوندې موجودات جوړيدل،د ژونديو موجوداتو مقصد،او لحظه په لحظه کار کول، او بيرته فناه کيدل دا ټول په لوح محفوظ کې ليکل شوي دي،او د همدې ليک او پروګرام مطابق کائنات چليږي) ثُمَّ بيا(کله چې قيامت شي،دا ټول به) إِلَىٰ رَبِّهِمۡ خپل رب ته يُحۡشَرُونَ ورجمع کيږي. ٣٨

وَٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا صُمّٞ وَبُكۡمٞ فِي ٱلظُّلُمَٰتِۗ مَن يَشَإِ ٱللَّهُ يُضۡلِلۡهُ وَمَن يَشَأۡ يَجۡعَلۡهُ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٣٩

وَٱلَّذِينَ او هغه خلک چې دروغ وايې كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا زمونږ په آياتونو باندې صُمّٞ كاڼړه دي(د حق د اوریدلو دپاره) وَبُكۡمٞ او ګونګیان دي(د حق د ویلو دپاره ،حق نه وايې) فِي ٱلظُّلُمَٰتِۗ په تیارو کې دي (یعني د تعصب او جهل په تیارو کې دي،او حق نه ګورې) مَن يَشَإِ ٱللَّهُ څوک چې الله تعالی وغواړي(د هغه د بدو اعمالو په سبب چې هغه ئې مستحق دی) يُضۡلِلۡهُ ګمراه کوي يې وَمَن يَشَأۡ او څوک چې الله تعالی وغواړي(د هغه د نیکو اعمالو په سبب چې هغه ئې مستحق دی) يَجۡعَلۡهُ برابروي يې عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ په سمه لار باندې.(تر څو چې انسان پخپله د ګمراهۍ یا هدایت لار اختیا نکړي، الله تعالی هیڅوک نه ګمراه کوي،او نه يې په سمه لار روانوي،بلکې انسان پخپله د خپلو بدو اعمالو په سبب ځان ګمراه کوي او دوزخ ته ځې،او یا د خپلو نیکو اعمالو په سبب هدايت ته ځان رسوي او جنت ته ځې،ځکه چې الله تعالی عادل دی،او دا د الله تعالی د عدالت او انصاف تقاضاء ده،چې په دنیا کې د امتحان په دې دوران کې الله تعالی نه په چا سوالونه غلطوي،او نه د چا سوالونه صحیح کوي،بلکې هر چاته يې عقل،علم،فطرت، وجدان او اختیار ورکړئ دی،معلمان یعنې پیغمبران او کتابونه یې ورته رالیږلي دي،نور د بنده خپله خوښه ده چې درس وايې که نه،د معلمانو خبره مني او که نه،عقل او فطرت سم استعمالوي که غلط،سوالونه صحیح حلوې او که غلط؟نه الله تعالی په چا لمونځ کوي،او نه په چا شراب څکې،نه په چا روژې نیسې او نه په چا غلا کوي او داسې نور...عجیبه خبره ده چې په دنیا کې په یو معلم هم څوک دا ګُمان نکوي چې د امتحان په صحنه کې شاګردانو ته نقل ورکوي،ځکه چې دا کار د امتحان د اصولو او عدالت خلاف دی.خو کله چې د الله تعالی د امتحان اخستلو خبره راشي،نو اکثره خلک الله تعالی باندې داسې تهمتونه وايې چې په انسانانو يې نه وايې،په

دې خبره د ښه پوهیدو دپاره اول باید په دې پوه شو چې مونږ امتحان
ورکوو،او الله تعالی امتحان اخلي،دنیا د امتحان کوټه ده،عمر د امتحان
وخت دی،زمونږ څخه د هر چا خپله-خپله پرچه په لاس کې ده او
سوالونه حلوو،د هر سوال او جواب ویډیو ریکارډینګ کیږي،او الله تعالی
هر څه ګوري،نو که څوک ووایي چې فلانکۍ الله تعالی ګمراه کړو،نو دا
خو په الله تعالی لوی تهمت دی،د دې مطلب خو دا شو چې ګنې الله تعالی
د امتحان په صحنه کې مداخله وکړه او د فلانکي شاګرد ټول سوالونه یې
غلط کړل او د دوزخ په لار ئې روان کړو،او که څوک ووایي چې
فلانکي ته الله تعالی هدایت وکړو،د دې مطلب خو دا شو چې الله تعالی د
امتحان په صحنه کې پخپله مداخلت وکړو،او د فلانکي شاګرد ټول
سوالونه یې صحیح کړل او د جنت په لار ئې روان کړو،چې داسې کول د
الله تعالی د عدالت او انصاف خلاف کار دی،نو هغه کار چې د هغه په
کولو تاسو ته انسان بد ښکاري او خاین ورته وایئ،بیا نو داسې کار الله
تعالی ته ولې منسوبوئ،دا خبره په قرآنکریم کې په نورو ځایونو ښه
واضح شوي ده،چې بنده هر څه کوي پخپله خوښه او اختیار یې کوي مثلاً
په سورةالانسان کې فرمایي

إِنَّا هَدَيۡنَٰهُ ٱلسَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرٗا وَإِمَّا كَفُورًا(مونږ انسان ته لار وښودله،یا به
شکر کوونکۍ شي اویا به کفر کوونکۍ)یعنې دا امتحان الله تعالی په پټو
سترګو د انسان څخه نه اخلي بلکې د امتحان د ټولو ضروري صلاحیتونو
سره یې رالیږي. وَهَدَيۡنَٰهُ ٱلنَّجۡدَيۡنِ او دوه لارې مونږ وروښودلې(دا ښه لار
ده دا بده،دا د جنت لار ده دا د دوزخ) ﴿١٠﴾ فَأَلۡهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقۡوَىٰهَا او د
هغه بدې او تقوی (نیکې)ئې هغه ته الهام کړي(یعنې هر انسان پوهیږي
چې دا بد دي او دا ښه دي) ﴿٨﴾ او عقل، فطرت پوره ازادي او اختیار
ورکول شوئ دی،پیغمبران او کتابونه ورته راغلي دي) ﴿٣﴾ يُثَبِّتُ ٱللَّهُ

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱلۡقَوۡلِ ٱلثَّابِتِ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ (وَيُضِلُّ ٱللَّهُ ٱلظَّٰلِمِينَۚ«الله تعالی ظالمان ګمراه کوي»)یعنې د ظلم په سبب یې ګمراه کوي،مطلب دا چې بنده پخپله د ګمراهۍ سبب برابروي،چې ګمراه شي نه دا چې الله تعالی بنده په ظلم کولو مجبوروي چې ګمراه شي) وَيَفۡعَلُ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ ﴿ سورةالابراهیم ۲۷﴾ وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا لَنَهۡدِيَنَّهُمۡ سُبُلَنَاۚ(او څوک چې زمونږ په لار کې کوشش کوي خامخا به هغوی ته مونږ خپلې لارې وروښیو،یعنې الله تعالی هیڅوک نه مجبوروي چې نیک کارونه وکړي،چې د الله تعالی خوښ شي او بیا سمه لار وروښيې،بلکې هر سړی پخپله نیک کارونه کوي،کله چې یې اعمال د هدایت مستحق شي نو الله تعالی ورته هدایت کوي) وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿۶۹العنکبوت﴾ او بله د الله تعالی د رحم خبره ده، بېشکه چې الله تعالی رحیم دی،مګر د الله تعالی رحم صرف په هغه چا کیږي چې د هغه اعمال د الله تعالی د رحم مستحق شي،یعنې د الله تعالی رحم هم پخپل کوشش حاصلیږي،نو د بعضې صاحبانو ډېره لویه غلطي دا ده چې څه یې زړه غواړي هغه کوي،خو بیا وایې چې الله غفور او رحیم دی،بېشکه چې غفور او رحیم دی خو په هغه چا چې د چا اعمال د هغه جل جلاله د بخښنې او رحم مستحق وي،او که داسې نه وي نو خپل ځان ته دوکه ورکول دي.او بله دا خبره باید واضح شي چې په حقیقت کې کارونه ټول الله تعالی کوي،دا په دې معنی چې ټول کارونه صرف د الله تعالی د ارادې نه کیږي،مخکې د دې څخه چې د بنده په زړه کې د یو نیک یا بد کار اراده راځې الله تعالی ورباندې پوهیږي،تر څو چې د هغې کار د کولو په باره کې د الله تعالی اراده ونشي هغه کار نه کیږي،یا په بل عبارت په ټولو تشریعي کارونو کې(یعنې هغه کارونه چې د هغې د کولو او نه کولو اختیار بنده ته ورکول شوئ دی) د بنده اراده د الله تعالی د ارادې پواسطه پوره کیږي،لیکن په ټولو تشریعي کارونو کې

اصلي اراده او اختيار صرف د بنده وي،خکه ورسره الله تعالى حساب
کوي او پوښتنه ترې کوي. ۳۹

قُلْ أَرَءَيْتَكُمْ إِنْ أَتَىٰكُمْ عَذَابُ ٱللَّهِ أَوْ أَتَتْكُمُ ٱلسَّاعَةُ أَغَيْرَ ٱللَّهِ تَدْعُونَ إِن كُنتُمْ
صَٰدِقِينَ ٤٠

قُلْ (کافرانو ته) ووايه أَرَءَيْتَكُمْ آيا تاسو پوهيږئ إِنْ که چېرته
أَتَىٰكُمْ راشي په تاسو عَذَابُ ٱللَّهِ عذاب د الله تعالى أَوْ يا أَتَتْكُمُ راشي
په تاسو ٱلسَّاعَةُ قيامت أَغَيْرَ ٱللَّهِ آيا(په هغه وخت کې به) پرته د الله
تعالى څخه(بل څوک) تَدْعُونَ تاسو(د مدد دپاره)رابلئ(يعني که د الله
عذاب درباندې راشي،نو آيا په هغي وخت کې به بتانو يا نورو معبودانو
ته د کومک دپاره چغې وهئ) إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ که چيرته تاسو رښتيني
ياستئ(نو جواب راکړئ) ٤٠

بَلْ إِيَّاهُ تَدْعُونَ فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُونَ إِلَيْهِ إِن شَآءَ وَتَنسَوْنَ مَا تُشْرِكُونَ ﴿٤١﴾

بَلْ بلکې(په هغې وخت کې کله چې عذاب درباندې راشي،کله چې لس
زره متره د ځمکې څخه جګ د هوايي جهاز انجن کار پرېږدي،کله چې
بحرې طوفان راشي او د کشتۍ د غرقيدو خطر وي ) إِيَّاهُ يوازې
هغه«جل جلاله» ته تَدْعُونَ تاسو اواز کوئ(د کومک دپاره چې د
عذاب او خطر څخه مو خلاص کړي،بيا نه بت ته اواز کوئ او نه پرته د
الله نه بل معبود ته،ځکه چې دا ستاسو د فطرت اواز دی چې په نارمل
حالاتو کې تاسو زندی وراچولې يې،خو کله چې د رښتيا ځای راشي بيا
يې منئ) فَيَكْشِفُ نو هغه«جلا جلاله)نجات درکوي مَا د هغه(مصيبت
څخه د کوم دپاره چې) تَدْعُونَ تاسو اواز کوئ إِلَيْهِ هغه«جل جلاله»
(چې نجات ته إِن شَآءَ که چېرته هغه «جل جلاله» وغواړي

درکړي) وَتَنسَوْنَ او(په داسې وخت کې)هېروئ تاسو مَا
هغه(معبودان) تُشْرِكُونَ چې تاسو يې د الله تعالی سره شريکوئ. ٤١

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَآ إِلَىٰٓ أُمَمٍ مِّن قَبْلِكَ فَأَخَذْنَـٰهُم بِٱلْبَأْسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُونَ
٤٢

وَلَقَدْ او(ای محمد«صلی الله عليه وسلم») بېشکه أَرْسَلْنَآ ليږلي دي مونږ
إِلَىٰٓ أُمَمٍ ډېرو امتونو ته(پيغمبران) مِّن قَبْلِكَ ستا څخه مخکې(خو چا
چې د هغوی پيروي ونکړه،او دروغجن يې وګڼل) فَأَخَذْنَـٰهُم نو مونږ
ونيول هغوی بِٱلْبَأْسَآءِ په مالي تکليفونو وَٱلضَّرَّآءِ او په ځاني
تکليفونو(يعني مالي او ځاني عذابونه مو پرې راوستل) لَعَلَّهُمْ د دې
لپاره يَتَضَرَّعُونَ چې دوی عاجزي وکړي(خپل رب ته او مؤمنان شي)
٤٢

فَلَوْلَآ إِذْ جَآءَهُم بَأْسُنَا تَضَرَّعُوا۟ وَلَـٰكِن قَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيْطَـٰنُ مَا
كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ٤٣

فَلَوْلَا إِذْ جَآءَهُم بَأْسُنَا تَضَرَّعُوا۟ کله چې هغوی ته زمونږ عذاب راغئ نو
ولې هغوی عاجزي ونکړه(چې عذابترې لرې شوئ و) وَلَـٰكِن ليکن
قَسَتْ سخت شوي و قُلُوبُهُمْ زړونه د هغوی(ځکه يې د عذاب نه عبرت
وانخيست) وَزَيَّنَ او خايسته کړي و لَهُمُ هغوی ته ٱلشَّيْطَـٰنُ شيطان
مَا هغه(ناروا کارونه) كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ چې دوی به کول. ٤٣

فَلَمَّا نَسُوا۟ مَا ذُكِّرُوا۟ بِهِۦ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَٰبَ كُلِّ شَىْءٍ حَتَّىٰٓ إِذَا فَرِحُوا۟ بِمَآ
أُوتُوٓا۟ أَخَذْنَـٰهُم بَغْتَةً فَإِذَا هُم مُّبْلِسُونَ ٤٤

فَلَمَّا پس کله چې نَسُوا۟ هېر کړل دوی(قصداً يې پرېښودل) مَا
هغه(الهی احکام) ذُكِّرُوا۟ چې نصيحت کېدلو دوی ته بِهِۦ په

هغې(الهي احکامو باندې) فَتَحْنَا نو مونږ خلاصې کړې عَلَيْهِمْ په
دوی باندې أَبْوَٰبَ دروازې كُلِّ شَيْءٍ د هرشي(د دنیایي نعمتونو)
حَتَّىٰٓ د دې پورې إِذَا کله چې فَرِحُواْ دوی(دومره) خوشاله(او
مغرور) شو بِمَآ په سبب د هغې(نعمتونو) أُوتُوٓاْ چې دوی ته ورکول
شوي و(چې د د نیا په عیش او عشرت کې یې الله تعالی هیر کړو)
أَخَذْنَـٰهُم ( نو) ونیول مونږ دوی بَغْتَةً یو ناڅاپه(یو ناڅاپه مو ورباندې
عذاب راوستو،نو کله یې چې عذاب ولیدلو) فَإِذَا نو په هغې وخت کې
هُم دوی مُّبْلِسُونَ نا امیده شول.(یعنې د بې دینه او عیاشو خلکو د
عیاشۍ د وسایلو او دولت زیاتوالئ د دوی د نیکبختۍ علامه نه ده بلکې دا
د دوی دپاره ډېره خطرناکه علامه ده،دا خلک یو ناڅاپه الله تعالی رانیسي
او عذاب ورباندې راولي،چې په هغې وخت کې پرته د نا امیدۍ څخه نور
هیح نشي کولای). ٤٤

فَقُطِعَ دَابِرُ ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ ۚ وَٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ٤٥

فَقُطِعَ نو قطع شوې دَابِرُ ریښې ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ د هغو خلکو ظَلَمُواْ ۚ
چې هغوی ظلم کړئ و وَٱلْحَمْدُ او تولې ستاینې لِلَّهِ خاص د الله تعالی
دپاره دي رَبِّ چې پالونکئ ٱلْعَـٰلَمِينَ د عالمونو دی(او د ظالمانو
ریښې ئې وویستلې) ٤٥

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَخَذَ ٱللَّهُ سَمْعَكُمْ وَأَبْصَـٰرَكُمْ وَخَتَمَ عَلَىٰ قُلُوبِكُم مَّنْ إِلَـٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ
يَأْتِيكُم بِهِ ۗ ٱنظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ ٱلْـَٔايَـٰتِ ثُمَّ هُمْ يَصْدِفُونَ ٤٦

قُلْ (کافرانو ته) ووایه أَرَءَيْتُمْ آیا تاسو غور کړئ دی إِنْ که چیرته
أَخَذَ واخلې ٱللَّهُ الله تعالی سَمْعَكُمْ ستاسو د اوریدلو قوت وَأَبْصَـٰرَكُمْ
او ستاسو د لیدلو قوت وَخَتَمَ او مهر ولګوي عَلَىٰ قُلُوبِكُم په زړونو
باندې ستاسو مَّنْ إِلَـٰهٌ (نو بل) څوک معبود غَيْرُ ٱللَّهِ پرته د الله نه شته

يَأۡتِيكُم چې تاسو ته درکړي بِهِۗ دغه(د اوریدلو،لیدلو،فکر کولو او
پوهیدلو قوتونه؟یعني هیڅوک نشته،که ټول کائنات په ګده سره کوشش
وکړي،پرته د الله تعالی څخه به د انسان یوه سترګه هم جوړه نکړي)
ٱنظُرۡ اوګوره كَيۡفَ څنګه نُصَرِّفُ بیانوو مونږ ٱلۡأٓيَٰتِ دلایل(د
قدرت خپل) ثُمَّ بیا(هم) هُمۡ دوی(یعني کافران) يَصۡدِفُونَ مخ اړوي(د
حق نه). ٤٦

قُلۡ أَرَءَيۡتَكُمۡ إِنۡ أَتَىٰكُمۡ عَذَابُ ٱللَّهِ بَغۡتَةً أَوۡ جَهۡرَةً هَلۡ يُهۡلَكُ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلظَّٰلِمُونَ
٤٧

قُلۡ (کافرانو ته) ووايه أَرَءَيۡتَكُمۡ آیا تاسو غور کړئ دی إِنۡ که چیرته
أَتَىٰكُمۡ راشي تاسو ته عَذَابُ عذاب ٱللَّهِ د الله تعالی بَغۡتَةً یو ناڅاپه أَوۡ
یا جَهۡرَةً ښکاره(یعني چې ترې خبر یئ چې عذاب راځي) هَلۡ يُهۡلَكُ
(نو) آیا (څوک)به هلاک شي إِلَّا پرته ٱلۡقَوۡمُ ٱلظَّٰلِمُونَ د ظالمانو
څخه(یعني هغه خلک چې په خپل ځان یې ظلم کړئ دی د الله تعالی په
نافرمانۍ کولو سره، هغوی به هلاک شي) ٤٧

وَمَا نُرۡسِلُ ٱلۡمُرۡسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَۖ فَمَنۡ ءَامَنَ وَأَصۡلَحَ فَلَا خَوۡفٌ
عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ٤٨

<u>کافرانو د نبي علیه السلام نه غوښتنه وکړه چې مونږ ستا خبره نه منو یا
یه مونږ عذاب راوله او یا زمونږ د خوښې مطابق معجزې راوړه.</u>

وَمَا نُرۡسِلُ او مونږ نه لیږو ٱلۡمُرۡسَلِينَ پیغمبران(د دې دپاره چې د خلکو
چټې او بیکاره خبرې ومني،او د هغوی د غوښتنو او خوښې مطابق
معجزې دې ورته ښایې) إِلَّا مګر(لیږو یې) مُبَشِّرِينَ زیرې
ورکونکي(نیکانو ته په جنت باندې) وَمُنذِرِينَۖ او ویرونکي (بدانو ته د

جهنم نه) فَمَنْ نو څوک ءَامَنَ چې ایمان راوړي وَأَصْلَحَ او(ځان) اصلاح کړي فَلَا نو نشته خَوْفٌ هیڅ ویره عَلَيْهِمْ په هغوی باندې وَلَا هُمْ او نه به دوی يَحْزَنُونَ غمجن کيږي. ٤٨

وَٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَـٰتِنَا يَمَسُّهُمُ ٱلْعَذَابُ بِمَا كَانُواْ يَفْسُقُونَ ٤٩

وَٱلَّذِينَ او هغوی كَذَّبُواْ چې دروغ وګڼل بِـَٔايَـٰتِنَا آیاتونه زمونږ. يَمَسُّهُمُ وبه رسيږي هغوی ته ٱلْعَذَابُ عذاب بِمَا په سبب د هغې(ګناه) كَانُواْ يَفْسُقُونَ چې هغوی به نافرماني کوله. ٤٩

قُل لَّآ أَقُولُ لَكُمْ عِندِى خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعْلَمُ ٱلْغَيْبَ وَلَآ أَقُولُ لَكُمْ إِنِّى مَلَكٌ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَىَّ ۚ قُلْ هَلْ يَسْتَوِى ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُ ۚ أَفَلَا تَتَفَكَّرُونَ ٥٠

کافرانو د نبي علیه السلام څخه داسې غوښتنې کولې چې: مونږ ته باید داسې عجائب او غرائب ښکاره کړي چې د انسانانو د سویې څخه اوچت وي،مثلاً د نبي علیه السلام په یوه اشاره سره باید غر د سرو زرو شي،په یو حکم سره یې د ځمکې نه خزانې راووځي،او د خلکو د مخکنیو او وروستنیو حالاتو څخه باید خبر وي،باید د ورک شوو شیانو په باره کې خبر وي چې چیرته ایښې دي،مریضانو ته باید شفا ورکولای شي،د انساني کمزوریو او محدودیتونو څخه باید ازاد وي،نو چې د یو عام انسان په قسم به ئې لیدلو اعتراض به یې کولو چې:دا څنګه پیغمبر دی چې خوراک کوي،ښځه او بچې لري او په بازارو کې ګرځي.الله تعالی فرمایي:

قُل (ای محمد«صلی الله علیه وسلم» کافرانو ته) ووایه لَّآ أَقُولُ زه نه وایم لَكُمْ تاسو ته عِندِى چې زما سره خَزَآئِنُ خزانې ٱللَّهِ د الله تعالی دي(چې زه یې د ستاسو د خوښې سره سم تاسو ته درکړم،او غر

درته په سرو زرو بدل کړم) وَلَآ او نه أَعۡلَمُ زه پوهيږم ٱلۡغَيۡبَ په غيبو(چې د قيامت يا د عذاب د نازليدو وخت درته بيان کړم) وَلَآ أَقُولُ او نه زه وایم لَكُمۡ تاسو ته إِنِّي بېشکه چې زه مَلَكٌۖ یوه فرشته یم(چې څه ناشنا کارونه درته وښایم) إِنۡ أَتَّبِعُ زه تابعداري نه کوم( د هيڅچا) إِلَّا پرته مَا د هغه څه نه يُوحَىٰٓ چې وحې کيږي إِلَيَّۚ ما ته(د الله تعالی د خوا نه،صرف د الهي وحي تابعدارۍ او پيروي کوم،نو بيا کافرانو ويل چې زمونږ او ستا نو څه فرق دی،نو الله تعالی فرمايې:) قُلۡ (ورته)ووایه هَلۡ آیا يَسۡتَوِي برابر دی ٱلۡأَعۡمَىٰ ړوند وَٱلۡبَصِيرُۚ او ليدونکئ(يعني کوم حقيقتونه چې زه تاسو ته بيانوم ما ته د وحې پواسطه د دې پوره علم راکول شوئ دی،چې په دې باره کې زما شهادت د سترګو ليدلئ شهادت دی،مګر تاسو د دې حقيقتونو په باره کې ړانده ياستئ،تاسو د دې حقيقتونو په باره کې ياد ګمان او قياس په اساس تصورکوئ،او يا صرف د ړوند تقليد په اساس.لهذا زما او ستاسو په منځ کې د بينا او ړوند په شان فرق دی،او په دې سبب زه په تاسې فوقيت لرم،نه په دې سبب چې زما سره د الله تعالی خزانې دي يا زه علم غيب لرم او يا د انساني کمزوريو څخه خلاص يم. أَفَلَا تَتَفَكَّرُونَ نو آيا تاسو فکر نه کوئ ٥٠

وَأَنذِرۡ بِهِ ٱلَّذِينَ يَخَافُونَ أَن يُحۡشَرُوٓاْ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ لَيۡسَ لَهُم مِّن دُونِهِۦ وَلِيٌّ وَلَا شَفِيعٌ لَّعَلَّهُمۡ يَتَّقُونَ ٥١

وَأَنذِرۡ او ته ويروه بِهِ په دې(وحې)سره ٱلَّذِينَ هغه(خلک) يَخَافُونَ چې هغوی ويريږي أَن يُحۡشَرُوٓاْ د ورټوليدلو څخه إِلَىٰ رَبِّهِمۡ خپل رب ته لَيۡسَ لَهُم په داسې حال کې چې نه به وي هغوی ته مِّن دُونِهِۦ پرته د هغه «جل جلاله» څخه وَلِيٌّ څوک دوست وَلَا او نه شَفِيعٌ

ځوک کومک کوونکئ لَعَلَّهُمْ بناېي(چې ستا د نصيحت پواسطه)هغوی
يَتَّقُونَ پرهيزګاره شي ٥١

وَلَا تَطْرُدِ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِٱلْغَدَوٰةِ وَٱلْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُۥ ۖ مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَىْءٍ وَمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِم مِّن شَىْءٍ فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُونَ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٥٢

د نبي عليه السلام په مجلس کې ځيني ضعيف او کمزوري صحابه کرام رضی الله عنه ناست و،يو څه مشرکان تيريدل،نبي عليه السلام ته يې وويل چې:دا کسان د مجلس څخه وشړه مونږ به ستا په مجلس کې کينو يعني د دې کمزورو او ضعيفانو سره مونږ په يو مجلس کې نه کينو.او بله مشرکانو دا خبره وکړه چې دوی په تا باندې د زړه څخه ايمان نه دی راوړی،دوی منافقان دي.نو دا مبارک آيت نازل شو.

وَلَا تَطْرُدِ او مه شړه (د خپل مجلس نه) ٱلَّذِينَ هغه(خلک) يَدْعُونَ چې دعا غواړي رَبَّهُم د خپل رب نه بِٱلْغَدَوٰةِ د ورځې وَٱلْعَشِيِّ او د شپې(يعنې چې شپه او ورځ د الله تعالی ذکر او عبادت کوي) يُرِيدُونَ (او) غواړي دوی وَجْهَهُۥ ۖ مخ د هغه«جل جلاله»(يعني شپه او ورځ يا هر وخت د الله تعالی رضاء غواړي،او دا چې مشرکان وايي چې دې غريبانو د زړه نه ايمان نه دی راوړئ او منافقان دي،نو جواب وشو چې: ( مَا عَلَيْكَ نشته په تا باندې مِنْ حِسَابِهِم د دوی د (اعمالو) د حساب څخه مِّن شَىْءٍ هيڅ شی(يعني په ښکاره ډول دوي ښه مخلص مؤمنان دي،او د باطن حساب کول په تا باندې نشته،هغه الله تعالی ته سپارل شوئ دی،دلته الله تعالی په خپلو دوستانو مؤمنانو باندې ډېر غيرت کړئ دی،او د دوی طرفداري او لنګه يې کړي ده وَمَا مِنْ حِسَابِكَ اونشته ستا د حساب نه عَلَيْهِم په هغوی باندې مِّن شَىْءٍ هيڅ شی(يعني د هر چا خپل-خپل

عمل دی او خپل-خپل حساب به ورسره کيږي،نبي کريم«صلى الله عليه وسلم»د چا د باطن ذمه وار نه دی) فَتَطْرُدَهُمْ او که ته وشړي هغوی(د خپل مجلس نه) فَتَكُونَ نو شي به ته مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ د ظالمانو څخه. ٥٢

وَكَذَٰلِكَ فَتَنَّا بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لِّيَقُولُوٓاْ أَهَٰٓؤُلَآءِ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَيْهِم مِّنۢ بَيْنِنَآۗ أَلَيْسَ ٱللَّهُ بِأَعْلَمَ بِٱلشَّٰكِرِينَ ٥٣

وَكَذَٰلِكَ همدارنګه فَتَنَّا ازمايو مونږ بَعْضَهُم ځيني( زورور مالدار) د هغوی بِبَعْضٍ په ځينو( کمزورو غريبانو) سره لِّيَقُولُوٓاْ د دې دپاره چې (زورور مالدار)ووايي أَهَٰٓؤُلَآءِ آيا دا(غريبان) هغه(خلک) دي مَنَّ ٱللَّهُ چې احسان کړئ دی الله تعالى عَلَيْهِم په دوی باندې مِّنۢ بَيْنِنَآۗ زمونږ د منځ نه أَلَيْسَ آيا نه دی ٱللَّهُ الله تعالى بِأَعْلَمَ ښه عالم بِٱلشَّٰكِرِينَ په شکر کوونکو باندې؟ ٥٣

وَإِذَا جَآءَكَ ٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِـَٔايَٰتِنَا فَقُلْ سَلَٰمٌ عَلَيْكُمْۖ كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلَىٰ نَفْسِهِ ٱلرَّحْمَةَۖ أَنَّهُۥ مَنْ عَمِلَ مِنكُمْ سُوٓءًۢا بِجَهَٰلَةٍ ثُمَّ تَابَ مِنۢ بَعْدِهِۦ وَأَصْلَحَ فَأَنَّهُۥ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ٥٤

وَإِذَ او هر کله جَآءَكَ چې راشي تا ته ٱلَّذِينَ هغه(خلک) يُؤْمِنُونَ چې ايمان راوړي بِـَٔايَٰتِنَا زمونږ په آياتونو باندې(که هرڅوک وي،غريب وي که مالدار) فَقُلْ نو ته(ورته)ووايه سَلَٰمٌ سلام دې وي عَلَيْكُمْۖ په تاسو باندې.

كَتَبَ لازم کړئ دی رَبُّكُمْ رب ستاسو عَلَىٰ نَفْسِهِ په خپل ځان باندې ٱلرَّحْمَةَۖ رحم کول. أَنَّهُۥ بېشکه چې هغه مَنْ څوک عَمِلَ چې عمل کوی مِنكُمْ د ستاسو څخه سُوٓءًۢا بد بِجَهَٰلَةٍ په ناپوهۍ سره (يعني څوک چې په تاسو کې يو بد کار په ناپوهۍ سره وکړي) ثُمَّ بيا تَابَ

هغه توبه وباسي مِنۢ بَعۡدِهِۦ وروسته د هغې(بد عمل څخه) وَأَصۡلَحَ او
ځان اصلاح کړي(يعني چې د زړه څخه هغه بد کار پرېږدي) فَأَنَّهُۥ نو
بېشکه چې هغه«جل جلاله» غَفُورٞ بخښونکئ رَّحِيمٞ (او)رحيم دی.
٥٤

وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ وَلِتَسۡتَبِينَ سَبِيلُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ٥٥

وَكَذَٰلِكَ او همدارنګه نُفَصِّلُ مونږ په تفصيل سره بيانوو ٱلۡأٓيَٰتِ
آياتونه وَلِتَسۡتَبِينَ د دې دپاره چې ښکاره(او واضحه) شي سَبِيلُ لار
ٱلۡمُجۡرِمِينَ د مجرمانو. ٥٥

قُلۡ إِنِّي نُهِيتُ أَنۡ أَعۡبُدَ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِۚ قُل لَّآ أَتَّبِعُ أَهۡوَآءَكُمۡ قَدۡ
ضَلَلۡتُ إِذٗا وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُهۡتَدِينَ ٥٦

قُلۡ (کافرانو ته ) ووايه إِنِّي چې زه نُهِيتُ منع شوئ يم أَنۡ چې
أَعۡبُدَ زه عبادت وکړم ٱلَّذِينَ د هغو شيانو تَدۡعُونَ چې تاسو يې عبادت
کوئ مِن دُونِ ٱللَّهِۚ پرته د الله تعالى څخه قُل (ورته) ووايه لَّآ أَتَّبِعُ
چې زه پيروي نه کوم أَهۡوَآءَكُمۡ ستاسو د خواهشاتو(او غوښتنو،او که
فرضاً ستاسو د خواهشاتو پيروي وکړم نو!) قَدۡ يقيناً ضَلَلۡتُ زه به
ګمراه شوئ يم إِذٗا په هغې وخت کې وَمَآ أَنَا۠ او نه به يم زه مِنَ د
ٱلۡمُهۡتَدِينَ لارمندونکو څخه(يعني تاسو خو ګمراهان ياستئ او څوک چې
ستاسو پيروي کوي هغه به هم ګمراه وي) ٥٦

قُلۡ إِنِّي عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّي وَكَذَّبۡتُم بِهِۦۚ مَا عِندِي مَا تَسۡتَعۡجِلُونَ بِهِۦٓۚ إِنِ
ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِۖ يَقُصُّ ٱلۡحَقَّۖ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلۡفَٰصِلِينَ ٥٧

کافرانو به ويلې چې که ته د الله تعالى پيغمبر يې او مونږ ستا خبره نه
منو،نو بيا په مونږ عذاب ولې نه راولې؟

قُلْ (ای محمد «صلی الله علیه وسلم ورته» ووایه إِنِّى بېشکه زه عَلَىٰ
بَيِّنَةٍ په يو روښانه دليل ولاړيم(يعني قرآن او وحي باندې) مِّن رَّبِّى د
خپل رب د طرف څخه وَكَذَّبْتُم بِهِۦ ۚ او تاسو هغه دروغ ګڼئ مَا عِندِى
نشته زما سره مَا هغه عذاب تَسْتَعْجِلُونَ بِهِۦٓ ۚ چې تاسو هغه په بيړه
سره غواړئ إِنِ ٱلْحُكْمُ (د عذاب د فيصلې)اختيار نشته(هيڅ چا ته) إِلَّا
لِلَّهِ ۖ مګر خاص الله تعالى لره دی يَقُصُّ ٱلْحَقَّ ۖ هغه «جل جلاله» حق
بيانوي وَهُوَ او هغه «جل جلاله» خَيْرُ ډېر ښه ٱلْفَٰصِلِينَ فيصله
کوونکئ دی. ۵۷

قُل لَّوْ أَنَّ عِندِى مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِۦ لَقُضِىَ ٱلْأَمْرُ بَيْنِى وَبَيْنَكُمْ ۗ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ
بِٱلظَّٰلِمِينَ ۵۸

قُل(ورته) ووايه لَّوْ أَنَّ عِندِى که چیرته زما سره ولو مَا هغه(عذاب)
تَسْتَعْجِلُونَ بِهِۦ چې تاسو هغه په بيړه سره غواړئ لَقُضِىَ (نو)خامخا به
(د وخته) فيصله شوي وه ٱلْأَمْرُ خبره بَيْنِى زما په منځ وَبَيْنَكُمْ ۗ او
ستاسو په منځ کې(يعني عذاب به در باندې راغلئ و او فيصله به شوي
وه) وَٱللَّهُ او الله تعالى أَعْلَمُ پو هيري بِٱلظَّٰلِمِينَ په ظالمانو
باندې(يعني الله تعالى ته د ظالمانو ګناهونه معلوم دي او کله چې د الله
تعالى د حکمت تقاضاء وي،عذاب نازلوي) ۵۸ ۞

وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَآ إِلَّا هُوَ ۚ وَيَعْلَمُ مَا فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ ۚ وَمَا تَسْقُطُ
مِن وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِى ظُلُمَٰتِ ٱلْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِى
كِتَٰبٍ مُّبِينٍ ۵۹

وَعِندَهُۥ او د الله تعالى سره دي مَفَاتِحُ کيليګانې ٱلْغَيْبِ د غيبو لَا
يَعْلَمُهَآ (هيڅوک) نه پوهيږي په غيبو باندې إِلَّا هُوَ ۚ پرته د الله تعالى
نه(يعني د غيبو علم صرف الله تعالى ته دی) وَيَعْلَمُ او هغه«جل جلاله)

عالم دی مَا په هغې(څه) فِى ٱلْبَرِّ چې په وچه کې دي وَٱلْبَحْرِ ۚ
او(عالم دی په هغې څه)چې په بحر کې دي وَمَا تَسْقُطُ او نه غورزیږي
مِن وَرَقَةٍ هیڅ یوه پاڼه (د ونې نه) إِلَّا مګر يَعْلَمُهَا هغه«جل
جلاله» عالم دی د هغې(په غورزیدلو) وَلَا حَبَّةٍ او نه یوه دانه شته فِى
ظُلُمَـٰتِ ٱلْأَرْضِ د ځمکې په تیارو کې وَلَا رَطْبٍ او نه یو لوند(شی)
شته وَلَا يَابِسٍ او نه یو وچ(شی) شته إِلَّا مګر(ټول) فِى كِتَـٰبٍ مُّبِينٍ
په یو روښانه کتاب کې دي(یعنې ټول په لوح محفوظ کې لیکلي دي) ٥٩

وَهُوَ ٱلَّذِى يَتَوَفَّىٰكُم بِٱلَّيْلِ وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُم بِٱلنَّهَارِ ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ فِيهِ لِيُقْضَىٰٓ أَجَلٌ
مُّسَمًّى ۖ ثُمَّ إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ ثُمَّ يُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ٦٠

وَهُوَ او الله تعالی ٱلَّذِى هغه ذات دی يَتَوَفَّىٰكُم چې اوده کوي تاسو
بِٱلَّيْلِ په شپه کې وَيَعْلَمُ او پوهیږي مَا په هغه(عملونو ستاسو)
جَرَحْتُم چې کوئ یې تاسو بِٱلنَّهَارِ په ورځ کې ثُمَّ بیا يَبْعَثُكُمْ
راپاڅوي تاسو فِيهِ په ورځ کې لِيُقْضَىٰٓ د دې دپاره چې پوره شي
أَجَلٌ مُّسَمًّى ۖ ټاکل شوي نیټه(ستاسو په دنیا کې،یعنې چې په دنیا کې مو
معلومې ټاکل شوي شپې او ورځې پوره شي،او کله چې مو ټاکل شوي
نیټه په دنیا کې پوره شي،نو بیا به مو د مرګ په خوب اوده کوي،او د
قیامت په ورځ به مو راپاڅوي) ثُمَّ بیا به إِلَيْهِ هغه «جل جلاله»ته
مَرْجِعُكُمْ ستاسو ورتلل وي(د حشر میدان ته) ثُمَّ بیا به(د حشر په میدان
کې) يُنَبِّئُكُم هغه«جل جلاله) خبر کړي تاسو بِمَا په هغو (عملونو)
باندې كُنتُمْ تَعْمَلُونَ چې تاسو به کول(په دنیا کې) ٦٠

وَهُوَ ٱلْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِۦ ۖ وَيُرْسِلُ عَلَيْكُمْ حَفَظَةً حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَحَدَكُمُ ٱلْمَوْتُ
تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا وَهُمْ لَا يُفَرِّطُونَ ٦١

وَهُوَ او هغه«جل جلاله» زورور دی ٱلْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِۦۖ په خپلو
بندګانو باندې وَيُرْسِلُ او هغه«جل جلاله»رالیږي عَلَيْكُمْ په تاسو
باندې حَفَظَةً ساتونکې(فرښتې) حَتَّىٰٓ د هغې پورې إِذَا جَآءَ کله چې
راشي أَحَدَكُمُ کوم یو ستاسو ته ٱلْمَوْتُ مرګ تَوَفَّتْهُ (نو)وفات
ورکوي هغه ته رُسُلُنَا زمونږ لیږل شوي(فرښتې) وَهُمْ او هغوی(یعنې
فرښتې) لَا يُفَرِّطُونَ هیڅ کوتاهي نه کوي(د نفس«روح»په قبضولو
کې،چې څه قسم حکم ورکول کیږي هماغسې کوي.) ٦١

ثُمَّ رُدُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ مَوْلَىٰهُمُ ٱلْحَقِّۚ أَلَا لَهُ ٱلْحُكْمُ وَهُوَ أَسْرَعُ ٱلْحَٰسِبِينَ ٦٢

ثُمَّ بیا(به د قیامت په ورځ ټول په یو وار) رُدُّوٓاْ ورروستل کیږي إِلَى
ٱللَّهِ الله تعالی ته مَوْلَىٰهُمُ ٱلْحَقِّ چې د دوی حقیقي مالک دیۚ أَلَا
خبردار شئ لَهُ ٱلْحُكْمُ چې د فیصلې کولو ټول اختیار هغه«جل جلاله»
ته دی(یعنې د قیامت په ورځ پرته د الله تعالی څخه بل هیڅوک د چا په
باره کې څه فیصله نشي کولای،ټول واک او اختیار یوازې د الله تعالی
دی) وَهُوَ او هغه«جل جلاله» أَسْرَعُ ډېر تیز ٱلْحَٰسِبِينَ حساب
کوونکئ دی(د حدیث شریف مفهوم دی چې: الله تعالی به د ټولو مخلوقاتو
د حساب څخه دومره ژر فارغ شي لکه د سهار نه د غرمې پورې وخت)
٦٢

قُلْ مَن يُنَجِّيكُم مِّن ظُلُمَٰتِ ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ تَدْعُونَهُۥ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً لَّئِنْ أَنجَىٰنَا
مِنْ هَٰذِهِۦ لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ٦٣

قُلْ (مشرکانو ته)ووایه مَن څوک يُنَجِّيكُم نجات درکوي تاسوته مِّن
ظُلُمَٰتِ د تیارو څخه ٱلْبَرِّ د وچې وَٱلْبَحْرِ او د سمندر؟ (یعنې د دوی
څخه پوښتنه وکړه چې:د ځمکې او سمندر په تیارو کې څوک تاسو د
خطرونو څخه ژغوري؟او څوک دی؟ چې د مصیبت په وخت کې!)

تَدْعُونَهُۥ دعاوي غواړئ د هغه«جل جلاله» ځينې تَضَرُّعًا په زاريو
وَخُفْيَةً او په پټه(او هغه څوک دی؟ چې تاسو وايئ) لَّئِنْ كه چيرته
أَنجَىٰنَا هغه«جل جلاله» مونږ ته نجات راكړي(مونږ وژغوري) مِنْ
هَٰذِهِۦ د دې (مصيبت او بلا)څخه لَنَكُونَنَّ نو مونږ به خامخا شو مِنَ
ٱلشَّٰكِرِينَ د شكر كوونكو څخه ٦٣

قُلِ ٱللَّهُ يُنَجِّيكُم مِّنْهَا وَمِن كُلِّ كَرْبٍ ثُمَّ أَنتُمْ تُشْرِكُونَ ٦٤

قُلِ وو‌ايه (دوی ته چې يوازې) ٱللَّهُ الله تعالی يُنَجِّيكُم تاسو ته نجات
دركوي(تاسو ژغوري) مِّنْهَا د دې(مصيبت)څخه وَمِن كُلِّ او د بل
هر كَرْبٍ غم(او مصيبت څخه،ليكن كله چې مصيبت درڅخه لرې
شي،نو بيا خپل نجات وركوونكئ بل څوک ګڼئ،او په ځاى د دې چې د
الله تعالی شكر وباسئ،) ثُمَّ بيا أَنتُمْ تاسو تُشْرِكُونَ (د الله تعالی سره)
شرک كوئ(يعني نجات الله تعالی دركوي،كومک درسره الله تعالی
كوي،هر مشكل مو الله تعالی حلوي،خو تاسو يې غيرالله ته منسبوئ،او په
دې ترتيب د شكر په ځاى شرک كوئ) ٦٤

قُلْ هُوَ ٱلْقَادِرُ عَلَىٰٓ أَن يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّن فَوْقِكُمْ أَوْ مِن تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ أَوْ
يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَيُذِيقَ بَعْضَكُم بَأْسَ بَعْضٍ ۗ ٱنظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ ٱلْـَٔايَٰتِ لَعَلَّهُمْ
يَفْقَهُونَ ٦٥

قُلْ (دوی ته) وو‌ايه هُوَ هغه «جل جلاله» ٱلْقَادِرُ قادر دی عَلَىٰٓ په
دې باندې أَن يَبْعَثَ چې راوليږي عَلَيْكُمْ په تاسو باندې عَذَابًا عذاب
مِّن فَوْقِكُمْ ستاسو د پاسه څخه أَوْ يا مِن تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ ستاسو د پښو د
لاندې څخه(يعني د نجات حاصلولو څخه وروسته چې تاسو د شكر په
ځاى شرک كوئ،نو الله تعالی قادر دې چې په تاسو يا د آسمان څخه
عذاب راولې،د كاڼو،او د اور بارن درباندې وكړي،طوفان درباندې راولي

او داسې نور او یا د ځمکې د خوانه عذاب دربانديږ راولي،سخته زلزله دربانديږ راولي،ځمکه خویه شي او مکمل ښارونه په ځمکه کې ننوزي،یا مو په اوبو کې غرق کړي او نور) أَوْ یا يَلْبِسَكُمْ ګډوډ کړي تاسو(تقسم کړي تاسو) شِيَعًا په فرقو-فرقو(په ډلو-ډلو) وَيُذِيقَ او وڅکې بَعْضَكُم په ځینو د ستاسو بَأْسَ (مزه د) جنګ بَعْضٍ د ځینو نورو(یعنې: چې په تاسو بانديږ، یو د بل د لاسه د جنګ خوند وڅکوي،دا د خانه جنګۍ په شکل د عذاب ذکر دی،چې په اکثره ملکونو خصوصاً اسلامي ملکونو کې همدا اوس موجود دی،یوه ډله د بلې نه دومره سخت نفرت کوي چې یو د بل په سر او مال صرفه نه کوي،یو بل وژني،هره ډله ځانونو ته غازیان، شهیدان او جنتیان او بلې ډلې ته قاتلان، مردار او دوزخیان وایي) ٱنظُرْ اوګوره كَيْفَ چې څنګه نُصَرِّفُ ٱلْـَٔايَٰتِ مونږ خپلې نښې بیا-بیا په مختلفو طریقو دوی ته بیانوو لَعَلَّهُمْ د دې لپاره يَفْقَهُونَ چې دوی پوه شي. ٦٥

وَ كَذَّبَ بِهِۦ قَوْمُكَ وَهُوَ ٱلْحَقُّ ۚ قُل لَّسْتُ عَلَيْكُم بِوَكِيلٍ ٦٦ لِّكُلِّ نَبَإٍ مُّسْتَقَرٌّ ۚ وَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ٦٧

وَكَذَّبَ او دروغ وګڼلو بِهِۦ دغه(په قرآن کې د الله تعالی د طرف نه د عذاب خبر) قَوْمُكَ ستا قوم وَ حال دا چې هُوَ دا(قرآن) ٱلْحَقُّ ۚ حق دی( هره خبره یې رښتیا ده او هیڅ شک په کې نشته دی) قُل (ورته) ووایه لَّسْتُ زه نه یم عَلَيْكُم په تاسو بانديږ بِوَكِيلٍ نګران(یعنې زه د دې دپاره نه یم راغلئ چې په تاسو په زوره قرآن ومنم،او که ویې نه منئ نو زه به سمدستي دربانديږ عذاب راولم،او یا به درته د عذاب وخت وښایم،چې که ځما خبره ونه منئ نو په پلانکي وخت کې به دربانديږ عذاب راشي،بلکې ځما مسؤلیت یوازې ستاسو پوهول او خبرول دي،او

نور دا چي د الله تعالى) ٦٦ لِّكُلِّ نَبَإٍ د هر خبر پاره مُّسْتَقَرٌّ ۚ يو وخت مقرر دى(يعني د هرشي هغه كه عذاب دى كه بل شى چي قرآن يي خبر وركړئ دى،نو د هغي د واقع كيدلو ټول خصوصيات د الله تعالى په علم كي دي،خاص وخت يي مقرر دى،كله يي چي نيټه ورسيږي،د الله تعالى په حكم به واقع شي) وَسَوْفَ تَعْلَمُونَ او ډير زر به تاسو پوه شئ(كله چي په ستركو هغه عذاب وګورئ د كوم څخه چي ويرول كيږئ)
٦٧

وَإِذَا رَأَيْتَ ٱلَّذِينَ يَخُوضُونَ فِىٓ ءَايَـٰتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا۟ فِى حَدِيثٍ غَيْرِهِۦ ۚ وَإِمَّا يُنسِيَنَّكَ ٱلشَّيْطَـٰنُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ ٱلذِّكْرَىٰ مَعَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّـٰلِمِينَ
٦٨

وَإِذَا او كله چي رَأَيْتَ ته وګوري ٱلَّذِينَ هغه (خلک) يَخُوضُونَ چي جګړې كوي فِىٓ ءَايَـٰتِنَا زمونږ په آياتونو كي(يعني هغه بد مجلسونه چيرته چي د قرآن او سنتو پورې ټوقي كيږي) فَأَعْرِضْ نو ته مخ واړوه عَنْهُمْ د هغوى څخه حَتَّىٰ د هغي پورې يَخُوضُوا۟ چي هغوى مصروف شي فِى حَدِيثٍ غَيْرِهِۦ ۚ پرته د دي څخه په نورو خبرو كي(يعنى په كومو مجلسونو كي چي د قرآن او سنتو په خلاف خبرې او مسخرې كيږي،ناسته ورسره جايز نه ده،ليكن كه په نورو دنياوي معاملاتو لكه كاروبار ،تجارت و غيره كي خبرې كوي ،بيا ورسره كيناستل جايز دي) وَإِمَّا او كه چيرته يُنسِيَنَّكَ در څخه هير كړي ٱلشَّيْطَـٰنُ شيطان(دا حكم،او په داسي مجلس كي كيني چي هلته د دين پورې ټوقي كيږي) فَلَا تَقْعُدْ نو مه كينه بَعْدَ ٱلذِّكْرَىٰ پس د راياديدلو څخه(د دي حكم) مَعَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّـٰلِمِينَ د ظالمانو خلكو سره(يعني كه په هيره او غلطۍ په داسي مجلس كي كيناستئ،نو څنګه چي درته د الله تعالى

حکم رایاد شي،سمدستي د مجلس څخه لاړ شئ،او د دې ظالمانو سره نور
مه کینئ.) ٦٨

وَمَا عَلَى ٱلَّذِينَ يَتَّقُونَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَىْءٍۢ وَلَـٰكِن ذِكْرَىٰ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ٦٩

وَمَا عَلَى ٱلَّذِينَ او نشته په هغو خلکو باندې يَتَّقُونَ چې پرهيزګاران دي
مِنْ حِسَابِهِم د حساب(او ګناه) د هغوی څخه(چې د الله تعالی د آیاتونو
پورې مسخرې کوي) مِّن شَىْءٍۢ هیڅ شی وَلَـٰكِن ذِكْرَىٰ لیکن نصیحت
کول(یعني که حالات داسې وي چې دوی کولای شي چې نصیحت ورته
وکړي،نو دا د هغوی حق دی چې نصیحت ورته وکړي، لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ
کیدای شي (چې تاثیر ورباندې وکړي او) متقيان شي(د الله تعالی څخه
وویریږي او صحیح مؤمنان شي،خو نه د هغوی حق دی او نه ستاسو کار
دی ،چې جنګ او جدل،بدې ردې ورسره شروع کړئ،او په زوره
ورباندې قرآن منی،تاسو صرف نصحت کوئ او نتیجه یې الله تعالی ته
پریږدئ ٦٩

وَذَرِ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ دِينَهُمْ لَعِبًۭا وَلَهْوًۭا وَغَرَّتْهُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا ۚ وَذَكِّرْ بِهِۦٓ أَن تُبْسَلَ
نَفْسٌۢ بِمَا كَسَبَتْ لَيْسَ لَهَا مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلِىٌّۭ وَلَا شَفِيعٌۭ وَإِن تَعْدِلْ كُلَّ عَدْلٍۢ لَّا
يُؤْخَذْ مِنْهَآ ۗ أُو۟لَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ أُبْسِلُوا۟ بِمَا كَسَبُوا۟ ۖ لَهُمْ شَرَابٌۭ مِّنْ حَمِيمٍۢ وَعَذَابٌ أَلِيمٌۢ
بِمَا كَانُوا۟ يَكْفُرُونَ ٧٠

وَذَرِ او پریږده ٱلَّذِينَ هغه خلک ٱتَّخَذُوا۟ چې هغوی نیولئ دی دِينَهُمْ
دین خپل لَعِبًۭا لوبې وَلَهْوًۭا او تماشا وَغَرَّتْهُمُ او دوکه کړي دي دوی
ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا ۚ ژوند د دنیا(زمونږ په ټولنه کې اوس هم داسې خلک کم
نه دي،څوک چې د دین د هرې خبرې نه توقې او مسخرې جوړوي،دیني
خبرې د دنیا د ګټلو په لار کې خنډ ګڼي،فکر کوي چې اصلي هدف او
مقصد ته رسیدل فقط د دنیا ګټل او ډیرول دي،که په حلاله طریقه وي او

كه په حرامه،خو چې ډېره شي ) وَذَكِّرْ بِهِۦٓ او په دې قرآن باندې
ورته نصيحت كوه(هسي نه) أَن چې تُبْسَلَ هلاک شي نَفْسٌۢ يو
نفس(يعني يو كس د قيامت په ورځ) بِمَا په سبب د هغې(ناروا عملونو)
كَسَبَتْ چې هغه كړي وي لَيْسَ (اوهلته) نشته لَهَا هغه ته مِن دُونِ
ٱللَّهِ پرته د الله تعالى څخه وَلِيٌّ هيڅ دوست وَلَا او نه شَفِيعٌ څوک
شفاعت كوونكئ(چې د عذاب نه يې خلاص كړي) وَإِن او كه چېرته
تَعْدِلْ فديه(جرمانه) وركړي كُلَّ عَدْلٍ هر قسم فديه(جرمانه) لَّا يُؤْخَذْ
قبوله به نشي مِنْهَآۗ د هغه نه أُوْلَٰٓئِكَ دغه خلک ٱلَّذِينَ هغه خلک
دي أُبْسِلُواْ چې هلاک شوي دي بِمَا په سبب د هغو(بدو عملونو)
كَسَبُواْۖ چې كړې هغوى لَهُمْ دوى دپاره شَرَابٌ څښاک دى(څكل دي)
مِّنْ حَمِيمٍ د حميم (د كرمو اوبو) وَعَذَابٌ أَلِيمٌۢ او دردناک عذاب دى
بِمَا په سبب د هغه(كفر) كَانُواْ يَكْفُرُونَ چې دوى به كولو(په دنيا كې)
٧٠

قُلْ أَنَدْعُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُنَا وَلَا يَضُرُّنَا وَنُرَدُّ عَلَىٰٓ أَعْقَابِنَا بَعْدَ إِذْ
هَدَىٰنَا ٱللَّهُ كَٱلَّذِى ٱسْتَهْوَتْهُ ٱلشَّيَٰطِينُ فِى ٱلْأَرْضِ حَيْرَانَ لَهُۥٓ أَصْحَٰبٌ يَدْعُونَهُۥٓ
إِلَى ٱلْهُدَى ٱئْتِنَاۗ قُلْ إِنَّ هُدَى ٱللَّهِ هُوَ ٱلْهُدَىٰۖ وَأُمِرْنَا لِنُسْلِمَ لِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ٧١

مشركانو ځينو مسلمانانو ته دعوت وركړو چې د محمد«صلى الله عليه
وسلم دين پريږدئ، زمونږ په لار روان شئ او د بتانو عبادت كوئ.

قُلْ ( ورته) ووايه أَنَدْعُواْ آيا مونږ عبادت وكړو؟ مِن دُونِ ٱللَّهِ پرته د
الله تعالى څخه مَا د هغه(شي) لَا يَنفَعُنَا چې نه مونږ ته خير رسولاى
شي وَلَا يَضُرُّنَا او نه مونږ ته شر رسولاى شي وَنُرَدُّ او(آيا بيرته)
وګرځو مونږ؟ عَلَىٰٓ أَعْقَابِنَا په خپلو پوندو باندې بَعْدَ إِذْ هَدَىٰنَا پس د دې

چې هدایت وکړو مونږ ته ٱللَّهُ الله تعالی(یعنې:آیا د ایمان راوړلو څخه
پس بیرته د اسلام نه کفر او شرک ته وګرځو؟) كَٱلَّذِى لکه د هغه چا په
شان ٱسْتَهْوَتْهُ چې ګمراه کړئ وي هغه(بې لارې کړئ وي هغه)
ٱلشَّيَـٰطِينُ شیطانان فِى ٱلْأَرْضِ په ځمکه کې حَيْرَانَ حیران وي(یعنې
لار ترې ورکه وي، نه پوهیږي چې څه وکړي او کومې خواته لاړ
شي،او) لَهُۥٓ د ده أَصْحَـٰبٌ ملګري يَدْعُونَهُۥٓ راغواړي هغه(اوازونه
ورته کوي) إِلَى ٱلْهُدَى سمې لارې ته ٱئْتِنَا ۗ چې مونږ ته راشه(یعنې
ملګري یې سمې لارې ته راغواړي او ورته وایې چې مونږ ته راشه)
قُلْ (ورته) ووایه إِنَّ بیشکه هُدَى ٱللَّهِ هدایت د الله تعالی(لار د الله
تعالی) هُوَ همدا(د الله تعالی لار) ٱلْهُدَىٰ ۖ صحیح هدایت دی(همدا
صحیح لار ده) وَأُمِرْنَا او مونږ ته حکم شوئ دی لِنُسْلِمَ چې اطاعت
وکړو(چې عبادت وکړو) لِرَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ پالونکې د ټولو عالمونو ته.٧١

وَأَنْ أَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱتَّقُوهُ ۚ وَهُوَ ٱلَّذِىٓ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ٧٢

وَ او(مونږ ته حکم شوئ دی) أَنْ چې أَقِيمُوا۟ تاسو قائموئ(کوئ)
ٱلصَّلَوٰةَ لمونځ وَ او(مونږ ته حکم شوئ دی) ٱتَّقُوهُ ۚ چې د هغه«جل
جلاله) نه وویریږئ وَهُوَ او هغه جل جلاله ٱلَّذِىٓ هغه ذات دی إِلَيْهِ
چې هغه«جل جلاله» ته تُحْشَرُونَ به تاسو ورټولیږئ(د قیامت په ورځ
د حشر په میدان کې) ٧٢

وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّ ۖ وَيَوْمَ يَقُولُ كُن فَيَكُونُ ۚ قَوْلُهُ
ٱلْحَقُّ ۚ وَلَهُ ٱلْمُلْكُ يَوْمَ يُنفَخُ فِى ٱلصُّورِ ۚ عَـٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَـٰدَةِ ۚ وَهُوَ ٱلْحَكِيمُ
ٱلْخَبِيرُ ٧٣ ۞

وَهُوَ او هغه «جل جلاله» ٱلَّذِى هغه ذات دی خَلَقَ چې پیدا کړي ئې
دي ٱلسَّمَـٰوَٰتِ آسمانونه وَٱلْأَرْضَ او ځمکه بِٱلْحَقِّ ۖ په حق سره(په

ربنتیا سره د یو مقصد دپاره) وَيَوْمَ او په هغې ورځ يَقُولُ چې
هغه«جل جلاله» ووایې چې كُن وشه فَيَكُونُ ۚ نو وبه شي(یعنې الله
تعالی به د کن په کلیمه ځمکه او آسمانونه وران کړي او قیامت به راشي)
قَوْلُهُ د هغه«جل جلاله» خبره ٱلْحَقُّ ۚ حقه(ربنتینې) ده وَلَهُ او خاص
هغه«جل جلاله» ته ٱلْمُلْكُ پادشاهي ده يَوْمَ په هغه ورځ يُنفَخُ چې
پوکې وشي فِى ٱلصُّورِ ۚ په شپیلی کې(یعنې د قیامت په ورځ) عَٰلِمُ
هغه«جل جلاله» عالم دی(پوه دی) ٱلْغَيْبِ په پټو وَٱلشَّهَٰدَةِ ۚ او
ښکاره(شیانو) باندې وَهُوَ او هغه«جل جلاله» ٱلْحَكِيمُ حکمت والا
ٱلْخَبِيرُ (او) باخبره دی. ٧٣ ۝

وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ لِأَبِيهِ ءَازَرَ أَتَتَّخِذُ أَصْنَامًا ءَالِهَةً ۖ إِنِّىٓ أَرَىٰكَ وَقَوْمَكَ فِى
ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ٧٤

وَإِذْ او کله چې قَالَ وویلي إِبْرَٰهِيمُ ابراهیم«علیه السلام» لِأَبِيهِ ءَازَرَ
خپل پلار ازر ته أَتَتَّخِذُ آیا نیسې ته أَصْنَامًا بتان ءَالِهَةً ۖ لایق د
بندګی(آیا ته بتانو ته عبادت کوي) إِنِّىٓ بیشکه زه أَرَىٰكَ وینمه تا
وَقَوْمَكَ او ستا قوم فِى ضَلَٰلٍ په ګمراهی مُّبِينٍ ښکاره کې(پخپلو
لاسونو مجسمې د لرګیو او تیږو نه جوړوئ،نه ستاسو خبرې اورې، نه
خبرې کولای شي،نه لاس او پښې خوځولای شي، مګر تاسو په خپل لاس
جوړ شوو بتانو ته عبادت کوئ،خیر او شر ترې غواړئ،دا خو ښکاره
ګمراهي او انتهایي کم عقلتوب دی.) ٧٤

وَكَذَٰلِكَ نُرِىٓ إِبْرَٰهِيمَ مَلَكُوتَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَلِيَكُونَ مِنَ ٱلْمُوقِنِينَ ٧٥

وَكَذَٰلِكَ او همدارنګه نُرِىٓ مونږ وښودلو إِبْرَٰهِيمَ ابراهیم(علیه السلام)
ته مَلَكُوتَ بادشاهي نظام ٱلسَّمَٰوَٰتِ د آسمانونو وَٱلْأَرْضِ او ځمکې
وَلِيَكُونَ د دې دپاره چې شي هغه«علیه السلام» مِنَ ٱلْمُوقِنِينَ د یقین

کوونکو څخه.(یعنې کله چې ابراهیم «علیه السلام»د آسمانونو او ځمکې د پیدایښت په اړه فکر وکړ،نو هغه«علیه السلام» ته د الله تعالی د واکمنۍ،او د هغه«جل جلاله»د مخلوقاتو په اړه د الله تعالی د وحدانیت آیاتونه او دلایل وښودل شول،دا په دې معنی چې: ابراهیم«علیه السلام» د الله تعالی د کائناتي آیتونو او نښو د مطالعې او په هغوی باندې د ژور غور او فکر کولو پواسطه د کائناتو حقیقي خالق او رب ته ورسیدو،او خپل حقیقي معبود(الله تعالی) ئې وپیژندلو)

باید ووایو چې:څه قسم کائناتي آیاتونه،دلایل او نشانې چې زمونږ او ستاسو مخکې دي،د ابراهیم علیه السلام په مخکې هم همدا آیاتونه او نشانې وي،مګر خلک یې د لیدلو سره-سره بیا هم لکه د ړندو په شان هیڅ نه ګورې،او ابراهیم «علیه السلام»په غړولو سترګو لیدل،مطلب دا چې:عام خلک د الله تعالی په کائناتې آیاتونو او نشانو غور او فکر نه کوي،مګر ابراهیم «علیه السلام» ورباندې فکر او غور کولو،همدغه لمر، سپوږمۍ،ستورې او ځمکه چې ستاسو په مخکې دي،هره ورځ یې خلک ګورې مګر څوک هم دا فکر او سوال نه کوي چې:دا هر یو څنګه جوړ شوئ دئ،څنګه دومره منظم کار کوي،څنګه دا ټول په دومره مناسبو فاصلو سره یو د بل څخه په فضا کې واقع دي؟او دا دومره دقیق حساب شوئ څنګه دی؟او بیا دا ټول سره د دې چې هر یو په ډېر زیات سپیډ سره په فضاء کې د خپل محور په خوا او شاه ګرځي مګر نه یو د بل نه لرې کیږي او نه یو بل ته نزدې کیږي ،او که معمولي غوندې یې فاصلې کمې او زیاتې شي نو ژوند به د ځمکې په مخ ختم شي،آیا لمر، سپوږمۍ او ځمکې پخپله دا فاصلې تعین کړي دي او په دوامدار ډول یې کنټرولوې؟په لمر کې په هر سیکنډ کې د هغه اتوم ۵۰۰ میلیونه چنده انرجي جوړیږې کوم چې امریکا په جاپان استعمال کړئ و،او که د دې نه

لږ کمه يا زياته جوړه شي نو ژوند به د ځمکې په مخ ختم شي، په هر سيکنډ کې د دومره زيات مقدار انرجي توليدولو ته د ميلياردونو کلونو راهيسې د فيولو يعنې د سوځولو د موادو برابرول،او د هغې د توليد په يو حال ساتل څنګه کيږي؟دا دومره دقيقه فاصله څنګه تعين شوي ده چې د لمر په سطحه حرارت ۶۰۰۰ درجې دی خو کله چې د دې فاصلې څخه د تيريدلو وروسته ځمکې ته رارسيږي صرف ۲۲ درجې پاتي کيږي،کوم چې د ژوند دپاره مناسبه درجه ده؟د بيليونونو کلونو راهيسې ځمکه په خپل محور باندې د زر مايلز په يوساعت کې سپيډ سره ګرځي،چې دا سپيډ د دې دپاره لازم او مناسب دي چې په ۲۴ ساعتو يا يوه شپه اورځ کې يوځل په محور تاو شي،فرضاً که سپيډ يې دومره کم شي چې په شپږ مياشتو کې يو ځل تاو شي،نو د ځمکې په يو طرف کې به شپږ مياشتې ورځ او په بل طرف کې به يې شپږ مياشتې شپه وي،په يو طرف کې به يې د يخنۍ څخه ژوند ختم شي او بل طرف کې به يې د ګرمۍ څخه ژوند ختم شي،څنګه د ځمکې سپيډ په يو حال کنټروليږي؟دا شمسي نظام يعنې لمر،سپوږمۍ او ځمکه چا جوړ کړئ دی،او څنګه دومره منظم کار کوي؟د هګۍ څخه چرګوړی راوځې سمدستي د دانې په خوړلو شروع کوي،خپل خوراکې مواد هم پيژني او د خوراک چل هم ورځې،د هګۍ په داخيل کې دا څوک وربښيې؟ د مرغاوۍ بچۍ چې څنګه د هګۍ څخه وځې دستې په ډنډ کې ځان اچوې او لامبو وهې،په هګۍ کې د مرغاوۍ بچې ته لامبو ټريننګ څوک ورکوي؟د غوا بچی چې څنګه وشي د مور تيونه هم پيژني او د تي د رودلو چل هم ورځې،آيا په دې مو کله فکر کړئ دی چې د مور په ګيډه کې دا هر څه څوک وربښيې؟کله چې ماشوم د مور په ګيډه شي،د مورپه وچو تيونو کې شيدې پيدا شي،آيا په دې مو غور کړئ دی چې دنيا ته د ماشوم د راتلو څخه مخکې هغه ته د خوراک

بندوبست څوک کوي؟او کله چې دنیا ته راشي د مور تیونه هم پیژني او د خوراک چل هم ورځي ،نو د مور په ګېډه کې دا څوک ورزده کوي؟آیا په دې مو کله غور کړئ دی چې:دنیا کې چې څومره خلک مړه شوي دي،او څومره چې ژوندي دي،او څومره چې د دې وروسته پیدا کیږي یعني تر اوسه لا پیدا شوي نه دي،دې ټولو هر یو ته مختلف-مختلف یا بیل-بیل فینګر فرییینت یا د ګوتې نښه یا هویت څوک ورکوي؟د ځمکې څخه د اتموسفیر محافظوې چت چا چاپیر کړئ دی؟ کوم چې آسماني تیږي نه پریږدي چې په ځمکه راولویږي،وژونکې شعاګانې او د فضاء منفې ۲۷۰ درجې یخنې ځمکې ته د راتللو څخه منع کوي،مګر دلچسپه ده چې هغه شعاګانې چې وژونکې هم دي او په ځمکه کې د فصلونو دپاره ضرور هم دي،نو په ډېر دقیق حساب په هغه اندازه شعاع فلتروې څومره چې په ځمکه کې ضرورت وي،فلتر شوي ځمکې ته رالیږي، او نورې واپس فضاء ته لیږي.د ځمکې اوبه نه پریږدي چې د فضاء خواته لاړې شي،بخار شوي اوبه واپس د ګلی،واوري او باران په شکل ځمکې ته رالیږي.څوک د یو وړکې تخم څخه په ټنونو-ټنونو ونه جوړي،په خرورونو-خرورونو حاصلات ورڅخه اخلئ حال دا چې ځمکه نه کمیږي او نه زیاتیږې؟څوک دی چې کائنات په داسې دقیق حساب سره لویوی چې ساینس او ټیکنالوجې یې د حسابولو څخه عاجزه ده؟لحظه په لحظه چې څومره اوکسیجن د هوا څخه مصرف کیږي،لحظه په لحظه هغومره جوړیږي چې څومره مصرفیږي،خو که په ډیره کمه اندازه کم او زیات جوړ شي یا د لږ وخت دپاره بالکل جوړ نشي نو ژوند به ختم شي ،آیا کله مو فکر کړئ دی چې دا څنګه اندازه کیږي او څنګه جوړیږي؟آیا مونږ او تاسو کله د خپل ځان څخه پوښتنه کړي ده چې:ټول خوا اوشاته شیان چې مونږ یې وینو،څنګه جوړ شوي دي؟ولې او څنګه هر شی دومره

دقيق اندازه او ځای په ځای شوئ دی لکه څنګه چې لازم او مناسب دي
چې باید همداسې وي؟ولې او څنګه هر شی په انفرادي ډول او ټول
کائنات په مجموعي ډول منظم دي،او ټول د یو ډېر قوي او منظم قانون
پیروي کوي،حتی د ډیر کم وخت دپاره هم د نظم او قانون خلاف ورزي
نشي کولای،مثلاً د میلیاردونو کلونو په تیریدو سره ځمکه نه د خپل مدار
څخه وتلې او نه وتلای شي،نه یې سپیډ کم او زیات کړئ دی او نه یې
کولای شي،مطلب دا چې هر شی د داسې یو قوي او عمومي قانون تابع
او پیروي کوي کوم چې په کائناتو کې کار فرما دی ،حتی که تاسو په
خپله هم وغواړئ خو د لویو کهکشانونو څخه تر یو وړوکې اتوم پورې به
په هیڅ شي کې بي نظمي او ګډوډي پیدا نکړئ،او څومره تحقیق چې
وکړئ،صرف همدې نتیجې ته به ورسیږئ چې هر شی د یو منظم قانون
په اساس کار کوي،نو د دې ټولو سوالونو جواب چې دا هرڅه څنګه جوړ
شوي دي ،ولې جوړ شوي دي ،ولې منظم دي،څنګه کار کوي،او څنګه
کنټرولیږي؟نو د دې ټولو سوالونو صرف یو جواب دی.چې الله
تعالی«جل جلاله»آسمانونه او ځمکه او څه چې د دوی په منځ کې دي
ټول الله تعالی د یو مقصد دپاره پیدا کړي دي،په ټولو کائناتو کې صرف د
الله تعالی حکومت،نظم او قانون چلیږي،د کائناتو حقیقي بادشاه صرف الله
تعالی دی،او هغه«جل جلاله» ئې چلوي او کنټرولوي یې.نو ابراهیم
«علیه السلام» د الله تعالی د کائناتي آیاتونو د مطالعې،غور او فکر
پواسطه الله تعالی وپیژندلو.) ۷۵

فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ ٱلَّيْلُ رَءَا كَوْكَبًاۖ قَالَ هَٰذَا رَبِّىۖ فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَآ أُحِبُّ ٱلْـَٔافِلِينَ
۷٦

د پو هيدلو دپاره يو څه معلومات ذکر کول ضرور دي.

ابراهيم«عليه السلام» په داسې يو ماحول او ټولنه کې سترګې غړولې وي چې:چې ټول خلک په شرک کې اخته و،قسم-قسم معبودان لکه ستورو،لمر،سپوږمۍ،بتانو او پاچا ته به يې خدايان ويلې او عبادت به يې ورته کولو،کله چې ابراهيم «عليه السلام» د رشد او بلوغ مرحلې ته ورسيدو،څرنګه چې د سالم عقل،سالم فطرت او غور او فکر کولو خاوند و،هغه «عليه السلام) په کائناتي آياتونو باندې د غور او فکر کولو څخه په دې پوره باور او يقين لرلو چې:چې زما قوم چې څه کوي او څه شي ته چې خدايان وايې دا هسې چټيات او ګمراهې ده،او په دې عقيده و چې د کائناتو معبود او خالق صرف يو دی يعنې د توحيد په عقيده و،نو ځکه يې تحقيق شروع کړو چې قوم به يې هر شي ته خدای ويلې، ده عليه السلام به هغه په عقلي او علمي دلايلو سره رد کوو،په سورة بقره کې تير شوي دي: پاچا يعنې نمرود چې خلکو يې عبادت کولو،او هغه هم ځان ته خدای ويلې،نو ده عليه السلام د خلکو مخکې ورته وويلې چې ته خدای نه يې،خدای هغه دی چې لمر د مشرق څخه راخيژوي نو که ته خدای يې نو ته يې د مغرب نه راوخيژوه،خو ته دا کار نه شي کولای ،يعنې ته دا قدرت او اختيار

نلرې،او څوک چې قدرت او اختيار نه لرې هغه خدای نشي کيدلای

همدارنګه د بتانو په باره کې يې تحقيق وکړو.ځکه چيرته چې دا عليه السلام اوسيدو هلته پينځه زره بتان و.

پلار ته يعنې بت پرستانو ته يې عقلاً او علماً ثابته کړه چې بت خدای نشی کيدلای،ورته يې وويلې چې پخپل لاس د تيږو اولرګيو نه بتان جوړوئ،نه خبرې کوي،نه ستاسو خبرې اورې،نه لاس او پښې خوځولای

شي،نو داسې مړو او كمزورو شيانو ته خدايان ويل حماقت او ګمراهي نه ده نو نور څه دي؟

همدارنګه ډېرو خلكو د لمر ،سپوږمۍ او ستورو عبادت كولو او خدايان يې ورته ويلې،نو ابراهيم عليه السلام په دوى هم تحقيق وكړو او ثابته ئې كړه چې دا يو هم خداى نه دى د كومو چې زما قوم عبادت كوي او خدايان ورته وايې او.

فَلَمَّا نو كله چې جَنَّ تياره كړه عَلَيْهِ په هغه عليه اسلام باندې ٱلَّيْلُ شپې رَءَا هغه«عليه السلام» وليدلو كَوْكَبًاۖ يو ستورى(يعني كله چې قوم يې ورته وويلې چې ستورې خدايان دي،نو ده عليه السلام په ستورو تحقيق شروع كړو،تر څو قوم ته ثابت كړي چې ستورې خدايان نه دي،د دي مطلب دا نه دى چې ګني د دې نه مخكې يا هغه عليه السلام ستورې نه و ليدلي،او يا په كوم غار كې لوى شوئ و،ځكه چې هغه عليه السلام د ټولنې په لوړه طبقه كورنۍ كې پيداشوئ و يعني پلار يې د دنيا په لحاظ په دولت او حكومت كې لوړ موقف او مقام لرلو) قَالَ هغه«عليه السلام» وويلې هَٰذَا (چې) دا رَبِّىۖ زما رب دى(د دې مطلب دا نه دى چې ابراهيم عليه السلام د لږ وخت دپاره هم دا قبوله كړې وه چې دا زما رب دى،بلكې دا عقيده خو د هغه عليه السلام د قوم وه،ابرهيم عليه السلام به د قوم خبرې اوريدلې،خو په پټو ستركو به يې نه منلې،اول به يې تحقيق كولو او د تحقيق څخه وروسته به يې جواب وركولو،نو دا خبره هم ابراهيم عليه اسلام ته د هغه قوم كړې وه چې ستورى هم خدايان دى،سپوږمۍ او لمر هم خدايان دى،يعني كله چې هغه عليه السلام په ستورو تحقيق شروع كړ نو وويلې چې زما قوم وايې چې دا ستورى زما خداى دى.) فَلَمَّآ خو كله چې(تحقيق يې وكړو،او) أَفَلَ هغه(ستورى)

پریوتو قَالَ هغه«علیه السلام» وویلې لَآ أُحِبُّ زه نه خوښوم ٱلۡـَٔافِلِينَ
پریوتونکې( یعنې د ابراهیم علیه السلام تحقیق د یوې شپې خبره نه وه
بلکې د ډېرو تجربو او تحقیق څخه وروسته ورته معلومه شوه چې
ستورې خو په منظمه توګه د شپې راخیژې او په منظمه توګه پریوځې،د
دې مطلب دا شو چې دا خو د یو منظم نظام او قانون تابیع دي،نو داسې
شی چې هغه د بل نظام او قانون تابع وي هغه خدای نشي کیدلای.)٧٦

فَلَمَّا بیا چې کله رَءَا هغه علیه السلام ولیدله ٱلۡقَمَرَ سپوږمۍ بَازِغٗا
ځلیدونکې(روښانه) قَالَ هغه علیه السلام وویلې هَٰذَا دا رَبِّيۖ زما
رب دی(یعنې کله چې قوم ورته وویلې چې سپوږمۍ دې خدای دی) فَلَمَّآ
نو کله چې هغه علیه السلام تحقیق وکړو،او ویې لیدل) أَفَلَ چې هغه
پریوته(یعنې کله یې چې په سپوږمۍ هم تحقیق او تجربې وکړې،نو ورته
ثابته شوه چې سپوږمۍ هم لکه د ستورو د یو بل نظم او قانون تابع
ده،ټول صفتونه یې د مخلوق دي او د خالق صفت په کې نشته دی) قَالَ
(نو)هغه علیه السلام وویلې لَئِن که چیرته لَّمۡ يَهۡدِنِي هدایت ونکړې
ماته رَبِّي رب زما لَأَكُونَنَّ بیشکه زه به شمه مِنَ ٱلۡقَوۡمِ د قوم
ٱلضَّآلِّينَ د ګمراهانو نه ٧٧

فَلَمَّا رَءَا ٱلشَّمۡسَ بَازِغَةٗ قَالَ هَٰذَا رَبِّي هَٰذَآ أَكۡبَرُۖ فَلَمَّآ أَفَلَتۡ قَالَ يَٰقَوۡمِ إِنِّي
بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُشۡرِكُونَ ٧٨

فَلَمَّا بیا چې کله رَءَا هغه علیه السلام ولیدلو ٱلشَّمۡسَ لمر بَازِغَةٗ
ځلیدونکۍ(«روښانه» یعنې چې کله یې په لمر غور او فکر شروع کړو)
قَالَ هغه علیه السلام وویلې هَٰذَا رَبِّي دا زما رب دی هَٰذَآ أَكۡبَرُۖ دا د
ټولو نه لوی دی(یعنې قوم یې ورته وویلې چې دا ستا لوی رب دی) فَلَمَّآ
نو کله چې أَفَلَتۡ هغه پریوتو(یعنې وروسته د تحقیق او تجربو څخه

ورته معلومه شوه چې لمر هم د ستورو او سپوږمۍ په شان د بل نظم او
قانون تابع دی،صرف د مخلوق صفتونه په کې دي او د خالق هيڅ صفت
په کې نشته دی) (نو) هغه عليه السلام وويلې قَالَ يَـٰقَوْمِ اى زما قومه
إِنِّى بېشکه زه بَرِىٓءٌ بيزاره يم مِّمَّا د هغه(شرک) څخه تُشْرِكُونَ
چې تاسو يې کوئ(يعنې تاسو چې کومو شيانو ته خدايان وايئ او عبادت
يې کوئ هغه يو هم خدای نه دی،بلکې حقيقت دا دی چې تاسو د خپل
حقيقي خالق او رب سره شريکان جوړ کړي دي ،او تاسو ټول مشرکان
ياستئ،او زه ستاسو او ستاسو د خدايانو نه بيزاره يم) ٧٨

إِنِّى وَجَّهْتُ وَجْهِىَ لِلَّذِى فَطَرَ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ حَنِيفًاۖ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ
ٱلْمُشْرِكِينَ ٧٩

ابراهيم عليه لسلام قوم ته وويلې چې زه يوازې هغه ذات خپل رب منم
چې آسمانونه او ځمکه ئې پيدا کړي دي،او د هغه«جل جلاله)سره بل هيڅ
شي نه شريکوم،او نه مشرک يم.

إِنِّى وَجَّهْتُ بېشکه ما اړولئ وَجْهِىَ مخ خپل لِلَّذِى هغه ذات ته
فَطَرَ چې هغه«جل جلاله»پيدا کړي دي ٱلسَّمَـٰوَٰتِ آسمانونه وَٱلْأَرْضَ
او ځمکه حَنِيفًاۖ مظبوط(او کلک) يم په توحيد وَمَآ أَنَا۠ او نه يم زه
مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ د مشرکانو څخه. ٧٩

وَحَآجَّهُۥ قَوْمُهُۥۚ قَالَ أَتُحَـٰٓجُّوٓنِّى فِى ٱللَّهِ وَقَدْ هَدَىٰنِۚ وَلَآ أَخَافُ مَا تُشْرِكُونَ بِهِۦٓ
إِلَّآ أَن يَشَآءَ رَبِّى شَيْـًٔاۗ وَسِعَ رَبِّى كُلَّ شَىْءٍ عِلْمًاۗ أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ ٨٠

ابراهيم «عليه السلام» ته قوم وويلې! ته چې زمونږ خدايان نه منې او
خبرې پسې کوې،نو د دې ازار به دې ووهي،او مصيبت به دربندي نازل
کړي.

وَحَآجَّهُۥ او جګړه وکړه(او بحث وکړو) د هغه«علیه السلام» سره
قَوۡمُهُۥۚ قوم د هغه«علیه السلام» قَالَ هغه«علیه السلام» وويلي(خپل
قوم ته) أَتُحَـٰٓجُّوٓنِّي آيا تاسو زما سره جګړه کوئ(ايا زما سره بحث
کوئ) فِي ٱللَّهِ د الله تعالى په باره کې وَقَدۡ حال دا چې بېشکه هَدَىٰنِۚ
هغه«جل جلال»هدايت کړئ دی ماته وَلَآ أَخَافُ او زه نه ويريږم مَا د
هغو(شيانو څخه) تُشۡرِكُونَ چې تاسو يې شريکوئ بِهِۦٓ د هغه «جل
جلاله»سره(يعني زه ستاسو د غلطو معبودانو څخه چې تاسو په خدايۍ
نيولي دي نه ويريږم چې ماته به ضرر يا تکليف ورسوي) إِلَّآ مګر أَن
چې يَشَآءَ وغواړي(چې اراده وفرمايې) رَبِّي رب زما شَيۡـٔٗاۗ د
څه(تکليف او مصيبت رسولو ماته،نو رارسولئ ئي شي،خو د دې مطلب
به دا نه وي چې ستاسو غلطو معبودانو او خدايانو به ماته څه تکليف او
ضرر رارسولئ وی) وَسِعَ احاطه کړئ دی رَبِّي رب زما كُلَّ شَيۡءٍ
هر يو شی عِلۡمًاۗ په علم سره أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ آيا نو تاسو پند نه اخلئ
٨٠

وَكَيۡفَ أَخَافُ مَآ أَشۡرَكۡتُمۡ وَلَا تَخَافُونَ أَنَّكُمۡ أَشۡرَكۡتُم بِٱللَّهِ مَا لَمۡ يُنَزِّلۡ بِهِۦ عَلَيۡكُمۡ سُلۡطَـٰنٗاۚ فَأَيُّ ٱلۡفَرِيقَيۡنِ أَحَقُّ بِٱلۡأَمۡنِۖ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٨١

وَكَيۡفَ او څنګه أَخَافُ به زه وويريږم مَآ د هغو(شيانو څخه)
أَشۡرَكۡتُمۡ چې تاسو يې شريکوئ(د الله تعالى سره) وَلَا تَخَافُونَ او تاسو
نه ويريږئ(د دې څخه) أَنَّكُمۡ أَشۡرَكۡتُم چې بيشکه شريکوئ تاسو بِٱللَّهِ د
الله تعالى سره مَا هغه(شيان) لَمۡ يُنَزِّلۡ چې نه دی نازل شوئ بِهِۦ (د
هغې شيانو په شريکولو باندې)د هغه «جل جلاله) سره عَلَيۡكُمۡ تاسو ته
سُلۡطَـٰنٗاۚ يو دليل(د الله تعالى د خوانه چې ګڼې دا شيان د الله سره شريکان
ونيسئ) فَأَيُّ نو کوم يوه ٱلۡفَرِيقَيۡنِ د دې دوه ډلو څخه(چې يوه ډله د

الله تعالى سره شرک کوي،او بله ډله شرک نه کوي،او په توحيد ولاړه ده) أَحَقُّ مستحق ده بِٱلۡأَمۡنِۖ د امن(د الله تعالى د عذاب څخه) إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ كه تاسو پوهيږئ؟ ٨١

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمۡ يَلۡبِسُوٓاْ إِيمَـٰنَهُم بِظُلۡمٍ أُوْلَـٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلۡأَمۡنُ وَهُم مُّهۡتَدُونَ ٨٢

کله چې هغوی بې جوابه شو نوبیخیله الله تعالى جواب فرمايي!

ٱلَّذِينَ هغه خلک ءَامَنُواْ چې هغوی ایمان راوړئ دی وَلَمۡ يَلۡبِسُوٓاْ او ګډ کړئ نه دی هغوی إِيمَـٰنَهُم ایمان خپل بِظُلۡمٍ د ظلم (يعني)شرک سره(يعني د الله تعالى سره يې بل څوک نه وي شريک کړئ،لکه مونږ. ګورو چې ډېر خلک داسې دي چې هم يې ايمان راوړئ دی او هم په شرک کې اخته دي.) أُوْلَـٰٓئِكَ دغه خلک(چې ايمان يې راوړئ او شرک نه کوي) لَهُمُ دوی ته ٱلۡأَمۡنُ امن دی(يعني د الله تعالى د عذاب څخه بچ دي) وَهُم او همدوی مُّهۡتَدُونَ لار موندونکي دي. ٨٢

وَتِلۡكَ حُجَّتُنَآ ءَاتَيۡنَـٰهَآ إِبۡرَٰهِيمَ عَلَىٰ قَوۡمِهِۦۚ نَرۡفَعُ دَرَجَـٰتٍ مَّن نَّشَآءُۗ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ٨٣

وَتِلۡكَ او دغه حُجَّتُنَآ دليل دی زمونږ ءَاتَيۡنَـٰهَآ چې ورکړئ و مونږ هغه إِبۡرَٰهِيمَ ابراهيم «عليه السلام» عَلَىٰ قَوۡمِهِۦۚ په مقابل د قوم د هغه «عليه السلام» کې نَرۡفَعُ مونږ اوچتوو دَرَجَـٰتٍ درجې مَّن نَّشَآءُۗ چا ته چې مونږ وغواړو إِنَّ رَبَّكَ بېشکه رب ستا حَكِيمٌ ښه حکمت والا عَلِيمٌ (او)ښه پوه دی. ٨٣

وَوَهَبۡنَا لَهُۥٓ إِسۡحَـٰقَ وَيَعۡقُوبَۚ كُلًّا هَدَيۡنَاۚ وَنُوحًا هَدَيۡنَا مِن قَبۡلُۖ وَمِن ذُرِّيَّتِهِۦ دَاوُۥدَ وَسُلَيۡمَـٰنَ وَأَيُّوبَ وَيُوسُفَ وَمُوسَىٰ وَهَـٰرُونَۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٨٤

وَوَهَبْنَا او ورکړې و مونږ لَهُۥٓ هغه ته(ابراهيم عليه السلام ته) إِسْحَـٰقَ
اسحق عليه السلام وَيَعْقُوبَ ۚ او يعقوب عليه السلام كُلًّا هر يو ته
هَدَيْنَا ۚ مونږ هدايت کړې و وَنُوحًا او نوح عليه السلام ته هَدَيْنَا مونږ
هدايت کړې و مِن قَبْلُ ۖ د(ابراهيم عليه السلام)نه مخکې وَ
او(هدايت کړې و مونږ) مِن ذُرِّيَّتِهِۦ د هغه عليه السلام د اولاد نه
دَاوُۥدَ داود عليه السلام ته وَسُلَيْمَـٰنَ او سليمان عليه السلام ته وَأَيُّوبَ
او ايوب عليه السلام ته وَيُوسُفَ او يوسف عليه السلام ته وَمُوسَىٰ او
موسى عليه السلام ته وَهَـٰرُونَ ۚ او هارون عليه السلام ته وَكَذَٰلِكَ او
همدارنګه (لکه دغو انبياو ته چې مو بدل ورکړو) نَجْزِى مونږ بدل
ورکوو ٱلْمُحْسِنِينَ نيکي کوونکو ته ٨٤

وَزَكَرِيَّا وَيَحْيَىٰ وَعِيسَىٰ وَإِلْيَاسَ ۖ كُلٌّ مِّنَ ٱلصَّـٰلِحِينَ ٨٥

وَ او(هدايت کړې و مونږ) زَكَرِيَّا زکريا عليه السلام ته وَيَحْيَىٰ او
يحيى عليه السلام ته وَعِيسَىٰ او عيسى عليه السلام ته وَإِلْيَاسَ ۖ او
الياس عليه السلام ته كُلٌّ (دوی) ټول مِّنَ ٱلصَّـٰلِحِينَ د صالحانو څخه
دي. ٨٥

وَإِسْمَـٰعِيلَ وَٱلْيَسَعَ وَيُونُسَ وَلُوطًا ۚ وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى ٱلْعَـٰلَمِينَ ٨٦

وَ او (هدايت کړې و مونږ) إِسْمَـٰعِيلَ اسماعيل عليه السلام ته وَٱلْيَسَعَ
او اليسع عليه السلام ته وَيُونُسَ او يونس عليه السلام ته وَلُوطًا ۚ او
لوط عليه السلام ته وَكُلًّا او(دوی) ټولو ته فَضَّلْنَا فضيلت ورکړې و
مونږ عَلَى ٱلْعَـٰلَمِينَ په ټولو عالمونو باندې. ٨٦

وَمِنْ ءَابَآئِهِمْ وَذُرِّيَّٰتِهِمْ وَإِخْوَٰنِهِمْ ۖ وَٱجْتَبَيْنَٰهُمْ وَهَدَيْنَٰهُمْ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ٨٧
ذَٰلِكَ

وَ او(فضیلت ورکړئ و مونږ) مِنْ ءَابَآئِهِمْ ځینې د پلرونو د دوی ته وَذُرِّيَّٰتِهِمْ او اولادونو د دوی ته وَإِخْوَٰنِهِمْ ۖ او ورونو د دوی ته وَٱجْتَبَيْنَٰهُمْ او مونږ غوره کړي و دوی وَهَدَيْنَٰهُمْ او مونږ هدایت کړئ و دوی ته إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ سمې لارې ته. ٨٧

ذَٰلِكَ هُدَى ٱللَّهِ يَهْدِى بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۚ وَلَوْ أَشْرَكُوا۟ لَحَبِطَ عَنْهُم مَّا
كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ٨٨

ذَٰلِكَ دا (دین د انبیاؤ) هُدَى ٱللَّهِ هدایت د الله تعالی دی يَهْدِى چې هغه «جل جلاله» لاربنودنه فرمایې بِهِۦ په دې سره مَن يَشَآءُ چا ته چې اراده وفرمایې مِنْ عِبَادِهِۦ ۚ د بندګانو خپلو نه وَلَوْ او که(فرضاً) أَشْرَكُوا۟ هغوی شریک کړئ و(بل شی د الله تعالی سره) لَحَبِطَ خامخا به برباد شوي و عَنْهُم د هغوی مَّا هغه(عملونه) كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ چې دوی به کول(یعنې شرک داسې لویه ګناه ده چې د بنده ټول ښه عملونه بربادوي) ٨٨

أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحُكْمَ وَٱلنُّبُوَّةَ ۚ فَإِن يَكْفُرْ بِهَا هَٰٓؤُلَآءِ فَقَدْ وَكَّلْنَا
بِهَا قَوْمًا لَّيْسُوا۟ بِهَا بِكَٰفِرِينَ ٨٩

أُو۟لَٰٓئِكَ دغه(پیغمبران) ٱلَّذِينَ هغه(خلک) دي ءَاتَيْنَٰهُمُ چې ورکړئ دی مونږ هغوی ته ٱلْكِتَٰبَ کتاب وَٱلْحُكْمَ او حکمت وَٱلنُّبُوَّةَ ۚ او پیغمبرې فَإِن نو که چیرته يَكْفُرْ کفر کوي بِهَا په دې( آیتونو د قرآن) هَٰٓؤُلَآءِ دغه ( کافران) فَقَدْ نو بیشکه وَكَّلْنَا مقرر کړې دي مونږ بِهَا د دې (کار) دپاره قَوْمًا نور خلک لَّيْسُوا۟ چې هغوی نه

دي بِهَا په دې(قرآن)باندې بِكَٰفِرِينَ كفر كوونكې(يعنې د مكې مشركانو چې د قرآن او نبي عليه السلام د منلو څخه انكار وكړو،نو الله تعالى د دين كار د مهاجرينو او د مدينې منورې د انصارو څخه واخستو) ٨٩

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ هَدَى ٱللَّهُۖ فَبِهُدَىٰهُمُ ٱقْتَدِهْۗ قُل لَّآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًاۖ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْعَٰلَمِينَ ٩٠

أُوْلَٰٓئِكَ (اى محمد«صلى الله عليه وسلم») دغه(پيغمبران عليهم السلام) ٱلَّذِينَ هغه(خلک)دي هَدَى ٱللَّهُۖ چې الله تعالى هدايت كړئ دى(هغوى ته) فَبِهُدَىٰهُمُ نو د هغوى د لارې ٱقْتَدِهْۗ پيروي وكړه قُل (او كافرانو ته) ووايه لَّآ أَسْـَٔلُكُمْ چې زه نه غواړم ستاسو نه عَلَيْهِ په دې(تبليغ د قرآن)باندې أَجْرًاۖ څه مزدورې(او اجر) إِنْ هُوَ نه دى دغه(قرآن) إِلَّا مګر ذِكْرَىٰ نصيحت دى لِلْعَٰلَمِينَ د عالمونو دپاره(انسانان،پيريان) ٩٠

وَمَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِۦٓ إِذْ قَالُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَىٰ بَشَرٍ مِّن شَيْءٍۗ قُلْ مَنْ أَنزَلَ ٱلْكِتَٰبَ ٱلَّذِى جَآءَ بِهِۦ مُوسَىٰ نُورًا وَهُدًى لِّلنَّاسِۖ تَجْعَلُونَهُۥ قَرَاطِيسَ تُبْدُونَهَا وَتُخْفُونَ كَثِيرًاۖ وَعُلِّمْتُم مَّا لَمْ تَعْلَمُوٓاْ أَنتُمْ وَلَآ ءَابَآؤُكُمْۖ قُلِ ٱللَّهُۖ ثُمَّ ذَرْهُمْ فِى خَوْضِهِمْ يَلْعَبُونَ ٩١

مشركانو د نبي عليه السلام په اړه د يهوديانو څخه داسې پوښتنه وكړه چې:محمد«صلى الله عليه وسلم» د نبوت دعوه كړې ده،او وايې چې په ما د الله تعالى د طرف نه وحې راځې،آيا هغه عليه السلام رښتيا وايې؟ستاسو په دې اړه نظر څه دى؟يهوديانو د ډېر تعصب،ضد او غصې په سبب د خپلو ځانونو او خپل كتاب پروا هم ونكړه،او داسې جواب يې وركړو

چې: الله تعالی په یو انسان باندې هم وحې نه ده نازل کړې. نو ځکه الله تعالی مسقیماً خطاب یهودیانو ته وکړ.

وَمَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ او دوی د الله تعالی قدر ونکړو حَقَّ قَدْرِهِۦٓ څنګه چې د هغه جل جلاله د قدر کولو حق دی إِذْ قَالُواْ کله چې دوی(یعنې یهودانو مشرکانو ته) وویل مَآ أَنزَلَ چې:نه دی نازل کړئ ٱللَّهُ الله تعالی عَلَىٰ بَشَرٍ په هیڅ انسان باندې مِّن شَىْءٍۗ هیڅ شی قُلْ (ای محمد«صلی الله علیه وسلم» ورته) ووایه مَنْ أَنزَلَ (چې) چا نازل کړئ دی ٱلْكِتَٰبَ کتاب(یعنې تورات) ٱلَّذِى هغه (تورات) چې جَآءَ بِهِۦ راوړئ و هغه مُوسَىٰ موسی علیه السلام نُورًا چې رڼا ده وَهُدًى او هدایت دی لِّلنَّاسِۖ د انسانانو دپاره؟ تَجْعَلُونَهُۥ قَرَاطِيسَ چې تاسو هغه(تورات)پاڼې-پاڼې کوئ تُبْدُونَهَا ښکاره کوئ تاسو هغه(پاڼې د تورات خلکو ته چې ستاسو خوښه وي) وَتُخْفُونَ او پټوئ تاسو كَثِيرًاۖ ډېرې (پاڼې د تورات د خلکو څخه، هغه چې ستاسو خوښه نه وي چې خلک دې پرې خبر شي لکه د محمد«صلی الله علیه وسلم صفتونه او زیرې چې پټوئ) وَعُلِّمْتُم او پوه شوي یاستئ تاسو(د تورات پواسطه) مَّا په هغو (خبرو) لَمْ تَعْلَمُوٓاْ أَنتُمْ چې نه وربانديې تاسو پوهیدلئ وَلَآ ءَابَآؤُكُمْۖ او نه وربانديې ستاسو پلرونه پوهیدل،نو د یهودو نه پوښتنه وکړه،ښه چې تاسو وایئ چې په هیڅ انسان وحې نه ده راغلې،نو بیا جواب راکړئ چې آیا تورات وحې نه ده؟آیا موسی علیه السلام په خپله لیکلئ دی؟نو معلومه خبره ده چې دوی به بې جوابه شي، نو بیا ته پخپله جواب ورکړه) قُلِ ورته ووایه ٱللَّهُۖ چې الله تعالی(نازل کړئ دی یعنې تورات د الله تعالی وحې ده چې په موسی علیه السلام یې نازل کړئ دی) ثُمَّ بیا ذَرْ ته پرېږده هُمْ دوی فِى خَوْضِهِمْ په خپلو باطلو بحثونو کې يَلْعَبُونَ چې لوبې کوي. ۹۱

وَهَٰذَا كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ مُبَارَكٌ مُّصَدِّقُ ٱلَّذِى بَيْنَ يَدَيْهِ وَلِتُنذِرَ أُمَّ ٱلْقُرَىٰ وَمَنْ حَوْلَهَا ۚ وَٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِٱلْـَٔاخِرَةِ يُؤْمِنُونَ بِهِۦ ۖ وَهُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ ٩٢

وَهَٰذَا او دا(قرآن) كِتَٰبٌ يو كتاب دى أَنزَلْنَٰهُ چې مونږ هغه نازل كړئ دى مُبَارَكٌ بركتي دى مُّصَدِّقُ (او) تصديق كوونكئ دى ٱلَّذِى د هغه(څه) بَيْنَ يَدَيْهِ چې د ده نه مخكې دي(يعني كوم كتابونه لكه تورات او انجيل چې د قرآنكريم څخه مخكې نازل شوي دي د هغوى تصديق كوي) وَلِتُنذِرَ او(د دې دپاره دا قرآن نازل شوئ دى) چې ته وويروې(په ده سره) أُمَّ ٱلْقُرَىٰ د كلو مركز(مكه معظمه،يعني د ټولې دنيا د كلو يا ښارونو مركزې كلى مكه شريفه، ځكه چې كعبه شريفه د ټولې دنيا مركز دى،نو ځكه مكه شريفه د دنيا مركزې كلى يا ښار دى) وَمَنْ حَوْلَهَا ۚ او(چې وويروي) څوک چې د دې(مركزې كلي يعني مكې خوا او شاه دي(يعني د ټولې دنيا انسانان) وَٱلَّذِينَ او هغه خلک يُؤْمِنُونَ چې يقين كوي(چې باور لري) بِٱلْـَٔاخِرَةِ په آخرت باندې يُؤْمِنُونَ هغوى ايمان راوړي بِهِۦ ۖ په دې(قرآن) باندې وَهُمْ او هغوى عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ د خپلو لمونځونو يُحَافِظُونَ پابندې كوي ٩٢

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوْ قَالَ أُوحِىَ إِلَىَّ وَلَمْ يُوحَ إِلَيْهِ شَىْءٌ وَمَن قَالَ سَأُنزِلُ مِثْلَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ ۗ وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِى غَمَرَٰتِ ٱلْمَوْتِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ بَاسِطُوٓا۟ أَيْدِيهِمْ أَخْرِجُوٓا۟ أَنفُسَكُمُ ۖ ٱلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ ٱلْهُونِ بِمَا كُنتُمْ تَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ غَيْرَ ٱلْحَقِّ وَكُنتُمْ عَنْ ءَايَٰتِهِۦ تَسْتَكْبِرُونَ ٩٣

وَمَنْ او څوک أَظْلَمُ ډېر ظالم دى مِمَّنِ د هغه چا څخه ٱفْتَرَىٰ چې هغه تړې(وايي) عَلَى ٱللَّهِ په الله تعالى باندې كَذِبًا دروغ(يعني وايي چې:الله تعالى ځوى،لور او ښځه لري) أَوْ يا قَالَ وايي أُوحِىَ

چې وحې شوي إِلَيَّ ما ته وَ حال دا چې لَمْ يُوحَ وحې نه وي شوې
إِلَيْهِ هغه ته شَيْءٌ هيڅ شی وَ او(څوک ډېر ظالم دی د هغه چا
څخه؟) مَن قَالَ څوک چې وايي سَأُنزِلُ زه به(هم) نازل کړم(زه به
هم جوړ کړم) مِثْلَ په شان مَآ د هغه(قرآن بل کتاب کوم چې) أَنزَلَ
نازل کړئ دی ٱللَّهُ الله تعالی وَلَوْتَرَىٰٓ او كه ته وګورې(هغه وخت)
إِذِ کله چې ٱلظَّـٰلِمُونَ دا ظالمان فِي غَمَرَٰتِ په سختيو كې وي ٱلْمَوْتِ
د مرګ(يعني ځنكدن يې وي) وَٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ او (د مرګ) فريشتو بَاسِطُوٓاْ
وراوږده كړې وي أَيْدِيهِمْ لاسونه خپل (د نفس د قبض كولو دپاره او
ورته وايې) أَخْرِجُوٓاْ راوباسئ أَنفُسَكُمُ نفسونه خپل(يعني راوباسئ
ساه ګانې خپلې) ٱلْيَوْمَ نن ورځ تُجْزَوْنَ به تاسو ته جزا دركول كيږي
عَذَابَ ٱلْهُونِ د سپكوونكئ عذاب(عذاب د ذلت سره) بِمَا په سبب د هغو
ويناوو كُنتُمْ تَقُولُونَ چې تاسو به ويلې عَلَى ٱللَّهِ په الله تعالی باندې غَيْرَ
ٱلْحَقِّ په ناحقه وَكُنتُمْ او وئ تاسو عَنْ ءَايَـٰتِهِۦ د الله تعالی د آيتونو(د
قبلولو نه منكر او) تَسْتَكْبِرُونَ تكبر مو كولو.٩٣

وَلَقَدْ جِئْتُمُونَا فُرَٰدَىٰ كَمَا خَلَقْنَـٰكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَتَرَكْتُم مَّا خَوَّلْنَـٰكُمْ وَرَآءَ
ظُهُورِكُمْ ۖ وَمَا نَرَىٰ مَعَكُمْ شُفَعَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ زَعَمْتُمْ أَنَّهُمْ فِيكُمْ شُرَكَـٰٓؤُاْ ۚ لَقَد تَّقَطَّعَ
بَيْنَكُمْ وَضَلَّ عَنكُم مَّا كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ٩٤

وَلَقَدْ (او د مرګ نه وروسته به ورته وويل شي) او بېشكه چې جِئْتُمُونَا
تاسو راغلئ مونږ ته فُرَٰدَىٰ يوازې-يوازې كَمَا لكه څنګه چې
خَلَقْنَـٰكُمْ مونږ پيداكړئ وئ تاسو أَوَّلَ مَرَّةٍ اول ځل (يعني هيڅ شی
درسره نه و) وَتَرَكْتُم او(اوس هم) تاسو پريښودل مَّا هغه(ټول
نعمتونه،كورونه،اولادونه ،ښځې،مالونه او دولتونه) خَوَّلْنَـٰكُمْ چې مونږ
دركړې و تاسو ته وَرَآءَ ظُهُورِكُمْ ۖ وروسته د شاګانو خپلو(يعني مونږ

چې څومره شیان درکړي و هغه ټول مو په دنیا کې شا ته پرېښودل او
بیرته ماته بې ماله او بې دولته،بې کالیو،بې څپلیو،بې خولۍ،بې قدرته،بې
دبدبې یوازې-یوازې راغلئ،نه درسره شاهي ګاډ شته،نه زور نه دولت
ټول مو په دنیا کې پرېښودل) وَ او(بیا به ورته وویل شي چې اوس خو)
مَا نَرَىٰ مونږ نه ګورو مَعَكُمْ ستاسو سره شُفَعَآءَكُمُ شفاعت کوونکي
ستاسو ٱلَّذِينَ هغه(شفاعت کوونکي) زَعَمْتُمْ چې تاسو ګمان کولو
أَنَّهُمْ چې هغوی فِيكُمْ ستاسو(د کارونو په برابرولو) کې شُرَكَـٰٓؤُاْۚ
(زمونږ) شریکان دي(یعنې تاسو ګمان کولو چې دا بتان او غلط معبودان
به مو په قبر یا برزخ او آخرت کې په کار راشي،شفاعت به مو وکړي او
د الله تعالی د عذاب نه به مو خلاص کړي،لیکن ورته به وویل شي) لَقَد
یقیناً تَّقَطَّعَ قطع شو(پرې کړئ شو،ختم شو) بَيْنَكُمْ ستاسو په منځ
کې(یعنې ستاسو او ستاسو د غلطو معبودانو په منځ کې تعلق او ارتباط
نور قطع شو) وَضَلَّ او ورک شو عَنكُم ستاسو نه مَّا هغه(بتان او
غلط معبودان) كُنتُمْ تَزْعُمُونَ چې تاسو به ګمان کولو(چې دوی به
مونږ په برزخ او آخرت کې د عذاب څخه خلاص کړي) ٩٤

۞ إِنَّ ٱللَّهَ فَالِقُ ٱلْحَبِّ وَٱلنَّوَىٰۖ يُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَمُخْرِجُ ٱلْمَيِّتِ مِنَ
ٱلْحَىِّۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ٩٥

۞ إِنَّ ٱللَّهَ بېشکه الله تعالی فَالِقُ چَوونکئ(بیلوونکئ) ٱلْحَبِّ د دانې
وَٱلنَّوَىٰۖ او د زړې دی(مثلاً د بادام یوه دانه چې په ځمکه کې وکرل شي
نو په خاوره کې د بادام د سخت پوخ چَوونکئ هم الله تعالی دی،او بیا د
بادام د زړې چوونکئ او بیا ترې د بادام ونه جوړونکئ هم الله تعالی دی)
يُخْرِجُ هغه «جل حلاله» راوباسي ٱلْحَىَّ ژوندی مِنَ ٱلْمَيِّتِ د مړي
څخه وَمُخْرِجُ او راویستونکئ دی ٱلْمَيِّتِ د مړي مِنَ ٱلْحَىِّۚ د

ژوندي څخه(یعني د مړو زراتو یا اتومونو څخه ژوندي موجودات جوړوي،او ژوندي موجودات په مړو زراتو یا اتومونو بدلوي ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُۖ دغه الله تعالی دی فَأَنَّىٰ نو څنګه تُؤْفَكُونَ تاسو ګمراه کیږئ(او د الله تعالی نه انکار کوئ) ۹۵

فَالِقُ ٱلْإِصْبَاحِ وَجَعَلَ ٱلَّيْلَ سَكَنًا وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ حُسْبَانًاۚ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ ٱلْعَزِيزِ ٱلْعَلِيمِ ﴿٩٦﴾

فَالِقُ چوونکئ ٱلْإِصْبَاحِ د صبا دی(یعني الله تعالی د شپې پرده څیرې کوي،سهار راباسي) وَجَعَلَ او جوړه کړي ئې ده ٱلَّيْلَ شپه سَكَنًا د ارام(اوسکون)دپاره وَٱلشَّمْسَ او لمر وَٱلْقَمَرَ او سپوږمی حُسْبَانًاۚ ئې د حساب دپاره (ذریعې ګرځولي دي.یعني ځمکه د خپل محور نه په ۲۴ ساعتو کې یو ځل تاویږي او یوه شپه اورځ جوړوي.او ځمکه د لمر نه په ۳۶۵ ورځو او شپو کې تاویږي او یو کال جوړوي.او سپوږمی په یو کال کې د ځمکې نه ۱۲ ځله تاویږي او ۱۲ میاشتې جوړوي،نو ځکه مونږ ورځې،جمعې،میاشتې او کلونه پیژنو تاریخ لیکو،او د هرشي عمر راته معلومیږي یعني تاریخي او د عمرونو حسابونه کوو،ډیره مهمه ده چې دا ټول سرعتونه یا سپیډونه ثابت یا فیکس دي، ځمکه د خپل محور نه په یو ثابت یا فیکس سپیډ سره په ۲۴ ساعتو کې یوځل تاویږي،یعني سرعت یا سپیډ یې داسې په ثابت ډول اندازه شوئ دی چې صرف په ۲۴ ساعتو کې یو ځل پوره تاویدلای شي،خو که سرعت یې ثابت نه و نو بیا امکان و چې شپه او ورځ یا د ۲۴ ساعتو څخه ډیره اوږده او یا لنډ و،او که د ځمکې د تاویدلو سرعت د لمر څخه اندازه شوئ او ثابت یا فیکس نه و،نو امکان و،چې کلونه یا ډیر اوږده یا لنډ و،او که د سپوږمی د تاویدلو سرعت د ځمکې څخه اندازه شوئ او ثابت نه و،نو امکان و چې یا

مياشتې ډېرې اوږدې يا ډېرې لنډې شوي وي،او زمونږ تاريخونه او د
عمرنو اندازې به ټولې غلطې وي،بلکې دا ټول سرعتونه په ډېر دقيق
ډول اندازه اوثابت دي،دا په دې معنې چې زمونږ ورځې،جمعې،مياشتې
او کلونه هميشه يو قسم ثابت دي،نه اوږديږي او نه لنډيږي،ځکه چې: )
ذَٰلِكَ دا تَقْدِيرُ اندازه کول ٱلْعَزِيزِ د ډېر زوررور ٱلْعَلِيمِ او ډېر عالم
ذات دي(ځکه چې د دومره دقيق اندازه کولو دپاره ډېر لوی عالم ضرور
دی او د علم د تطبيقولو او عملي کولو دپاره زور او طاقت ضرور دی،نو
ځکه دلته د الله تعالی دا دوه صفتونه ذکر شوي دي) ٩٦

وَهُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلنُّجُومَ لِتَهْتَدُوا۟ بِهَا فِى ظُلُمَـٰتِ ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ ۗ قَدْ فَصَّلْنَا
ٱلْـَٔايَـٰتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ٩٧

وَهُو او هغه«جل جلاله» ٱلَّذِى هغه (ذات) دی جَعَلَ چې جوړ کړې
ئې دي لَكُمُ ستاسو دپاره ٱلنُّجُومَ ستورې لِتَهْتَدُوا۟ د دې دپاره چې
تاسو لار پيدا کړئ بِهَا په دې(ستورو) باندې فِى ظُلُمَـٰتِ په تيارو کې
ٱلْبَرِّ د وچې وَٱلْبَحْرِ ۗ او د بحر(يعني په دشتو،ځنګلونو او بحرونو کې
چې چا ته لار معلومه نه وي نو دا هم اګر که رڼا وي خو د تيارې په شان
ده ځکه سړی نه پوهيږي چې کوم طرف ته لاړ شي،نو په ذکر شوو
ځاويونو کې خلک صرف د شپې د ستورو په واسطه او د ورځې د لمر
پواسطه د تلو طرف او لار پيدا کولای شي،بايد ذکر شي چې لمر هم يو
ستوری دی.او بله مهمه خبره دا ده چې:قرآنکريم چې د کوم شي ذکر
کوي د هغې اهميت د قيامت پورې وي،دا په دې معنې چې شايد د خلکو
په زړونو کې راشي چې: اوس خو د تيکنالوجې دور دی،رادارونه او جي
پي ايس سيستمونه جوړ شوي دي،نو اوس په ستورو سره لار معلومولو
ته څه ضرورت دی،دا خو هسې پخوانۍ خبرې دي.ليکن خبره بالکل

داسې نه ده،د هغو خلکو څخه پوښتنه وکړئ چې څوک په دې مسلکونو
کې کار کوي،اوس هم د نوي ټیکنالوجی،رادارونو او جي پي ایس
سیستمونو سره-سره د بحري او هوايي جهازونو پیلوټانو ته د ستورو د
علم ورزده کول او نقشې ورکول حتمي دي تر څو چې د ضرورت په
وخت کې د ستورو پواسطه لارې پیدا کړي) قَدْ یقیناً فَصَّلْنَا مونږ بیان
کړي دي په تفصیل سره( په واضح ډول) ٱلْـَٔايَـٰتِ آیاتونه(نښانې) لِقَوْمٍ
يَعْلَمُونَ د داسې خلکو دپاره چې عقل لرې. ٩٧

وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنشَأَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ فَمُسْتَقَرٌّ وَمُسْتَوْدَعٌ ۗ قَدْ فَصَّلْنَا ٱلْـَٔايَـٰتِ لِقَوْمٍ
يَفْقَهُونَ ٩٨

وَهُوَ او هغه «جل جلاله» ٱلَّذِىٓ هغه(ذات) دی أَنشَأَكُم چې پیدا کړي
ئې یاستئ تاسو مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ د یو شخص (آدم علیه السلام) نه
فَمُسْتَقَرٌّ او ستاسو دپاره یو د همشه اوسیدلو ځای دی(په آخرت کې)
وَمُسْتَوْدَعٌ ۗ او یو د مؤقتي اوسیدلو ځای دی(په دنیا او برزخ کې.«انسان
د دنیا څخه د آخرت په طرف د خپل مستقر یعني دائمي کور خوا ته روان
دی،د آخرت نه مخکې ټول ځایونه د انسان دپاره مؤقتي کورونه دي،په یو
ځای کې هم په دائمي توګه نشي پاتي کیدلای،دا په دې معنی چې آخرت
ته د رسیدلو څخه د مخه ټول ځایونه د انسان دپاره مستودع یعني مؤقتي
کورونه دي،هغه که د نطفې په شکل د پلار په وجود کې وي،یا د جنین په
شکل د مور په رحم کې وي،یا که د دنیا په هر کور،هره کوڅه،هرکلي او
بازار او هر ملک کې وي،او یا که د مرګ نه وروسته په برزخ کې
وي،دا ټول ځایونه د انسان دپاره مؤقتي کورونه یعني مستودع دي،ځکه
چې په یو ځای کې هم همیشه یا په دائمي توګه نشي پاتي کیدلای، یا په بل
عبارت د آخرت څخه مخکې انسان مستودع یعني په مؤقتي ځای یا کور

کې اوسيږي، ليکن کله چې آخرت يعنې خپل مستقر ته ورسيږي،سفر يې ختم شي او د هميشه دپاره په آخرت کې يا په جنت او يا په دوزخ کې اوسيږي.) قَدْ يقيناً فَصَّلْنَا مونږ په تفصيل سره بيان کړي(په واضح توګه) ٱلْـَٔايَـٰتِ آياتونه(نشانې) لِقَوْمٍ د هغو خلکو دپاره يَفْقَهُونَ چې غور او فکر کوي(د الله تعالی په آياتونو باندې. يعنې پرته د غور او فکر څخه د الله تعالی په آياتونو پوهيدل مشکل دي) ۹۸

وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجْنَا بِهِۦ نَبَاتَ كُلِّ شَىْءٍ فَأَخْرَجْنَا مِنْهُ خَضِرًا نُّخْرِجُ مِنْهُ حَبًّا مُّتَرَاكِبًا وَمِنَ ٱلنَّخْلِ مِن طَلْعِهَا قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ وَجَنَّـٰتٍ مِّنْ أَعْنَابٍ وَٱلزَّيْتُونَ وَٱلرُّمَّانَ مُشْتَبِهًا وَغَيْرَ مُتَشَـٰبِهٍ ۗ ٱنظُرُوٓا۟ إِلَىٰ ثَمَرِهِۦٓ إِذَآ أَثْمَرَ وَيَنْعِهِۦٓ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكُمْ لَـَٔايَـٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ۹۹

وَهُوَ او هغه«جل جلاله» ٱلَّذِىٓ هغه ذات دی أَنزَلَ چې نازل کړي ئې دي مِنَ ٱلسَّمَآءِ د آسمان څخه مَآءً اوبه فَأَخْرَجْنَا بيا راوويستل مونږ بِهِۦ په هغې (اوبو) باندې نَبَاتَ كُلِّ شَىْءٍ هر قسم نباتات(د ځمکې څخه،يعنې د هرقسم نباتاتو تيغونه يا ساقې مونږ د اوبو پواسطه د ځمکې څخه راوويستلې) فَأَخْرَجْنَا بيا مونږ راوويستل(جوړ کړل،پيدا کړل) مِنْهُ د هغې (نباتاتو د تيغونو څخه) خَضِرًا شنه بوټې( يعنې شنه فصلونه او ونې) نُّخْرِجُ (چې) راوباسو مونږ(پيدا کوو مونږ) مِنْهُ د دې شنو بوټو(يعنې شنو فصلونو) څخه حَبًّا دانې(لکه د غنمو دانې،د جوارو دانې،د لوبيانو دانې وغيره،چې نومورې دانې په وړو کې په ډېر خايسته او زړه راښکونکې ډيزاين سره) مُّتَرَاكِبًا يو دبل دپاسه(طبقه په طبقه ايښودل کيږي) وَ او (مونږ پيداکوو،راوباسو) مِنَ ٱلنَّخْلِ د خرما(د ونې) مِن طَلْعِهَا د ځانګو څخه قِنْوَانٌ (د خرماو) وږې دَانِيَةٌ (چې د ډېر درونوالي څخه ښکته ځمکې خوا ته) ځوړند وي

وَ او(په دې اوبو سره مونږ جوړ رو) جَنَّٰتٖ باغونه مِّنۡ أَعۡنَابٖ د انګورو وَٱلزَّيۡتُونَ او(باغونه) د زیتونو وَٱلرُّمَّانَ او(باغونه) د انارو مُشۡتَبِهٗا (چې په ظاهره یې شکلونه) یو شان وي وَغَيۡرَ مُتَشَٰبِهٍۚ او( خوندونه یې) یو شان نه وي(یعني د شکل نه یو شان ښکارې خو ځینې انار خواږه وي او ځینې تروه وي) ٱنظُرُوٓاْ وګورئ(د عبرت په سترګه،غور او فکر وکړئ) إِلَىٰ ثَمَرِهِۦٓ میوو د دې(ونو) ته إِذَآ أَثۡمَرَ کله چې میوه نیسې(یعنې چې څومره ښایسته ډیزاین باندې ګلان جوړېږي،او بیا په څومره دقیق او باریک تخنیک سره د هر ګل څخه میوه راوځې وَ يَنۡعِهِۦٓۚ او(په غور وګورئ) پخیدلو د هغې(میوې ته،چې لحظه په لحظه،ورځ په ورځ یې،حجم یا سایز،شکل،رنګ او خوند په دومره باریک او دقیق ډول بدلیږي،چې د موجوده ټیکنالوجي د سویې څخه ډېر اوچت دي) إِنَّ فِي ذَٰلِكُمۡ بیشکه په دې کې(یعنې د آسمان څخه او به نازلول،بیا د اوبو په واسطه د ځمکې څخه د ښنو فصلونو او ونو راویستل،او بیا د دې فصلونو او ونو پواسطه د غلو دانو او میوو جوړیدل لَأٓيَٰتٖ خامخا دلایل(او نښې دي د الله تعالی د قدرت) لِّقَوۡمٖ د هغو خلکو دپاره يُؤۡمِنُونَ چې ایمان لرې(په الله تعالی باندې،نو په دې دلایلو باندې یې ایمان نور هم قوي کیږي.) ۹۹

ډیره عجیبه ده چې خلک

.د الله تعالی آیاتونه خوري او څکې دنیاوې فایدې ترې اخلي خو عبرت ترې نه اخلي او دا فکر نه کوی چه دا هرڅه ښنګه او ولې کیږي.مثلاً منه،کیله،انار،اوبه او نور دا ټول د الله د قدرت نشاني دي ،خلک یې خوري او دنیاوې فایدې ترې اخلي مګر عبرت ترې نه اخلي چې خپل خالق ته پرې ورسیږي، ځکه چه غور وربانديې نه کوي، اوتاسو باور

وکړی چه په هر یو آیت انسان غور او فکر وکړي، انشاالله چه دغه هره نشانې بنده خالق ته رسوي.مثلاً که د انار د هرې دانې جوړښت ته وګوری هره دانه د یو سور ښایسته غمي نه ډیره ښایسته ده او د هرې دانې په ترتیب ایښودل او د دانو په منځ کی نری نری پردې ایښودل او بیا ډیر ښایسته او مناسب پوخ ورکول که د ټولې دنیا ساینسدانان راټول شي یو انار به جوړ نکړي، نو یو شی چه د ټولې دنیا ساینسدانان نشي جوړولای، نو هغه پخپله څنګه جوړیږي؟ د دې مطلب دا نه دی چه که د ۲۱ پیړۍ ټیکنالوجې او ساینسدانان انار نشي جوړولای نو پخپله جوړیږي .بلکه حقیقت دا دی چه د انار په جوړولو کې چه کومه ټیکنالوجې استعمال شوي ده،هغه د ۲۱ پیړۍ د ټیکنالوژی نه ډیره زیاته اوچته ده، نوخلک په عوض د دې چه ووایې چه انار پخپله جوړیږي، باید چه د هغه ساینسدان په لټه کې شي چا چه انار جوړ کړئ دی او جوړوې یې.فکر وکړئ کله چه تاسو یو

تخم په خاوره کی خخ کړئ، راشین شي، نیالګۍ شي، او څو کاله وروسته ترې غټه په ټنونو ټنونو ونه جوړه شي، خو نه یو سانتي متر ځمکه ژوره شوي وې، او نه یو ګرام خاوره کمه شوی وې،لیکن مونږ د ونې میوه خورو،دسورې او لرګیو نه یې استفاده کوو خو عبرت او پند ترې نه اخلو، ځکه چه غور نه کوو . وَالَّذِينَ هُمْ عَنْ آيَاتِنَا غَافِلُونَ.

په کال کې دوه او درې فصلونه په پټي کې کرو، او په خرورونو خرورونو حاصلات ترې اخلو، خو په پټي کې یو میلې میتر کموالئ هم نه راځې، د پټي حاصلات خورو مګر پند او عبرت ورځخه نه اخلو، وَالَّذِينَ هُمْ عَنْ آيَاتِنَا غَافِلُونَ ځکه چه غور او فکر نه کوو،ښه چه خاوره نه کمیږي نو دا دومره حاصلات او غټه ونه د کوم ځای نه راغله او د کوم

ځای نه خپل غذایي مواد پوره کوي؟ ایا په دې مو کله غور کړئ دی؟جواب دا ځکه چه خالق په هره شنه پاڼه کې په لکهاوو لکهاوو داسې کارخانې یا فکټریز جوړې کړې دي چه د هوا او اوبو نه د لمر د رڼا پواسطه بهترینه غذا جوړوي.او که ملحد ساینسدانان وایې چه په شنو پاڼو کې دا کارخانې پخپله جوړیږي، نو دوی دې مهربانې وکړي، د ۲۱ پیړۍ تیکنالوجې دې هم استعمال کړي او ډیرې نه صرف داسې یوه کارخانه دې جوړه کړي،کومې چې الله تعالی په لکهاو-لکهاو په هره پاڼه کې جوړې کړې دي.نو هغه کار چه په کولو نه کیږي هغه پخپله څنګه کیږي.آیا کله مو په باغ کې دا غور کړئ دی؟چې یو قسم مواد او په سلهاوو قسمه تولیدات یا پیداوار؟مطلب دا چې:په یو باغ کې یو قسم خاوره،یوقسم اوبه او یو قسم هوا وي،لیکن په باغ کې په سلهاوو قسمونه ګلان وي چې هر یو مختلف رنګ او شکل لرې،مختلف بوټې او د مختلفو میوو ونې چې د هرې ونې مختلفه میوه او مختلف خوند وي،حال دا چې ټول د یو قسم موادو څخه جوړیږي،که د ټولې دنیا ساینسدانان راټول شي،دا خو پریږده چې د یو قسم موادو څخه به مختلف نباتات جوړ کړي، بلکې د یو ډېر ساده ګل په شان ګل به هم نه ډیزاین کړي او نه به یې د قیامت پورې څوک جوړ کړي، څومره د افسوس خبره ده په کوم ځای کی چه ساینس خپله عاجزې منې او څه نشي ویلای ،لیکن هلته به ملحید ساینسدان نه خپله عاجزې منې او نه به چپ پاتي کیږي، او داسې خبره به پرته د کوم علمې تحقیق او عقلې دلیل نه کوې چه عذر د ګناه نه بدتر، دا صرف د دې دپاره چه خبره د الله تعالی نه چپه کړي.یعنې په هر ځای کې چه د خالق د نوم د لیکلو ضرورت وي ملحیدین به هلته یا نیچر یا چانس یا پخپله او یا د میوټیشن الفاظ لیکي.یعنې په عوض د دې چه د خالق نوم ولیکي چه دا کار خالق یا کریټر کوي دوی به د خالق د نوم په

ځای کی یا نیچر او یا چانس او یا د پخپله لفظ لیکي په دې مطلب چه دا
کار نیچر کوي یا یی چانس کوي یا پخپله کیږي،او بیا ځومره د حیرانتیا
او شرم خبره ده چه هغه ساینسدانان چه موحدین دي او خالق مني دوی به
هم په پټو سترګو د ملحیدو ساینسدانانو تقلید کوي او په هر ځای کی چه
ملحیدینو د خالق په ځای نیچر ،پخپله او یا د چانس الفاظ لیکلي وي دوی
به یی هم په ړندو سترګو تایئدوي ،ډیره عجیبه ده چه ملحید ساینسدانان د
خالق په ځای کي د خالق د نوم په ځای د نیچر او د چانس د الفاظو د
لیکلو جرأت کولای شي ،سره د دې چه هیڅ عقلي،علمي او منطیقي
ثبوت او دلیل هم نلري.مګر موحیدین یا هغه ساینسدانان چه په خالق یا
کریټر باندې عقیده هم لري،خو دوی د خالق یا کریټر په ځای کي د خالق
د نوم د لیکلو جرأت نه کوي ،چي په غیري مستقیم ډول د دې مطلب دا
کیدای شي چي یا خو دوی د الله تعالی په نوم لیکلو باندې شرمیږي، او یا
خو ورته داسي کول غلط ښکاري،او یا خو دومره د ملحدینو د تاثیر
لاندې دي چي د هغوی غلط دلایل ورته صحیح او خپل صحیح دلایل
ورته غلط ښکاري ، سره ددی چه زیات عقلي،علمي او منطیقي ثبوتونه
او دلایل هم د همدې موحیدینو ساینسدانانو سره دي. دوی به د حشر په
میدان کی د دې جرم الله تعالی ته څه جواب ورکوي؟

وَجَعَلُواْ لِلَّهِ شُرَكَآءَ ٱلْجِنَّ وَخَلَقَهُمْۖ وَخَرَقُواْ لَهُۥ بَنِينَ وَبَنَٰتِۭ بِغَيْرِ عِلْمٍۚ سُبْحَٰنَهُۥ
وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يَصِفُونَ ۱۰۰

وَجَعَلُواْ　او(د الله تعالی د توحید د دومره ثبوتونو او دلایلو سره-سره بیا
هم مشرکان) ګرځوي　لِلَّهِ　الله تعالی ته　شُرَكَآءَ　شریکان　ٱلْجِنَّ
پیریان(یعني پیریان د الله تعالی سره شریک ګڼي)　وَ　حال دا چي
خَلَقَهُمْۖ　هغوی(یعني پیریان هم) هغه «جل جلاله» پیدا کړي دي.

وَخَرَقُواْ او په دروغو نسبت کوي لَهُۥ هغه «جل جلاله» ته بَنِينَ دځامنو وَبَنَٰتِۢ او لورګانو بِغَيۡرِ عِلۡمٖۚ پرته د پوهې(یعني د جهالت او ناپوهۍ په سبب الله تعالی ته د ځوی او لور نسبت کوي) سُبۡحَٰنَهُۥ پاک دی هغه جل جلاله(د داسې خبرو څخه چې کافران یې وایې چې:د الله تعالی ځامن او لورګانې شته دی او پیریان ورسره په خدایۍ کې شریک دي) وَتَعَٰلَىٰ او اوچت دی(شان د الله تعالی) عَمَّا د هغو (بدو خبرو او صفتونو) څخه يَصِفُونَ چې دوی یې منسوبوي(الله تعالی ته) ۱۰۰

بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُۥ وَلَدٞ وَلَمۡ تَكُن لَّهُۥ صَٰحِبَةٞۖ وَخَلَقَ كُلَّ شَيۡءٖۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ۱۰۱

بَدِيعُ (الله تعالی پرته د نمونې نه) د عدم څخه پیدا کوونکۍ دی ٱلسَّمَٰوَٰتِ د آسمانونو وَٱلۡأَرۡضِۖ او د ځمکې(یعني هیڅ شی نه و،د عدم او نشت په تیارو کې د الله تعالی د «کُن» د لفظ څخه کائنات په اول کې سره نښتي د یوې کتلې په شکل پیدا شول،او بیا الله تعالی ځمکه او آسمانونه سره بیل کړل،او په دوامدار ډول ئې لویوي،دا د ساینس او ساینس پوهانو د دې سوال جواب دی،چې:د بیګ بینګ سینګولاریټې یا د کائناتو لومړنی کتله څنګه منځ ته راغلې ده؟خو نه یې تر اوسه پورې د دې سوال جواب پیدا کړئ دي،او نه به یې د قیامت پورې پیدا کړي،ځکه چې دوی دا جواب په ساینس کې لټوي،لیکن ساینس دې سوال ته جواب نشي ویلای،ځکه چې ساینس او فزیک د مادي دنیا څخه دباندې کار نه شي کولای،دا په دې معنی چې ساینس فقط د سینګولاریټې یا اولنۍ کتلې پورې رسیږي،صرف دومره وایې چې اول کې یوه سینګولاریټې یا یوه کتله موجود وه،لیکن د اولنۍ کتلې نه نور غیرې مادي دنیا ته نشي تیریدلای،ځکه چې هلته یې نه قوانین کار کوي او نه یې سترګې،نو ځکه به هیڅکله هم ساینس دې سوال

ته جواب ورنكړي چې كاينات په اول كې سره نښتي د يوې كټلې په شكل
څنګه منځ ته راغلي و؟د دې سوال جواب يوازې د وحې علم يعنې
قرآنكريم وركولاى شي چې:دا لومړنۍ كټله(سنګولاريټي) الله تعالى پيدا
كړه، بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ،او د بيګ بينګ انفجار الله تعالى
وكړو(يعنې ځمكه او آسمانونه يې سره بيل، أَوَلَمۡ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ كَانَتَا رَتۡقٗا فَفَتَقۡنَٰهُمَاۖ آيا كافران نه پوهيږي
چې:آسمانونه او ځمكه سره يو ځاى نښتي و بيا مونږ. مونږ.
بيل«جدا»كړل) أَنَّىٰ يَكُونُ څنګه به وي لَهُۥ هغه «جل جلاله» ته
وَلَدٞ اولاد وَ حال دا چې لَمۡ تَكُن نشته لَّهُۥ د هغه «جل جلاله»
صَٰحِبَةٞۖ ښځه وَخَلَقَ او هغه «جل جلاله» پيدا كړئ دى كُلَّ شَيۡءٖۖ
هر شى(يعنې په كائناتو كې هر شى مخلوق دى،او الله تعالى خالق دى،دا
په دې معنى چې د الله تعالى تعلق په كائناتو كې د هر چا او هر شي سره
صرف د خالق او د مخلوق تعلق دى،نه ئې څوک ځوى دى،نه ئې څوک
لور او ښځه ده،او نه ئې څوک شريک دى) وَهُوَ او هغه «جل جلاله»
بِكُلِّ شَيۡءٍ په هر شي باندې عَلِيمٞ پوه دى. ١٠١

ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖ فَٱعۡبُدُوهُۚ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ
وَكِيلٞ ١٠٢

ذَٰلِكُمُ همدغه(ذات چې ځمكه او آسمانونه يې د نشت او عدم څخه پيدا
كړي دي،او ځوى،لور او ښځه ئې نشته دى) ٱللَّهُ الله تعالى دى رَبُّكُمۡۖ
رب ستاسو لَآ نشته إِلَٰهَ لايق د عبادت(نشته معبود) إِلَّا پرته هُوَۖ
د هغه «جل جلاله» نه خَٰلِقُ پيدا كوونكئ كُلِّ شَيۡءٖ د هر شى(يعنې
انسانان،پيريان،فريشتې،بتان او نور ټول شيان الله تعالى پيدا كړي او د الله
تعالى مخلوق دى) فَٱعۡبُدُوهُۚ نو يوازې د هغه «جل جلاله» عبادت

کوئ(او هيڅوک او هيڅ شی ورسره مه شريکوئ) وَهُوَ او هغه «جل جلاله» عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ په هرشي باندې وَكِيلٌ نګران(ساتونکئ) دی.۱۰۲

لَّا تُدْرِكُهُ ٱلْأَبْصَٰرُ وَهُوَ يُدْرِكُ ٱلْأَبْصَٰرَ ۖ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلْخَبِيرُ ﴿۱۰۳﴾

لَّا تُدْرِكُهُ هغه (جل جلاله) نشي ليدلای(يعنې د هغه «جل جلاله» د ليدلو احساس نشي کولای) ٱلْأَبْصَٰرُ نظرونه(يعني د انسانانو د باصرې حس يا د ليدلو سيستم نشي کولای چې الله تعالی وګورې او يا يې د ليدلو احساس وکړي،ځکه چې د انسانانو د ليدلو حس يا سيستم الله تعالی د مادې څخه صرف د مادې شيانو د ليدلو دپاره جوړ کړئ دی،هغه هم په ډېرو محدودو او دقيقو اندازو کې ليدل کولای شي،او د غيرې مادې شيانو د ليدلو استعداد او قوت په کې الله تعالی نه دی ايښئ ،چون د الله تعالی ذات د مادې جوړښت څخه پاک دی يعنې د مادې څخه نه دی جوړ شوئ،نو لهذا په دنيا کې د ليدلو په دې مادې سيستم يعني مادې سترګو باندې هيڅوک الله تعالی نشي ليدلای.) وَهُوَ حال دا چې هغه «جل جلاله» يُدْرِكُ ٱلْأَبْصَٰرَ ۖ (د انسانانو) نظرونه(هم) ګورې(مطلب دا چې الله تعالی هغه نظرونه چې انسانان يې پخپله نشي کتلای،هم ګورې،وضاحت ته توجه وکړئ:انسان په هغه وخت کې يو شی کتلای شي،چې اول رڼا يا نور په هغه شي ولږيږې،او بيا د هغې شي څخه د انسان سترګو ته منعکس شي،يعنې د انسان سترګو ته راشي،نو همدا رڼا يا نور د هغه شي تصوير سترګو ته راوړي،ليکن سترګې په دې شرط نوموړي تصوير نيسې او د باصرې د سيستم نورو برخو ته يې رسوې چې:کومه رڼا يا نور چې دا تصوير سترګو ته راوړې،د هغې د امواجو يا موجو طول بايد د 380 او760 نانو ميتر په منځ کې وي،يعنې بايد چې نه

يې طول د 380 نانو ميټر څخه کم وي،او نه د760 نانو ميټر څخه زيات
وي،او که چيرته کم يا زيات وی نو د باصرې حس يا د ليدلو سيستم يې
نه قبلوې،او مونږ شی نه شو ليدلای،بايد پوه شو چې يو نانو ميټر د يو
متر بيليونمه يعني ميلياردمه برخه ده،چې د دې څخه اوس پوهيدلای شو
چې کوم نور چې مونږ ته د شی تصوير راوړې،هغه دومره نری او
باريک دی چې مونږ يې تصور هم نشو کولای،او نه يې د عادې
ميکرسکوپونو پواسطه ليدلای شو،اوس خپل مطلب او آيت ته
راځو:مطلب دا چې الله تعالی د نور هغه نرې او باريک امواج هم ګورې
چې سترګو ته د شيانو تصويرونه راوړي چې طول يې د 380 او760
نانو ميټرونو په منځ کې دی. وَهُوَ او هغه «جل جلاله» ٱللَّطِيفُ ډېر
باريک بين ٱلْخَبِيرُ باخبره دی. ١٠٣

قَدْ جَآءَكُم بَصَآئِرُ مِن رَّبِّكُمْ ۖ فَمَنْ أَبْصَرَ فَلِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَنْ عَمِىَ فَعَلَيْهَا ۚ وَمَآ أَنَا۠
عَلَيْكُم بِحَفِيظٍ ١٠٤

(ای محمد«صلی الله عليه وسلم»ووايه دوی ته)

قَدْ په تحقيق سره جَآءَكُم راغلي دي تاسو ته بَصَآئِرُ عقلي روښانه
دلايل مِن رَّبِّكُمْ ۖ د طرف نه د رب د ستاسو فَمَنْ نو څوک چې
أَبْصَرَ ووينې( حق په دغه روښانه دلايلو سره او ايمان راوړې)
فَلِنَفْسِهِۦ ۖ نو(ګټه يې) خپل ځان ته ده وَمَنْ او څوک چې عَمِىَ ړوند
شو(يعنې د نفسې خواهيشاتو په سبب يې ځان ړوند او کوڼ کړو په دې
دلايلو،او ايمان يې رانوړو.) فَعَلَيْهَا ۚ نو وبال (او ګناه يې هم)په هغه
باندې ده وَمَآ أَنَا۠ او نه يم زه عَلَيْكُم په تاسو باندې بِحَفِيظٍ
ساتونکی(چې ستاسو اعمال به ساتم،بلکې زما مسؤليت تاسو ته د الله
تعالی پيغام رسول دي) ١٠٤

وَكَذَٰلِكَ نُصَرِّفُ ٱلْـَٔايَـٰتِ وَلِيَقُولُوا۟ دَرَسْتَ وَلِنُبَيِّنَهُۥ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ١٠٥

وَكَذَٰلِكَ او همدارنګه نُصَرِّفُ مونږ(بيل-بيا په مختلفو طريقو) په تفصيل سره بيانوو ٱلْـَٔايَـٰتِ آياتونه خپل(دپاره د عبرت او پند اخستلو) وَلِيَقُولُوا۟ او د دې دپاره چې(شايد) هغوى(يعني كافران) ووايي دَرَسْتَ چې تا دا (خبرې د اهل كتابو نه)زده كړي دي. وَلِنُبَيِّنَهُۥ او د دې دپاره چې واضح بيان كړو مونږ دا(قرآن) لِقَوْمٍ د هغو خلكو دپاره يَعْلَمُونَ چې پوهيږي. ١٠٥

ٱتَّبِعْ مَآ أُوحِىَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ۖ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ وَأَعْرِضْ عَنِ ٱلْمُشْرِكِينَ ١٠٦

ٱتَّبِعْ پيروي كوه ته(اى محمد«صلى الله عليه وسلم») مَآ د هغې(قرآن) أُوحِىَ چې وحې شوئ دى (چې نازل شوئ دى) إِلَيْكَ تا ته مِن رَّبِّكَ ۖ ستا د رب د طرف نه لَآ نشته إِلَـٰهَ لايق د عبادت(معبود) إِلَّا مګر هُوَ ۖ هغه «جل جلاله»(معبود او لايق د عبادت دى) وَأَعْرِضْ او مخ واړوه عَنِ ٱلْمُشْرِكِينَ د مشركانو نه(يعني د مشركانو د بې ځايه اعتراضونو او چټې خبرو پروا مه كوه ،ته خپل تبليغ كوه او د الله تعالى پيغام ورسوه،كه هغوى يې منې او كه نه يې منې،ايمان راوړي او كه يې نه راوړي،دا ستا مسؤليت نه دى،ستا مسؤليت صرف تبليغ كول دي،دا حكم د ټولو مسلمانانو دپاره دى) ١٠٦

وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَآ أَشْرَكُوا۟ ۗ وَمَا جَعَلْنَـٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا ۖ وَمَآ أَنتَ عَلَيْهِم بِوَكِيلٍ
١٠٧

وَلَوْ شَآءَ او كه اراده فرمايلې وه ٱللَّهُ الله تعالى( د شرک د نه كولو د دوى،نو) مَآ أَشْرَكُوا۟ ۗ دوى به شرک نه و كړئ ( ليكن الله تعالى داسې نه كوي،نه په چا باندې په زوره ايمان راوړي،او نه څوک په زوره كافر

کوي،دا اختيار الله تعالی په خپله بندګانو ته ورکړۍ دی،ځکه چې الله
تعالی انسانان د امتحان دپاره دنيا ته رالېږي،او د امتحان په سوالونو
باندې د پوهيدلو،او حلولو دپاره يې ورته کتابونه او معلمان رالېږلي
دي،او په کتابونو او د معلمانو په خبرو باندې دپوهيدلو دپاره ئې عقل،علم
او فطرت ورکړي دي،نور نو د انسان خپله خوښه ده چې صحي سوالونه
حلوي که غلط، او که سپيني پرچې ورکوي،کفر کوي او که ايمان
راوړي؟نتايج يا نتيجه په آخرت يعني د قيامت په ورځ د حشر په ميدان
کې اعلانيږي،کاميابان به جنت او ناکامان به دوزخ ته ځي.) وَمَا جَعَلْنَـٰكَ
او نه ئې ګرځولۍ مونږ ته عَلَيْهِمْ په دوی باندې(يعني کافرانو باندې)
حَفِيظًاۖ ساتونکۍ(يعني چې ته به د هغوی د اعمالو ساتنه کوي،بلکې ستا
کار صرف دوی ته قرآن رسول او پوهول دي،نور د دوی خپل اختيار
دی چې پيغام مني او که نه. وَمَآ أَنتَ او نه ته عَلَيْهِم په دوی باندې
بِوَكِيلٍ نګران (او ذمه وار) ئې(چې دوی په زوره مجبور کړي چې ايمان
راوړي) ۱۰۷

وَلَا تَسُبُّواْ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ فَيَسُبُّواْ ٱللَّهَ عَدْوًۢا بِغَيْرِ عِلْمٍۗ كَذَٰلِكَ زَيَّنَّا
لِكُلِّ أُمَّةٍ عَمَلَهُمْ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِم مَّرْجِعُهُمْ فَيُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ۱۰۸

وَلَا تَسُبُّواْ او تاسو کنځلې مه کوئ ٱلَّذِينَ هغو(غلطو معبودانو) ته
يَدْعُونَ چې هغوی(يعني مشرکان)يې عبادت کوي مِن دُونِ ٱللَّهِ پرته د
الله تعالی څخه (هسې نه چې) فَيَسُبُّواْ هغوی(يعني مشرکان هم) کنځلې
وکړي ٱللَّهَ الله تعالی ته عَدْوًۢا په سبب د دښمنۍ بِغَيْرِ عِلْمٍۗ په
ناپوهۍ سره كَذَٰلِكَ همدارنګه زَيَّنَّا ښايسته کړي دي مونږ لِكُلِّ أُمَّةٍ
د هرې ډلې دپاره عَمَلَهُمْ عملونه د هغوی(يعني هغوی ته خپل غلط
معبودان او د هغوی عبادت کول دومره ښايسته او ښه ښکارېږي،چې دفاع

ورځخه هم كوي) ثُمَّ بیا به إِلَىٰ رَبِّهِم خپل رب ته مَّرۡجِعُهُمۡ
ورګرځيدل وي د هغوی(ورتلل وي د هغوی) فَيُنَبِّئُهُم نو بیا به هغه
«جل جلاله»خبر كړي هغوی بِمَا په هغو (مشركانه اعمالو)باندې
كَانُواْ يَعۡمَلُونَ چې هغوی به كول(په دنيا كې) ١٠٨

وَأَقۡسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡ لَئِن جَآءَتۡهُمۡ ءَايَةٞ لَّيُؤۡمِنُنَّ بِهَاۚ قُلۡ إِنَّمَا ٱلۡأٓيَٰتُ عِندَ
ٱللَّهِۖ وَمَا يُشۡعِرُكُمۡ أَنَّهَآ إِذَا جَآءَتۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ١٠٩

وَأَقۡسَمُواْ او هغوی(یعنې مشركانو او كفارو) قسمونه وخوړل( بِٱللَّهِ په الله تعالی باندې جَهۡدَ ډېر سخت أَيۡمَٰنِهِمۡ قسمونه د هغوی(د مشركانو ډېر سخت قسم به هغه و چې صرف یوازې په الله به یې خوړلو،نو په الله یې قسمونه وخوړل،او د نبي علیه السلام څخه یې غوښتنه وكړه چې:) لَئِن كه چیرته جَآءَتۡهُمۡ راشي هغوی ته ءَايَةٞ (داسې) یوه معجزه(چې د هغوی په خوښه وي،یعنې مشركانو د نبی علیه السلام نه غوښتې و چې:یا د صفا غونډۍ ورته د سرو زرو كړې ،یا د مكې څخه غرونه لرې كړې،یا په مكه كې د اوبو چینې رواني كړې،نو) لَّيُؤۡمِنُنَّ دوی به خامخا ایمان راوړي بِهَاۚ په هغې باندې(یعنې د معجزې او نبي علیه السلام تصدیق به وكړي،نو الله تعالی ته خو داسې كول ډېر اسان دي،لیكن الله تعالی ته خو د دوی زړونه او نیتونه معلوم و، چې دوی واقعاً دا خبرې د ایمان راوړلو دپاره نه كولې،بلكې د ټوقو او مسخرو نه یې كولې،نو ځكه الله تعالی نبي علیه السلام ته وفرمایل چې:) قُلۡ (ورته) ووایه إِنَّمَا ٱلۡأٓيَٰتُ چې بېشكه معجزې عِندَ ٱللَّهِۖ د الله تعالی په اختیار كې دي(یعنې ستاسو د خوښې معجزې زما په اختیار كې نه دي. مؤمنانو هم دا خواهش و چې الله تعالی دا معجزات راولیږي،كیداى شي چې دا خلك ایمان راوړي،نو فرمایې:) وَمَا يُشۡعِرُكُمۡ او(اى مؤمنانو)

تاسو ته څه معلومه ده (دا داسې بدبخته خلک دي) أَنَّهَآ چې بېشکه
دا(معجزې چې دوی يې غواړي،که چيرته ورته) إِذَا جَآءَتْ کله
راشي(يعنې که د دوی د خوښې معجزې هم دوی ته راشي،بيا هم) لَا
يُؤْمِنُونَ دوی ايمان نه راوړي. ۱۰۹

وَنُقَلِّبُ أَفْـِٔدَتَهُمْ وَأَبْصَـٰرَهُمْ كَمَا لَمْ يُؤْمِنُوا۟ بِهِۦٓ أَوَّلَ مَرَّةٍۢ وَنَذَرُهُمْ فِى طُغْيَـٰنِهِمْ
يَعْمَهُونَ ۱۱۰

وَنُقَلِّبُ او اړوو مونږ أَفْئِدَتَهُمْ زړونه د دوی(يعنې د دوی د کفر او
سرکشۍ په سبب د دوی زړونه د حق د قبلولو څخه اړول کيږي)
وَأَبْصَـٰرَهُمْ او(اړوو مونږ) سترګې د دوی(يعنې د دوی د کفر او سرکشۍ
په سبب د دوی سترګې د حق د ليدلو څخه اړول کيږي،نو ايمان نه
راوړي) كَمَا لَمْ يُؤْمِنُوا لکه څنګه چې ايمان يې نه دی راوړی بِهِۦٓ په
هغه(نورو معجزاتو باندې) أَوَّلَ مَرَّةٍۢ په اول ځل وَنَذَرُهُمْ او پرېږدو
مونږ دوی فِي طُغْيَـٰنِهِمْ په خپله سرکشۍ کې يَعْمَهُونَ حيران(او
سرګردانه)به وي. ۱۱۰

بايد پوه شو چې:

د الله تعالی د حکمونو نه انکار او نه منل کفر دی،کله چه بنده د الله تعالی
د حکم خلاف کار يعنی عمل وکړي نو کفر او ګناه يې وکړه،چه د دي
ګناه په سبب په زړه کې يو تور داغ جوړيږي،مګر که توبه وباسي نو
بيرته لرې کيږي.خو که توبه ونه ويستل شي نو دا تور داغ پخپله نه لرې
کيږي او پاتې کيږي،نو که بنده بيا دوباره ګناه وکړي،د مخکې په شان بيا
په زړه کې بل تور داغ جوړيږي چه بيا هم د توبې په واسطه د منځه ځي
خو که توبه ونه ويستل شي دا تور داغ هم پاتې کيږي،او زړه ورو ورو
سختيږي،او که کفر او ګناه کول همداسې دوام وکړي او توبه ونه ويستل

شي ،بالآخره یو وخت راځي چې ټول زړه تک تور او دومره سخت شي،چې نور نو د هدایت رڼا دننه نه ورننوځي،نصیحت او دعوت ورباندې اثر نه کوي ،او کله چې د بنده زړه دې مرحلې ته ورسیږي،هغه نور ایمان نه راوړي.د زړه دا سخت او کلک حالت په قرآن شریف کې په لسو(۱۰) لقبونو سره یاد شوئ دی چې د دغو لسو لقبونو څخه یو لقب ختم(مهر)دی چې:د دوامداره کفر او ګناه کولو په سبب په زړه لړول کیږي ،یعنی د دوامداره ګناه کولو او کفر په سبب د بنده په زړه مُهر لړول کیږي،نه دا چې بنده څکه کفر او ګناه کوي چې د هغه په زړه مُهر لړیدلئ دی.لکه چې په همدې موضوع باندې په بل ځای کې فرمائې: بَلْ طَبَعَ اللَّهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ (سورةالنساء آیت ۵۵)ترجمه:بلکې مهر لګولئ دی الله تعالی په(زړونو)د دوی باندې په سبب د کفر د دوی.